# د امام مهدی حکومت ته یو نظر

لیکوال: علامه نجم الدين طبسي
ژباړه: سرفراز علی مهدی

Download from:aghalibrary.com

## سریزه

د شوش دانیال سیمه تازه د بعثي کافرانو له لاسه خلاصه شوې وه خلک ورو و رو او لږ لږ ښار ته راستنیدل، ما چې په هغه وخت کې په مجاهدینو کې په خپلې موجودګۍ باندې ډیر ویاړ کاوه په دې فرصت کې مې د دې ښار په تاریخې جومات کې د امام مهدي علیه السلام په هکله د علامه مجلسي د لیکلي کتاب بحار الانوار په اساس بحثونه بیان کړل.

په هغه وخت کې مې دې خبرې ته پام ؤ چې که څه هم د امام مهدي علیه السلام په هکله ډول ډول بحثونه لکه د هغه د عمر ا وږدوالی، د غیبت فلسفه، د ظهور کولو عوامل او داسې نور بیان شوي دي خو د امام علیه السلام د پاڅون د څرنګوالي په هکله، د هغه د حکومت نظام او د هغه حضرت د حکومت کولو دطریقو په هکله لکه څرنګه یې چې حق دی بیان نه دی شوی له همدې امله مې اراده وکړه چې په دې هکله یو تحقیق وکړم کیدای شي د هغو پوښتنو لپاره چې د ډیرو خلکو په ذهنونو کې دي، ځوابونه پیدا کړم.

له هغو یوه پوښتنه چې د ډیرو انسانانو په ذهن کې پیدا شوي ده دا ده چې امام مهدي علیه السلام به څرنګه دا ګډوډ سیاسی نظامونه او ډول ډول نظریې لرونکي سیاسی طاقتونه له مینځه وړي او یو واحد نظام به په نړۍ واکمنوي؟

د هغه د حکومت پروګرامونه څنګه دي چې په هغه کې به نه ظلم او زیاتی وي او نه به په نړۍ کې فساد وي تر دې چې یو کس به هم وږی او فقیر نه پیدا کیږي؟

د دې پوښتنو د ځواب د پیدا کولو لپاره ما څلور کاله تحقیق او څیړنې وکړې او د هغه پایله همدا شوه چې د کتاب په شکل کې ستاسو محترمو لوستونکو مخ ته دی

د دې کتاب په لومړۍ برخې کې د امام علیه السلام له ظهوره مخکښې زمانې حالت چې دنیا له جنګ او جګړو ، ویجاړي او قحطي، مرګونه او ناروغۍ، ظلم او زیاتی، ناامني او تیرو څخه ډکه وه، څیړلي شوی، او نتیجه اخستل شوې ده چې د هغه وخت خلک به له مختلفو مذهبونو او ډول ډول حکومتونو -چې هر یو یې

د بشري حقوقو د خیال ساتنې، د انسان د خوشبختۍ او د هغوي د نجات دعوا لرلې ده، مایوس شوي ، د دنیا له ګډو وډو حالاتو څخه ناامیده شوي او د یو داسې مصلح کس د راڅرګندېدو په انتظار وي چې هغوی ته نجات ورکوونکی وي.

د کتاب دویمه برخه د امام مهدي علیه السلام د نړیوال پاڅون او انقلاب څرنګوالی بیانوي، هغه غورځنګ چې د کعبې ترڅنګه به د هغه حضرت په اعلان سره شروع

کیږي. له ټولې دنیا څخه به د هغهٔ حقیقي ملګري او پیروکار له هغهٔ سره یو ځای کیږي، د قوماندانۍ کمېټې او یونټونه به جوړیږي، لښکریان به منظم کیږي،قوماندانان به ټاکل کیږي او په پراخه سطح به عملیات شروع کیږي.
امام مهدي علیه السلام به د دې لپاره ظهور کوي چې له معاشرې څخه د ظلم او ظالم جرړې وباسي، دغه معاشره او ټولنه به یوازې د حجاز، مېنځنۍ ختیځ یا اېشیا پورې محدوده نهٔ وي بلکې ټوله دنیا به پکښې شاملیږي. د یوې داسې معاشرې او ټولنې اصلاح چې له ظلم او فساد نه ډکه وي ډېر ګران کار دی د هغې دعوا کوونکی به خا مخا یوه لویه معجزه ولري او دغه معجزه به د هغهٔ په لاسو نو ترسره کیږي.
د کتاب دریمه برخه د اخري امام حکومت ته اشاره کوي. هغه حضرت به له ظلم اوفساد نه د ډکې دنیا د چارو د چلولو او د اسلام د واکمنۍ د ټینګولو لپاره د خپلې زمانې له توانمنو او تکړه یارانو او له سلف صالحینو څخه د حضرت عیسی علیه السلام حضرت صالح علیه السلام حضرت سلمان فارسي (رض) او حضرت مالک اشتر (رض) په شان مشرانو څخه یو مضبوط او ګټور حکومت جوړوي. که څه هم د ظلم او جور حکومتونو په ختمولو کښې د هغوي په رول سترګې نهٔ شو پټولی خو د دنیا په بیا رغولو او اصلاح کولو کښې د هغو اصلي رول د امام مهدي علیه السلام په نړیوال حکومت کښې دی.
هغه څه چې په دې سریزه کښې په لنډه توګه ذکر شول د شیعه او سني له لسګونو کتابونو څخه په استفادې او د سلګونو روایتونو په څېړنې سره په تفصیلي او مستدله توګه په دې کتاب کښې راغلي دي.
امید دی چې دا کتاب چې د آل محمد صلی الله علیه و آله وسلم د پراخه عدالت او انصاف له ظهور نه پس د اسلامي ټولنې پس منظر یې که څه هم په نیمګړې توګه ؛ بیان کړی دی د زمانې د امام په در کښې د قبول وړ او د دنیا د مسلمانانو او حقیقي انتظار کوونکو داستفادې وړ وګرځي او هغوي د هغه حضرت د راتګ د زمینې د برابرولو لپاره تیار کړي.
له پاک ربه غواړو چې د اسلامي نړۍ ستر مرجع امام خمیني (رح) دې چې د امام مهدي علیه السلام د حکومت یوه جلوه یې په ایران کښې مونږ ته وښودله له انبیاکرامو او معصومینو علیهم السلام سره محشور کړي او د اهلبېتو علیهم السلام د حکومت خادمان دې کامیاب او په خپل حفظ او امان کښې وساتي. دلته د څو مهمو ټکو ذکر کول ضروري ګڼو:

۱- مونږ دا دعوا نهٔ لرو چې په دې کتاب کښې به مو څه نوې خبره وړاندې کړې وي، ځکه چې روايتونه يې تېرو عالمانو راغونډ کړي دي او په ځينو مواردو کښې يې نتيجه هم اخېستې ده ، خو د دې کتاب خصوصيت دا دی چې پکښې دا کوشش شوی دی چې له خاصو اصطلاحاتو او مذهبي اختلافاتو نه ورهاخوا يو لړ مضامين په نوي ، ساده او د عامو خلقو د پوهې وړ قالب کښې وړاندې کړو.

۲- هغه مطلب اخېستنې چې له روايتونو څخه يې بڼه نيولې او د استناد په ځای نهٔ دي ورکړې شوي د کتاب د ليکوال خپل نظر دی ، نو له دې امله کېدې شي په لا زياتې ځېرنې ، تحقيق او د روايتونو له يو بل سره په پرتله کولو کښې لا نورې مطلب اخېستنې ترلاسه شي.

۳- همدا رنګ دا دعوا هم نهٔ لرو چې په دې کتاب کښې د استناد وړ بيان شوي ټول روايتونه صحيح او له څه کړکېچ څخه پاک دي بلکې کوشش دا شوی دی چې هغه څه چې معتبرو محدثانواو مولفانو په خپلو کتابونو کښې راوړي دي نقل شي. همدا رنګ بې له يو شمېر مواردو د يوې برخې روايتونو سند مو نهٔ دی راوړی ځکه چې د هغو د نفي او اثبات په لټه کښې نهٔ وو. پر دې سربېره چې په زياترو مواردو کښې په اجمالي تواتر سره د روايتونو په صادريدو غوڅ يقين پېدا کوو. په خاصه توګه په هغو روايتونو کښې چې د اهلبېتو عليهم السلام له لارې رارسېدلي دي.

۴- د دې کتاب روايتونه د معجم احاديث الامام المهدي عليه السلام کتاب له تاليف اوتدوين نه مخکې راغونډ کړې شوي دي نو په دې وجه په دې لړ کښې د لا زيات تحقيق کولو غوښتونکي هغه کتاب ته چې بحمدالله له دې کتاب نه وروسته د هغهٔ په راغونډولو ، تاليفولو او نشرولو کښې کامياب شوم ارجاع کوو.

۵- په زياترو روايتونو کښې د الساعه او القيامه کلمات د امام مهدي عليه السلام په ظهور سره تفسير شوي دي. نو په دې وجه هغه روايتونه چې د الساعه او القيامه د شرائطو يا علامتونو په توګه راغلي دي په دې کتاب کښې د ظهور د علامتونو په توګه راوړلې شوې دي.

۶- د کتاب ځينې مضامين لا زيات تحقيق ته ضرورت لري، که څه هم کوشش شوی دی چې د هغو په حقله وضاحت ورکړی شي. اميد دی چې د خدای په فضل سره به کتاب په نورو چاپونو کښې په لا زيات تحقيق سره خپور کړو.

په اخر کښې د «من لم يشکر المخلوق لم يشکر الخالق» په مصداق سره ضروري ګڼم چې د هغو ورونو او دوستانو په تېره بيا د لارښوونو لپاره د دوو قدرمنو ورونو حجت

الاسلام جواد او حجت الاسلام محمد جعفر طبسي او د کتاب د مضامينو د بيا ليکلو او تنظيمولو لپاره د حجت الاسلام علي رفيعي او حجت الاسلام محمد حسېني شاهرودي مننه او قدرونه وکړم.

نجم الدين

طبسي

قم-

۱۳۷۳ هجري نمريز کال

# وړومبی باب
## حکومت

د دینونو او مکتبونو قوانین هغه وخت په ټولنه کښې اجرا کیږي چې حکومت یې ملاتړ وکړي. له دې امله هره ډله د خپلو اهدافو د اجرا لپاره د حکومت د ترلاسه کولو په لټه کښې ده. اسلام هم چې تر ټولو لوړ اسماني دین دی د یو اسلامي حکومت د جوړولو په لټه کښې ؤ او د حق د حکومت رامنځته کول او د هغۀ حفاظت تر ټولو لویه فریضه ګڼي.

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم خپل ټول کوششونه د اسلامي حکومت د جوړولو لپاره په کار واچول او په مدینه منوره ښار کښې یې د هغۀ د بنیاد په اېښودو باندې لاس پورې کړ. د هغه حضرت له رحلت نه وروسته که څه هم معصومو امامانو علیهم السلام او عالمانو د اسلامي حکومت د جوړولو آرزو لرلې وه خو د ګوتې شمېر مواردو نه بغېر الهي حکومتونه نۀ وو او د حضرت امام مهدي علیه السلام د ظهور تر وخته پورې به هم زیاتره حکومتونه باطل وي.

په هغو روایتونو کښې چې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم او معصومو امامانو علیهم السلام څخه تر مونږه رارسېدلي دي د امام مهدي علیه السلام له پاڅون نه مخکښې د حکومتونو عام پس منظر وړاندې شوی دی چې ځینو مواردو ته پکښې اشاره کوو:

**الف: د حکومتونو ظلم:**

یوه مسئله چې انساني ټولنه د امام علیه السلام له ظهور نه مخکښې کړوي، بې انصافي او ظلم دی چې د حکومتونو لخوا له خلقو سره کیږي. د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په دې حقله فرمائي: «زمکه به له ظلم او بې انصافۍ څخه ډکیږي ان تردې چې هر کور ته به ویره او جنګ داخلیږي.»[1]

امام علي علیه السلام فرمائي: «زمکه به له ظلم او بې انصافۍ څخه ډکیږي، ان تردې چې ویره او ترهه به هر کور ته ننوځي.»[2]

امام باقر علیه السلام فرمائي: «حضرت قائم علیه السلام به قیام ونکړي مګر له وېرې او ترهې څخه په ډک دوران کښې.»[1]

---

١ - ابن ابي شیبه، مصنف ۱۵ ټوک ۸۹ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک ۵۸۴ مخ.

٢ - کنزالعمال ۱۴ ټوک ۵۸۴ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک، ۳۱۷ مخ.

دغه ويره او ترهه هغه څيز دی چې په غالبه توګه د نړۍ د ظالمو او خپل سريو حکومتونو څخه سرچينه اخلي، ځکه چې د هغه حضرت له ظهور نه مخکښې به ظالمان په نړۍ باندې واکمني کوي.

امام محمد باقر عليه السلام په دې حقله فرمائي: ((مهدي عليه السلام به هغه وخت ظهور کوي چې د ټولنې د چارو واګې د ظالمانو په لاسو کښې وي.))[2]

ابن عمر وائي: يو شرافتمن او مال او اولاد لرونکی کس به (په آخرالزمان) کښې د هغو تکليفونو او مصيبتونو له لاسه چې د واکمنانو لخوا يې زغمي د مرګ آرزو کوي.))[3]

د پام وړ ټکی دا دی چې د خدای دګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم پېروکار يوازې د پرديو طاقتونو له تېري او حملې څخه کړاو او درد نۀ زغمي بلکې د خپلو خپل سريو او ظالمو حکومتونو لخوا په دباؤ او تکليف کښې دي. په دومره اندازه چې زمکه په خپلې ټولې پراختيا سره د هغوي لپاره تنګېږي او د ازادۍ د احساس په ځای ځانونه په يو ستر جېل او زندان کښې احساسوي. هم دا اوس په اسلامي نړۍ کښې بې له ايرانه چې د خدای پاک په فضل او کرم او د زمانې د امام عليه السلام په برکت سره پکښې يو عادل فقيه حکومت کوي د اسلامي هيوادونو نور مشران له اسلام او مسلمانانو سره ښۀ تعلق نۀ لري او د هغوي لپاره پردي دي.

په دې حقله په روايتونو کښې راغلي دي:

د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((په اخره زمانه کښې به داسې سخت مصيبتونه چې ترهغو زيات سخت به چا نۀ وي اورېدلي د اسلامي واکمنانو لخوا زما امت ته رسول کيږي په دا ډول چې پراخه زمکه به په هغوي باندې تنګه شي او زمکه به له بې انصافۍ او ظلم څخه ډکه شي. په دومره اندازه چې مومن به له ظلم څخه د خلاصون لپاره يو داسې پناه ځای چې هغۀ ته پناه ورکړي نۀ مومي.)) [4]

يو شمېر روايتونه د خپل سرو واکمنانو له خوا په مصيبت باندې د مسلمانانو د اخته کېدو په حقله وضاحت کوي چې د هغو ظالمو واکمنانو له واکمنۍ وروسته د ټولې دنيا لپاره د يو مصلح د ظهور زېری يې ورکړی دی. په دغه ډول روايتونو کښې د هغو

---

[1] -شجري امالي ۲ ټوک ۱۵۲ مخ. ، نعماني، غيبت، ۲۵۳ مخ، طوسي، غيبت، ۲۷۴ مخ، اعلام الوری، ۴۲۸ مخ، مختصر بصائر الدرجات، ۲۱۲ مخ، اثبات الهداه، ۳ ټوک، ۵۴۰ مخ، حليه الابرار ۳ ټوک ۲۲۲ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۳ مخ، بشارت الاسلام ۸۲ مخ، عقدالدرر ۲۴ مخ، القول المختصر۲۲ مخ، متقي هندي، برهان، ۷۴ مخ، سفارين، لوائح ۳ ټوک ۸ مخ. ته مراجعه وکړئ.

[2] - ابن طاووس، ملاحم، ۷۷مخ

[3] - عقدالدرر۳۳۳ مخ.

[4] - حاکم، مستدرک، ۴ ټوک، ۴۲۵ مخ،عقدالدرر، ۴۳مخ، احقاق الحق، ۱۹ټوک، ۲۲۴ مخ.

دري ډوله حکومتونو په حقله چې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم نه پس په اقتدار کښې راځي خبره راغلې ده. دغه دري ډوله حکومتونه په دا ډول دي: خلافت، امارت او ملوکیت او له دې وروسته به جباران واکمنیږي.
د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: «له ما نه وروسته به یو شمېر خلیفه ګان په اقتدار کښې راځي، له خلیفه ګانو وروسته به یو شمېر امراء او له امراء وروسته به باچایان او له هغوي وروسته به جباران او ظالمان او بیا مهدي علیه السلام ظهور کوي.» [1]

ب_ د حکومتونو ترتیب
هغه وخت خلق په ارام او سوکالتیا کښې ژوند کوي چې د حکومت چارواکي نېک او کارندویه کسان وي، خو که کله نالائق کسان په خلقو باندې واکمنان شول نو طبیعې خبره ده چې انسانان له تکلیف او عذاب ځخه پوزې ته راځي. کټ مټ هم هغه حالت چې د امام مهدي علیه السلام له ظهور نه مخکې رامنځته کیږي نو دغه وخت به حکومتونه خیانتکار، فاسقان او ظالمان خلق جوړوي.
د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: «یوه داسې زمانه به راشي چې حکمرانان به ظلم کوونکي، قومندانان به خیانتکار، قاضیان به فاسقان او وزیران به ظالمان ګرځي. [2]»

ج- په حکومتونو باندې د ښځو نفوذ
یوه بله مسئله چې د اخري زمانې په حکومتونو کښې بیانیږي د ښځو تسلط او نفوذ دی چې په مستقیمه توګه په سړیو باندې واکمني کوي او یا واکمنان تر خپل تسلط لاندې راولي، دا مسئله یو لړ ناوړ پایلې په ځان پسې لري. حضرت علي علیه السلام په دې حقله فرمائي: «داسې وخت به راورسي چې زناکار او فاسد کسان به ناز او نعمت ته ورسي او سپک خلق به مقام او حېثیت پېدا کړي او انصاف لرونکي انسانان به کمزوري شي.» پوښتنه ترې وشوه چې دغه دوران به په کوم وخت کښې راځي؟ وې

[1] - المعجم الکبیر، ۲۲ ټوک، ۳۷۵ مخ، الاستیعاب، ۱ ټوک، ۲۲۱ مخ، فردوس الاخبار، ۵ټوک، ۴۵۲ مخ، کشف الغمه، ۳ټوک، ۲۲۴ مخ،اثبات الهداه، ۳ ټوک، ۵۹۲ مخ.

[2] - شجري ، اماملي ۲ ټوک، ۲۲۸ مخ.

فرمایل: ((کله چې ښځې او وینځې د سړیو په چارو باندې مسلطې شي او ماشومان واکمنۍ ته ورسي.)) [1]

د- د ماشومانو واکمني

واکمنان پکار دي تجربه کار او مدیریت لرونکي کسان وي چې خلق په ارام او سوکالۍ کښې وي. که د هغوي په ځای‌کم عمره او لنډ فکره کسان د کارونو سرپرستي په لاسو کښې واخلي نو پکار دي له هغې فتنې څخه رامنځته شویو حالاتو څخه خدای پاک ته پناه یوړل شي. په دې باره کښې د دوو روایتونو په ذکرولو بسنه کوو:

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((له وړومبیو اویا کلونو او د ماشومانو له حکومت څخه خدای ته پناه یوسئ.)) [2]

سعید بن مسید وائي: ((فتنه به رامنځته کیږي او د هغې په ابتداء کښې به د ماشومانو لوبې وي،)) [3]

ه- د حکومتونو تزلزل

یو داسې حکومت د خپل هېواد د خلقو خدمت کولې شي چې سیاسي ثبات ولري، ځکه چې په داسې صورت کښې چې د بدلون په حال کښې وي په ملک کښې غټ او ستر کارونه نۀ شي ترسره کولې.

په آخره زمانه کښې به حکومتونه د تزلزل په حال کښې وي. کله کله به یو حکومت د ورځې په شروع کښې په اقتدار کښې راشي او په نمر پرېواتۀ سره به له حکومت څخه ځنګته کړې شي. امام جعفر صادق علیه السلام په دې حقله فرمائي: ((څه رنګ به وي چې کله بې له هدایت کوونکي امام او بې له علم او پوهې څخه پاتې شئ او له یو بل څخه د بېزارۍ په لټه کښې شئ؟ او دا به هغه زمانه وي چې وازمایلې شئ او ستاسو ښۀ او بد کسان له یو بل څخه جدا شي او چاڼ او لاندې باندې شئ. هغه وخت چې توري په تګ راتګ کښې شي، د جنګونو اور غرغنډه شي، یو حکومت به د ورځې په

[1] - کافي، ۸ ټوک، ۲۹ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۲۲۵ مخ.
[2] - مسند احمد بن حنبل ۲ټوک، ۳۲۲، ۳۵۵ او ۴۴۸ مخونه.
[3] - ملاحم ابن طاووس ۲۰مخ.

شروع کښې په اقتدار کښې راشي او په وژلو سره به د ورځې په اخر کښې به نسکور شي.)) [۱]

## و- د ملکونو د حکومتونو او ادارو بې وسي

د زمانې د امام علیه السلام له ظهور نه مخکښې به ظالم حکومتونه کمزوري شي او دا چاره به د دې لپاره زمینه جوړه شي چې د امام مهدي علیه السلام نړیوال حکومت قبول کړي. امام زین العابدین علیه السلام د قران شریف د دې مبارک ایت چې فرمائي: حَتَّى إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا [۲] ((ترهغه وخته چې ووینئ هغه څه چې وعده یې ورکړې شوې ده او ډېر زر به پوه شي چې کوم کسان کم مرسته کوونکي لري او بې وسه دي.)) وفرمایل: ((هغه وعده چې په دې مبارک ایت کښې ورکړې شوې ده د حضرت مهدي علیه السلام د ملګرو، مرسته کوونکو او دښمنانو په حقله ده. هغه وخت چې د زمانې امام علیه السلام پاڅون وکړ نو دښمنان به یې ترټولو بې وسه او ناتوانه دښمنان وي او ډېر کم سازوسامان او ځواکونه به ولري.)) [۳]

---

۱ - کمال الدین ۲ټوک، ۳۴۸ مخ.

۲ - سورهٔ جن (۷۲) ۲۴ایت.

۳ - کافي ۱ ټوک، ۴۳۱ مخ، نورالثقلین، ۵ ټوک، ۴۴۱ مخ، احقاق الحق، ۱۳ ټوک ۳۲۹ مخ، ینابیع الموده ۴۲۹مح، المحجه ۱۳۲ مخ.

## دویم باب
## د خلقو دیني حالت

په دې باب کښې د زمانې د امام علیه السلام له ظهور نه مخکښې د خلقو د دیني حالت څېړنه کوو. له روایتونو څخه معلومیږي چې په دغه زمانه کښې به د اسلام او قران له نامې نه زیات څه نهٔ وي پاتې، مسلمانان به یوازې په نامه مسلمانان وي، جوماتونه به نور نو د هدایت او نصیحت ځایونه نهٔ وي، په دغه زمانه کښې به فقیهیان د زمکې په سر تر ټولو بد فقیهان وي او دین به په کم ارزښتو څیزونو او ډېرو کمو پېسو باندې خرڅیږي.

الف _ اسلام او مسلمانان

اسلام د الهي احکامو په وړاندې د غاړه ایښودلو په معنا دی. اسلام ترټولو غوره او ترټولو اوچت دین دی چې په دنیا او اخرت کښې د انسانانو د خوشبختۍ ضمانت ورکوي، خو هغه څه چې ارزښت لري د اسلام او قران شریف په احکامو باندې عمل کول دي. په اخره زمانه کښې به ټول څیزونه اپوټه او برعکس کیږي. یعنې له اسلام څخه به بې له نومه څه نهٔ پاتې کیږي، قران به په معاشره کښې شتون لري خو یواځې یوشمېر کرښې دي چې په پاڼو باندې لیکل شوي دي او مسلمانان یوازې د مسلمانۍ نوم لري او له اسلام څخه څه نښه نښانه نهٔ لري. د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((زما په امت داسې وخت راروان دی چې په هغهٔ کښې به له اسلام څخه د هغهٔ له نوم نه زیات څه نهٔ پاتې کیږي او له قران څخه به بې له یو نقش او عکس څخه څه نهٔ وي. مسلمانان به په نوم سره مسلمانان بلل کیږي خو له اسلام سره نسبت به یې له هر چا نه زیات پردی وي.)) [1]

امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((ډېر زر به هغه دوران راورسیږي چې خلق به خدای نهٔ پېژني او د توحید په معنا باندې به نهٔ پوهیږي ان تردې چې دجال خروج وکړي.)) [2]

---

[1] - ثواب الاعمال ۳۰۱ مخ، جامع الابصار ۱۲۹ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۱۹۰ مخ.

[2] - تفسیرفرات، ۴۴ مخ.

ب- جوماتونه
جومات د خدای پاک د عبادت، پرستش، د ديني تبليغاتو او د خلقو د هدايت او لارښوونې ځای دی. د اسلام په ابتدائي دور کښې حتی مهم حکومتي کارونه به په جوماتونو کښې ترسره کېدل. د جهاد پلانونه به په جومات کښې جوړېدل او انسان به له جومات څخه معراج ته تلۀ، خو په اخره زمانه کښې د جوماتونو ماهيت ختميږي او د ديني زدکړو، صحيح تبليغاتو او هدايت په ځای د جوماتونوپه شمېر او د هغو په تجملاتوکښې اضافه کيږي، په داسې صورت کښې چې جوماتونه له واقعي مومنانو څخه خالي دي، د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي:«د هغه زمانې جوماتونه به اباد اوښکلي وي خو پکښې به د هدايت او لارښوونې څه خبره نۀ وي» [1]

ج- فقيهان
اسلامي عالمان او پوهان په زمکه باندې د خدای پاک د دين ساتونکي دي او د خلقو هدايت او لارښوونه د هغوي په لاسو کښې ده. هغوي د تکليفونو او زحمتونو په زغملو سره له شرعي سرچينو څخه ديني مسائل راوباسي او د خلقو په اختيار کښې يې ورکوي، خو په اخره زمانه کښې به حالت بدليږي او د هغې زمانې عالمان به تر ټولو بد خلق وي. د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په دې حقله فرمائي: «د هغې زمانې فقيهان به تر ټولو بد فقيهان وي چې د اسمان لاندې ژوند کوي، فتنې او فسادونه به له هغوي څخه شروع کيږي او هم هغوي ته به ستنيږي.» [2]
البته دا ويلې شو چې مقصد ترې هغه درباري او له نورو سره تړلې عالمان دي چې د ظالمو باچايانو او خپل سرو واکمنانو جرائم او جنايتونه توجيه کوي او پرتوګ ورته جوړوي او اسلامي رنګ ورته ورکوي. دا هغه کسان دي چې له هر مجرم او جرائم پېشه کس سره معامله او سازباز کوي، لکه د عربو باچايانو درباري وهابي علماء چې له امريکې او اسرائيلو سره مبارزه د شرعې په خلاف ګڼي. هغه عالمان چې د اسرائيلو د جرائمو او مظالمو په خلاف سا نۀ شي اخېستې خو د خدای په کور خانه کعبه کښې د آل سعود د پوليسو په لاسو د سلګونو حاجيانو قتل عام توجيهوي او ورله ايتونه او

[1] - بحارالانوار ۲ ټوک، ۱۹۰ مخ.
[2] - ثواب الاعمال ۳۰۱ مخ، جامع لاخبار ۱۲۹ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۱۹۰ مخ.

روايتونه راوړي. نو بايد ووايو چې دغه ترټولو بد فقيهان دي چې فتنه ترې شروع کيږي او فتنه بيا هم هغوي ته ستنيږي.

د - له دين څخه وتل

د اخري زمانې يو بل علامت دا دی چې خلق به له دين څخه ووځي. يوه ورځ امام حسين عليه السلام د اميرالمومنين امام علي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو.يو شمېر خلق له هغه حضرت نه چاپېره ناست وو، امام علي عليه السلام هغوي ته وفرمايل: ((حسين ستاسو امام او پېشوا دی،د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ورته سيد او سرور نوم ورکړی دی، د دهٔ له نسل څخه به يو سړی ظهور وکړي چې په څېره او اخلاقو کښې به زما په شان وي، هغه به دنيا له عدل او انصاف څخه داسې ډکوي لکه څنګه له دې مخکښې له ظلم او جور څخه ډکه شوې وي.)) پوښتنه ترې وشوه چې دغه قيام او پاڅون به په کومه زمانه کښې وي؟ وې فرمايل: ((افسوس هغه وخت به له دين څخه داسې ووځئ لکه چې يوه ښځه د خپل خاوند لپاره له جامو نه بهر ووځي.))[1]

هـ - دين خرڅونه

په انسان باندې لازم دي چې که سر يې په خطر کښې پريوزي،نوله خپل مال څخه دې تير شي چې سر يې محفوظ پاتې شي او که دين ته يې خطره پېښه شوه نو خپل ځان دې قربان کړي چې دين په خطره کښې و نهٔ غورزيږي او زيان و نهٔ مومي.خو په اخره زمانه کښې به دين په ډېره کمه بيه خرڅيږي او هغه انسانان چې سحر به مومنان وي او مازيګر به کافران وي. د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په دې حقله فرمائي: ((افسوس دې وي په عربو باندې له هغه شر څخه چې ورته نزدې شوی دی، د توري تيرې شپې د پارونو په شان فتنې چې خلق به سحر مومنان او د نمر پرېواتهٔ په وخت به کافران وي. يو شمېر خلق به خپل دين په ډېرې ناڅه بيه او لږومالونو باندې خرڅوي. کوم کس چې په دغه زمانه کښې په خپل دين باندې منګولې ښخې کړې او پابند پرې پاتې شي د هغه کس په شان به وي چې د اور سکروټه يې په لاس کښې نيولې وي يا له ازغو نه ډک بوټي ته په موټي کښې زور ورکوي.))[2]

---

۱ - ابن طاووس، ملاحم ۱۴۴ مخ.

۲ - مسند احمد بن حنبل ۲ټوک، ۳۹۰ مخ.

## دریم باب
## له ظهور نه مخکښې اخلاق

**د کورنۍ، خپلوۍ او دوستۍ د بنیادونو سستېدل، د انساني مینې او مهربانۍ سړېدل او د بې مهریو زیاتېدل د اخرې زمانې له خصوصیاتو څخه دي.**

**الف- د انساني مهربانیو سړېدل**

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د مهربانۍ له نظره د هغې زمانې حالت داسې بیانوي: «په هغه زمانه کښې به مشران په کشرانو او ماشومانو باندې رحم نۀ کوي او مضبوط کسان به په کمزورو باندې نۀ رحمیږي، هغه وخت به خدای پاک هغۀ (امام مهدي) ته د پاڅون او ظهور حکم ورکوي.»[1] هغه حضرت همدارنګ فرمائي: «قیامت به رانۀ شي ان تردې چې هغه وخت راورسېږي چې یو کس به (د ډېرې غریبۍ له لاسه) خپلو خپلوانوته ورشي او ورته به د خپلوۍ قسم ورکړي چې ورسره څه مرسته او مدد وکړي،خو هغوي به ورته څه ورنکړي. ګاونډی به له ګاونډي نه مرسته وغواړي او ورته به د ګاونډتوب قسم ورکړي خو ګاونډی به یې مرسته ونکړي.»[2]
هغه حضرت همدارنګ فرمائي: «له ګاونډیانو سره بد سلوک او د خپلوۍ د مزیو پرې کېدل د قیامت له نښو نښانو څخه دي.»[3]
له دې امله چې په ځینو روایتونو کښې د «الساعه» کلمه د امام مهدي علیه السلام په ظهور سره تاویل شوې ده،[4] د «اشراط الساعه» روایتونه مو د ظهور په نښو نښانو باندې تفسیر کړل.

**ب- اخلاقي فساد**

هر ډول انحراف او فساد ښایي یو ډول د زغملو وړ وي بې له جنسي فساد نه چې د غېرتمنو او شرافتمنو انسانانو لپاره ډېره ناخوښه او د نۀ زغملو چاره ده.له هغو ډېرو

---

[1] - بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۸۰ مخ او ۳۲ ټوک، ۳۳۵ مخ.
[2] - امالي شجري ۲ ټوک، ۲۷۱ مخ.
[3] - اخبار اصبهان ۱ټوک، ۲۷۴ مخ، فردوس الاخبار ۴ ټوک، ۵ مخ، الدرالمنثور ۲ ټوک، ۵۰ مخ، جمع الجوامع ۱ ټوک، ۸۴۵ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک ۲۴۰ مخ.
[4] - تفسیر قمي ۲ ټوک، ۳۴۰ مخ، کمال الدین ۲ټوک، ۴۲۵مخ، تفسیر صافي ۵ ټوک، ۹۹ مخ، نورالثقلین ۵ ټوک، ۱۷۵ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۵۳ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک، ۲۸۹ مخ، البیان ، شافعي، ۵۲۸ مخ، الصواعق محرقه، ۱۲۲ مخ، د یوم الظهور ، یو القیامه او یوم الکره اصطلاحاتود څېړنې لپاره د تفسیرالمیزان ۲ټوک، ۱۰۸ مخ ته رجوع وکړئ

بدو او خطرناکو انحرافاتو څخه چې معاشره پرې د امام مهدي عليه السلام له ظهور نه مخکښې اخته کيږي د کورنۍ او ناموس ناامني ده. په هغه زمانه کښې به اخلاقي فساد او بې ستري په زياته اندازه پراختيا مومي. د انسان ډوله کسانو ډله ايز حېواني کردارونو بدوالی او قباحت به د فساد د پراختيا دتسلسل په وجه له منځه لاړ شي او يو عادي او طبيعي حالت به پېدا کړي، فساد به دومره خپور شي چې ډېر کم خلق به له هغۀ څخه مخنيوی وکړي يا به يې مخنيوی وغواړي.

په ۱۳۵۰ هجري لمريز کال او په ايران کښې د محمد رضا شاه پهلوي د باچائۍ په زمانه کښې د دوه نيم زره کاله شهنشائيت جشنونه چې د شيراز هنر نوم ورته ورکړی شوی ؤ په هغو جشنونو کښې د حېواني ژوند ډېرې بدې او ناروا صحنې وښودلې شوې د ايران د اسلامي ټولنې قهر او احتجاج يې راوپاروۀ، خو له ظهور نه په مخکښې زمانه کښې به د دغو اعتراضونو څه خبره نۀ وي او يوازې به دا اعتراض کيږي چې ولې دا بداخلاقۍ او بد کارونه د لارې او چوکونو په منځ کښې کيږي؟ دا به تر ټولو اوچت نهي عن المنکر وي او دغه کس به د خپلې زمانې تر ټولو عابد کس وي.

اوس به يو شمېر روايتونو ته يوه کتنه وکړو چې په هغه زمانه کښې د اسلامي ارزښتونو له منځه تلل او د فساد د پراختيا د غميزې ژورتيا درک کړو. د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((قيامت به رانۀ شي ان تر دې چې يوه ښځه به په رڼا ورځ او په ډاګه (يعنې د ټولو خلقو په مخکښې د هغې له خاوند څخه) واخلي، د لارې په مېنځ کښې به د هغې په ناموس حمله وکړي، خو هيڅ کس به دغه کار و نۀ غندي او د هغه کار مخنيوی به ونکړي. په خلقو کښې به تر ټولو غوره هغه کس وي چې ورته ووائي: کاش چې د لارې له منځ څخه يوې ډډې ته تلی وې او دا کار دې په ډاګه نۀ وی کړی.))[1]

هغه حضرت همدارنګ فرمائي: ((قسم مې دې په هغه ذات وي چې د محمد(صلی الله عليه و آله وسلم) ځان يې په اختيار کښې دی دا امت به له منځه لاړ نۀ شي ان تردې چې سړی په لاره کښې د ښځو مخې ته اودريږي او (د ماتوونکي زمري په شان به) پرې حمله کوي، په هغوي کښې به هغه سړی ترټولو غوره وي چې ووائي: کاش د ديوال شا ته دې پټ دا کار کړې وې او د خلقو په مخکښې دې نۀ وې کړی.))[2]

---

۱ - عقدالدرر ۳۳۲ مخ، مستدرک حاکم ۴ ټوک ۴۹۵ مخ.

۲ - المعجم الکبير، ۹ ټوک، ۱۱۹ مخ، فردوس الاخبار، ۵ ټوک، ۹۱ مخ، مجمع الزوائد ۷ ټوک، ۲۱۷مخ.

په يو بل بيان کښې فرمائي: ((دغه خلق به د حېواناتو په شان د لارو په منيځ کښې له يو بل سره جنګيږي او جګړې به کوي او بيا به له هغوي څخه يو کس د هغۀ په مور، خور او لور باندې د لارې په مېنځ کښې د خلقو په مخ کښې تېرى کوي او بيا به هغوي د نورو د تېرې او حملو هدف ګرځوي او هر يو به پرله پسې بد کار ترسره کوي خو هيڅ څوک به دغه بدکار نۀ غندي او نۀ به يې بدلوي، په هغوي کښې به هغه کس تر ټولو غوره وي چې ووائي: چې که له لارې نه يوې ډډې ته او د خلقو له نظره لرې شوې وئ نو ښه به وه.)) [1]

## ج- د پاکلمنۍ د خلاف اعمالو پراختيا

محمد بن مسلم وائي: امام محمد باقر عليه السلام ته مې عرض وکړ: اى د خداى د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم بچيه! ستاسو قائم عليه السلام به کوم وخت ظهور کوي؟ امام وفرمايل: ((کله چې سړي ځانونه د ښځو په شان کړي او ښځې ځانونه د سړيو په شان کړي، کله چې سړي په سړيو باندې بسنه وکړي (يعنې لواطت به کوي) او ښځې په ښځو باندې.)) [2] يو بل روايت کښې په همدې مضمون سره له امام جعفر صادق عليه السلام څخه نقل شوى دى. [3] ابو هرېره هم د خداى له ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم څخه نقلوي: ((قيامت به رانۀ شي ان تردې چې سړي به د بد کار د ترسره کولو لپاره له يو بل نه مخکښې کيږي لکه چې د ښځو په نسبت يې کوي.)) [4] يو لړ نور روايتونه هم په همدې مضمون سره راغلي دي. [5]

---

۱ - ملاحم ، ابن طاووس، ۱۰۱ مخ.

۲ -کمال الدين ۱ ټوک، ۳۳۱ مخ.

۳ -مختصر اثبات الرجعه ۲۱۲ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۷۰ مخ، مستدرک الوسائل ۱۲ ټوک، ۳۳۵ مخ.

۴ - فردوس الاخبار ۵ ټوک، ۲۲۲ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک ۲۴۹ مخ.

۵ - الف) عن الصادق عليه السلام: ((اذا رايت الرجل يغير علي اتيان النساء )) کافي ۸ ټوک، ۳۹ مخ، بخارالانوار ۵۲ ټؤک، ۲۵۷ مخ، بشارت الاسلام ۱۳۳ مخ.

ب) (( اذا صارالغلام يعطي کما تعطي المراه، و يعطي قفاه لم ابتغي )) کافي ۸ ټوک ۳۸ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۲۵۷ مخ.

ج) ((يزف الرجال للرجال کما تزف المراه لزوجها)) بشارت الاسلام، ۷۲ مخ، الزام الناصب ۱۲۱ مخ.

د) قال الصادق عليه السلام: ((يتمشط الرجل کما تنمشط المراه ازوجها ، و يعطي الرجال الاموال علي فروجهم و يتنافس فى الرجل و يغار عليه من الرجال، و يبذل فى سبيل النفس و لمال)) کافى ۸ ټوک، ۳۸ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۴۵۷ مخ.

هـ) قال الصادق عليه السلام: ((تکون معيشه الرجل من دبره، و معيشه المراه من فرجها)) کافي ۸ ټوک ۳۸مخ.

و) قال الصادق عليه السلام: ((عندهما يغار علي الغلام کما يغار علي الجاريه (الشابه) في بيت اهلها)) بشارت الاسلام ۳۲، ۷۲، ۱۳۳ مخونه:

ز) قال النبي صلى الله عليه و آله وسلم: ((کانک بالدنيا لم تکن اذا ضيعت، امتي الصلاه واتبعت الشهوات و غلت الاسعار و کثراللواط)) بشارت الاسلام، ۲۳ مخ، الزا الناصب ۱۸۱ مخ.

### د- د لږو بچو ارمان

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: «قيامت به رانۀ شي ان تردې چې ځوک پنځۀ بچي لري نو د څلور بچو آرزو به کوي او هغه ځوک چې څلور بچي لري نو وائي به کاش چې درې بچي مې لرلې او د درې بچو لرونکی کس به د دوو فرزندانو آرزو لري او هغه ځوک چې دوه بچي لري د يو بچي لرلو آرزو لري او ځوک چې يو بچی لري آرزو به کوي چې کاش يو بچی يې هم نه لرلی.»[1]

په يو بل روايت کښې فرمائي: «يوه داسې زمانه به راشي چې د کم اولاد ارمان به وکړئ لکه چې نن د زيات اولاد او مال او دولت ارمان کوئ، ان تردې چې له تاسو څخه يو کس به د خپل ورور له قبر سره تېرېږي او ځان به د هغۀ په قبر باندې لوغړوي داسې لکه چې حېوانات په ځړځای کښې ځانونه په خاورو کښې رغړوي او وائي به: کاش چې زۀ د دۀ په ځای وې او دا خبره به يې له خدای پاک سره د ملاقات د شوق او يا د هغو نېکو اعمالو په وجه نۀ وي چې مخکښې يې لېږلي دي بلکې د هغو مصيبتونو او تکليفونو په وجه به وي چې په هغۀ باندې نازلېږي.»[2]

هغه حضرت صلی الله علیه و آله وسلم همدارنګ فرمائي: «قيامت به رانۀ شي مګر دا چې اولاد کم شي.»[3] په دې روايت کښې د «الولد غيضاً» کلمه راغلې ده چې معنا يې د جنين سقطول دي او له بارداری نه مخنيوی دی، خو د «غيظاً» کلمه چې په بل روايت کښې راغلې ده د غم، مشقت، محنت او غضب په معنا ده.

يعني خلق به هغه دوران کښې د جنين په سقط کولو او د اولاد له زياتولو څخه په مخنيوي سره د اولاد د پراختيا مخه نيسي او يا به د اولاد لرل د غم، خفګان او غصې د رامنځته کېدو سبب وي او شايد د سختو اقتصادي مشکلاتو، په ماشومانو کښې د بيماريو د پراختيا، د وسائلو د نۀ شتون او د ابادۍ او نفوسو کنټرولولو ته د خلقو د تبليغ يا نورو عواملو په وجه وي.

### هـ) د بې سرپرستو کورنيو پراختيا

[1] - فردوس الاخبار ۵ ټوک ۲۲۷ مخ.

[2] -المعجم الکبير ۱۰ ټوک، ۱۲ مخ.

[3] - الشيعه والرجعه ۱ ټوک ، ۱۵۱ مخ، فردوس الاخبار ۵ ټوک، ۲۲۱ مخ، المعجم الکبير ۱۰ټوک ، ۲۸۱ مخ، بحارالانوار ۳۴ ټوک، ۲۴۱ مخ.

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((د قیامت له نښو نښانو څخه یوه دا ده چې سړي به کم شي او ښځې به زیاتې شي، ان تردې چې پنځوس پنځوس ښځې به یو سرپرست ولري.))[1]

کېدې شي چې داحالت د سړیو د زیاتو سر تاوانونو په وجه وي چې په اوږدو او پرله پسې جنګونو کښې رامنځته کیږي.

هغه حضرت صلی الله علیه و آله وسلم همدا رنګ فرمائي: ((قیامت به رانۀ شي، مګر دا چې داسې زمانه راشي چې په یو سړي پسې به تقریباً دېرش ښځې روانې وي او هره یوه به دا تقاضا کوي چې ورسره وادۀ وکړي.))[2]

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په یو بل مبارک روایت کښې فرمائي: ((خدای پاک خپل دوستان او غوره کسان له نورو څخه جدا کوي ان تردې چې زمکه له منافقانو، ګمراهانو او د هغوي له اولاد څخه پاکه شي، داسې وخت به راورسي چې پنځوس ښځې به یو سړي ته مخامخې شي،یوه به وائي ای د خدای بنده! ما واخله او بله به وائي ما ته پناه راکړه.))[3]

انس وائي: د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمايل: ((قیامت به برپا نۀ شي مګر دا چې هغه زمانه راورسي (چې د سړیو د سرتاوانونو او د ښځود زیاتوالي له کبله به) یوه ښځه په لاره کښې یو پیزار ومومي او (په افسوس سره به) وائي: دا پیزار د هغه سړي دی، په هغه زمانه کښې به د پنځوسو ښځو لپاره یو سرپرست وي.))[4]

هم له انس نه نقلیږي چې وائي: ((ایا نۀ غواړئ چې هغه حدیث چې له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه مې واورېد تاسو ته نقل کړم؟ د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم وفرمايل: ((سړي به مړۀ شي او ښځې به باقي پاتې شي.))[5]

---

[1] - مسند طیالسي، ۸ ټوک، ۲۲۲ مخ، مسند احمد بن حنبل ۳ ټوک، ۱۲۰ مخ، سنن ترمذي، ۴ ټوک، ۴۹۱ مخ، مسند ابویعلي ۵ ټوک، ۲۷۳ مخ، خلیه الاولیاء ۲ ټوک، ۲۸۰ مخ، دلائل النبوه ۲ ټوک، ۵۴۳ مخ، الدرالمنثور ۲ ټوک، ۵۰ مخ.

[2] - فردوس الاخبار ۵ ټوک، ۵۰۹ مخ.

[3] - امالي مفید ۱۴۴ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۵۰ مخ.

[4] - عقدالدرر ۲۳۲ مخ، فردوس الاخبار ۵ ټوک، ۲۲۵ مخ.

[5] - مسند احمد بن حنبل ۳ ټوک، ۳۷۷ مخ.

## ځلورم باب
## له ظهور نه مخکښې امنيت

**الف) ګډوډي او نا امني**

د لويو طاقتونو د تېري له کبله به د وړو حکومتونو او کمزورو ولسونو امن و امان له مينځه لاړ شي او ازادي او امنيت به نور نو څه مفهوم و نۀ لري. په دنيا باندې واکمن طاقتونه به په کمزورو ولسونو باندې زمکه داسې تنګه کړي او د ولسونو په حقوقو باندې تېري او حملې به دومره زياتې کړي چې خلق به د سا اخېستو اجازت ونلري.

د خداى ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم دغه دور داسې بيانوي: ((زر به امتونه (يعنې د نورو دينونو او مذهبونو پېروکار) ستاسو په خلاف د عمل مېدان ته راودانګي، په داسې ډول چې اوږي به د ډوډۍ په لوښو باندې حمله کوي.)) يو سړي وويل: ايا له دې کبله چې په هغه زمانه کښې به مونږ په اقليت کښې يو نو ځکه به راباندې حملې کيږي؟ د خداى ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم وفرمايل: ((په هغه زمانه کښې به ستاسو شمېر ډېر زيات وي خو د سېلاب په مخکښې به د خس او خشاکو په شان يئ، خداى پاک به د دښمنانو له زړونو څخه ستاسو هېبت او عظمت وباسي او ستاسو په زړونو باندې به سستي غالبه کړي.)) يو کس پوښتنه وکړه: د خداى ګران رسوله! دغه سستي او ناراستي به په څه وجه وي؟ وې فرمايل: ((د دنيا د مينې او د مرګ نۀ خوښولو په وجه.))[1]

دغه دواړه بد خويونه چې د خداى ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم يې يادونه کړې ده، کافي دي چې يو ملت ازادۍ، او له خپلو ارزښتنو څخه دفاع ته له رسېدو څخه منعې کړي او هغوي تر هر ډول حالاتو لاندې ذلت لرونکي ژوند تېرولو ته تيار کړي، که څه هم د دين او مذهب له اصولو څخه د لاس وېنځلو په شرط سره وي.

د خداى ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم فرمائي: (( مهدي (عليه السلام) به ظهور هغه وخت کوي چې دنيا له ګډوډۍ څخه ډکه شي او يوه ډله به په بلې ډلې باندې

---

[1] -مسند طيالسي ۱۳۳ مخ، سنن ابي داؤد ۴ ټوک، ۱۱۱ مخ، المعجم الکبير ۲ ټوک، ۱۰۱ مخ.

حملې کوي.[1] لوی به په وړوکي باندې رحم نۀ کوي او طاقتور به په کمزوري باندې رحم نۀ کوي نو په داسې وخت کښې به خدای پاک هغۀ ته د پاڅون اجازه ورکړي.))[2]

ب) د لارو ناامني

د ګډوډيو او ناامنيو لمن به لارو کوڅو ته هم وغزيږي او بې رحمي به پراختيا ومومي چې په دغه وخت کښې به خدای پاک امام مهدي عليه السلام رااوچت کړي او د ګمراهۍ کلاګانې به د هغۀ په توانمن لاس باندې فتح کړي، امام مهدي عليه السلام به يوازې مضبوطې کلا ګانې نۀ فتح کوي بلکې تړلي زړونه به هم د حقائقو او معنويت په لور خلاص او د حقائقو قبلولو ته به يې تيار کړي.

د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم خپلې قدرمنې لور بي بي فاطمې عليها السلام ته په خطاب کښې فرمائي: ((په هغه خدای مې دې قسم وي چې زۀ يې په حق سره مبعوث کړم، په رښتيا چې د دې امت مهدي (عليه السلام) د حسنېنو (عليهم السلام) له نسل څخه دی. هغه وخت چې کله دنيا له ګډوډيو او بې نظمۍ نه ډکه شي او فتنې (پرله پسې) راڅرګندې شي، لارې او کوڅې به ناامنې شي او ځينې به په ځينو باندې حملې کوي، نۀ به مشر په کشر باندې رحم کوي او نۀ به کشر د مشر قدر او عزت کوي، په داسې وخت کښې به خدای پاک د دغو دوو امامانو (حسنېنوعليهم السلام) له نسل څخه يو سړی راپاڅوي چې د ګمراهۍ کلا ګانې به فتح کړي او هغه زړونه چې د جهالت او ناپوهۍ پردې پرې غوړېدلي وي (او د حقائقو له درک کولو څخه به په حجاب کښې وي) خلاص کړي. هغه به اخره زمانه کښې راپاڅېږي، هم هغه ډول چې زۀ په اوله زمانه کښې راپاڅېدم او هغه به دنيا له عدل او انصاف څخه ډکوي، هم هغه ډول چې له ظلم او بې انصافۍ نه ډکه شوې وي.))[3]

ج) لړزوونکي جرائم

په تاريخ کښې د ظالمانو او جلادانو جرائم او ظلمونه ډېر وحشتناک او لړزوونکي وو. د تاريخ صفحې له داسې ظلمونو، ستمونو او جرائمو نه ډکې دي چې ستمګرو او

---

[1] - بحارالانوار ۳۲ ټوک، ۳۳۵ مخ او ۵۲ ټوک، ۳۸۰ مخ.

[2] - بحارالانوار ۵۲ ټوک ۱۵۴ مخ.

[3] - عقدالدرر ۱۵۲ مخ، بحارلانوار ۵۲ ټوک، ۱۵۴ مخ او ۲۲۲ مخ، احقاق الحق ۱۳ توک، ۱۱۲ مخ، الاربعون حديثاً (ابونعيم)، ذخائراعقبی ۱۳۵ مخ، ينابيع الموده ۴۲۲ مخ.

وينه څښونکو واکمنانو په بې وزلو او مظلومو ولسونو باندې کړي دي چې چنګېز، هېټلر، او آتيلا يې نمونې دي، خو هغه جرائم او جنايتونه چې د امام مهدي عليه السلام له ظهور نه مخکښې به راپېښېږي د بر زړونه لړزوونکي جرائم او ظلمونه به وي چې يوازې تصور يې کېدې شي. د وړو وړو ماشومانو پانسي کول، د هغوي سوزول او په يشيدونکو مائعاتو کښې د هغوي اچول، په ارو، اوسپنيزو سلاخونو او مېچنو سره د خلقو ټوټې ټوټې کول له هغو پېښو څخه دي چې د عدل د نړيوال حکومت له جوړېدونه مخکښې به د هغو حکومتونو لخوا چې ځانونه د بشري حقوقو مدافع بولي رامنځته کيږي. د هم دغو وحشيتګرو له کبله به د امام مهدي عليه السلام د حکومت چې د روايتونو په تعبير د بې وزلو او مظلوم د پناه ځای دی اهميت څرګندوي.

امام علي عليه السلام د هغې زمانې تراخۀ حوادث داسې بيانوي: ((په تحقيق سره سفياني به يوه ډله په دې باندې ګماري چې ماشومان په يو ځای کښې راغونډ کړي بيا به د هغوي د سوزولو لپاره تېل سرۀ کړي، ماشومان به (سفياني ته) ووائي چې که زمونږ پلارانو له تا سره مخالفت کړې وي نو زمونږ ګناه څه ده چې خا مخا دې وسوزولې شو؟ هغه به د ماشومانو له منځ نه د حسن او حسېن په نوم دوه ماشومان راوباسي او پانسي به يې کړي. بيا به کوفې ته لاړ شي او هم هغه (تېر وحشتناک) سلوک به د هغه ځای له ماشومانو سره هم وکړي او په هم هغو نومونو دوه ماشومان به د کوفې په جومات کښې پانسي کړي او له هغه ځايه به بهر وځي او بيا به نور جنايتونه او جرائم کوي او په داسې حال کښې چې په لاسونو کښې به يې نېزه وي يوه اميدواره ښځه به ونيسي او هغه به خپل يو ملګري ته حواله کړي او حکم به ورکړي چې د لارې په مېنځ کښې يې په ناموس باندې حمله وکړي، هغه به له دغې حملې نه وروسته د ښځې خېټه وڅېري او بچی به ترې بهر راوباسي او هيڅوک به نۀ وي چې داسې لړزوونکی حالت بدل کړي.))[1]

امام جعفر صادق عليه السلام د لوح په خبر کښې فرمائي: ((خدای پاک به خپل رحمت د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم د لور د زوی په وسيلې سره مکملوي، هغه کس چې د موسی عليه السلام کمال، د عيسی عليه السلام عظمت او د ايوب عليه السلام صبر او استقامت لري. زما دوستان او مينه وال به د هغۀ (له ظهور) نه مخکښې خوار او ذليل وي او سرونه به يې د ترک او ديلم د اوسېدونکو په شان (د ظالمو

[1] - عقدالدرر ۹۴ مخ، الشيعه والرجعه ۱ ټوک ۱۵۵ مخ.

حکمرانانو لپاره) ډالۍ کولې شي، هغوي به وژل کيږي، سوزول کيږي او ويرولې او ګواښلې به شي، زمکه به يې په وينو سره رنګينيږي او د ښځو ترمينځ به يې چغې او فريادونه زياتيږي، هغوي زما حقيقي مينه وال دي، هغه (امام مهدي) به د هغوي په ذريعې سره فتنه رېندوي، تيارې به ختموي،زلزلې (ناقرارۍ) به لرې کوي او له هغوي څخه به د اسارت زولنې او زنځيرونه پرانيزي، د خدای پاک درود او سلام دې په هغوي وي چې هم هغوي هدايت شوي کسان دي.))[1]

ابن عباس وائي: ((سفياني او فلاني به خروج کوي او په خپلو کښې به جنګيږي، په داسې ډول چې سفياني به دښځو خېټې څيري او ماشومان به په لويو لوي دېګونو کښې اچوي او سوزوي به يې.))[2]

ارطات وائي: ((سفياني به هر هغه کس چې ورسره مخالفت کوي وژني، په ارې سره به خپل مخالفان دوه ټوټې کوي او په دېګونو سره به هغوي هلاکوي، دغه ظلمونه به تر شپږو مياشتو پورې جاري وي.))[3]

د) د ژوندو کسانو د مرګ آرزو

د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما ځان يې په اختيار کښې دی دنيا به ختمه نۀ شي ان تردې چې هغه زمانه راورسي چې سړی به د هديرې تر څنګه د تېرېدو په وخت ځان په قبر باندې راوغورزوي او وائي به: کاش زۀ د دې قبر د خاوند په شان وې، په داسې حال کښې چې د هغۀ مشکل به څه قرض پور نۀ وي بلکې د زمانې مصيبتونه، دردونه او ظلم او جور وي.))[4]

په روايت کښې د رجل (سړي) د کلمې له ذکر نه دوه مطلبه اخېستې کيږي. يو دا چې د هغه وخت مصيبتونه او مشکلات او ورپسې د مرګ آرزو کول يوې خاصې ډلې، خاص قوم او خاص ملت سره اختصاص نۀ لري او ټول به له ناخوښو حوادثو څخه په رنځ او درد کښې وي. دويم دا چې د سړي تعبير د هغه دباو او سختۍ د زياتوالي

---

[1] - کمال الدين ۱ ټوک، ۳۱۱ مخ، ابن شهر آشوب، مناقب ۲ ټوک، ۲۹۷ مخ، اعلام الوری ۳۷۱ مخ،اثبات الوصيه ۲۲۲ مخ.

[2] -ابن حماد، فتن ۸۳ مخ، ملاحم ابن طاؤس ۵۱ مخ.

[3] -مستدرک حاکم ۴ ټوک، ۵۲۰ مخ، الحاوی للفتاوی ۲ ټوک، ۶۵ مخ، منتخب کنزالعمال ۲ ټوک، ۳۱ مخ (حاشيه مسنداحمد بن حنبل) احقاق الحق ۱۳ ټوک ۲۹۳ مخ.)

[4] - مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک، ۲۳۶ مخ، صحيح مسلم ۴ ټوک، ۲۲۳۱ مخ، المعجم الکبير ۹ ټوک، ۴۱۰ مخ، مصابيح السنه ۲ ټوک ۱۳۹ مخ، عقدالدرر ۲۳۲ مخ.

ښودنه کوي، ځکه چې په غالبه توګه سړي د هغې زمانې د مشکلاتو او نابرابريو په وړاندې له ښځو نه زيات مقاومت کوي او دا چې سړي د هغې زمانې د مشکلاتو او مصيبتونو د زغملو توان نۀ لري استفاده کيږي چې مشکل ډېر غټ او ملا ماتوونکی دی.

او ابوحمزه ثمالي وائي: امام محمد باقر عليه السلام فرمائي: «ای ابوحمزه! حضرت قائم عليه السلام به قيام ونکړي مګر په هغه دوران کښې چې ويره او خوف به زيات او مصيبتونه او فتنې به (په ټولنه باندې) واکمنې وي او خلق به له مصيبتونو او مشکلاتو سره مخامخ وي او له دې نه زياته دا چې د طاعون بيماري به خپره شي، د عربو ترمېنځ به سخت او هلاکوونکي جنګونه رامنځته شي، د خلقو ترمېنځ به سخت اختلافات واکمن شي په دين او مذهب کښې به اختلافات او جدائی رامنځته شي او د خلقو حالت به بدل شي تر دې حده چې هر آرزومند به په هره ورځ او شپه کښې له هغه ځه ځخه چې له دروند خويه کسانو او د يو بل په حقوقو باندې د هغوي له تېريو ځخه ويني د مرګ آرزو کوي.»[1]

حذيفه صحابي د خدای له ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم نه نقلوي: «په يقين سره هغه زمانه به په تاسو باندې راورسي چې انسان به په هغه وخت کښې د مرګ آرزو کوي، بې له دې چې د غريبۍ او لاس تنګۍ په وجه په دباؤ کښې وي.»[2]

هـ) په اسارت کښې د مسلمانانو راتلل

حذيفه بن اليمان وائي: د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د هغو مشکلاتو د شمېرلو په ترڅ کښې چې مسلمانان به ورسره مخامخ کيږي، وې فرمايل: «د هغو دباوونو په وجه چې هغوي ته به رسيږي.ازاد او پتمن کسان به خرڅوي او ښځې او سړي به په غلامۍ باندې اقرار کوي، مشرکان به مسلمانان خپل نوکران او مزدوران کوي او هغوي به په ښارونو کښې خرڅوي او څوک به په دې چاره باندې نۀ خفه کيږي نۀ نېکان، نۀ بدان او نۀ فاجران.

[1] - غيبت نعماني ۲۳۵ مخ، غيبت طوسي ۲۷۴ مخ، اعلام الوری ۴۲۸ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۴۸ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۴۰ مخ، حليه الاولياء ۲ ټؤک، ۲۲۲ مخ، بشاره الاسلام ۸۲ مخ.

[2] - مصنف ابن ابي شيبه ۱۵ ټوک، ۹۱ مخ، موطا مالک، ۱ ټوک، ۲۴۱ مخ، صحيح مسلم ۸ ټوک، ۱۸۲ مخ، مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک، ۲۳۲ مخ، بخاري ۹ ټوک ۷۳ مخ، فردوس الاخبار ۵ ټوک ۲۲۱ مخ.

ای حذیفه! مصیبتونه به د هغې زمانې په خلقو باندې دوام پیدا کړي، په داسې ډول چې مایوس به شي او په ارامښت او پراختیا باندې به بدګمانه شي، په دغه موقع به خدای پاک زما د اهلبیتو له پاکانو او زما د اولاد له نېکانو څخه یو سړی چې عادل، مبارک او پاک به وي، راولېږي هغه به لږه شان هم تیریدنه او ډډه نه کوي، خدای پاک به دین، قران شریف، اسلام او د هغهٔ خاوندان د هغهٔ په مرستې سره عزتمن کوي او شرک به ذلیلوي. هر وخت به له خدایه ویره کوي او هیڅ کله به (له ما سره) په خپله خپلوۍ باندې نه مغروریږي، کاڼي به په کاڼي نهٔ ږدي او څوک به په کوړو نهٔ وهي مګر په حق سره او د حد د اجرا لپاره،خدایپاک به د هغه په وجه بدعتونه ختم او فتنې به نابودې کړي او د حق ور به خلاص او د باطل ورونه به وتړي او مسلمان قېدیان او اسیران چې د نړۍ په هره سیمه کښې وي خپلو وطنونو ته ستانهٔ کړي.))[1]

و) په زمکه کښې ننوتل

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((په یقین سره په دې امت باندې به داسې زمانه راشي چې ورځ به شپې ته ورسوي، په داسې حال کښې چې له یو بل نه به پوښتنه کوي چې نن شپه زمکې څوک کسان ځان ته راکښل، لکه چې له یو بل نه پوښتنه کوي چې له فلانۍ قبیلې څخه څوک کسان باقي پاتې دي او ایا له فلانې خاندان څخه څوک کس باقي پاتې دی؟))[2]

کېدې شي دا وېنا په اخره زمانه کښې د جنګ او قتل عام کنایه وي چې له پرمختللیو او د ډله ایزې وژلې له وسلو نه په استفادې سره هره ورځ ګڼ شمېر خلق وژل کیږي او شاید د ګناه د کثرت په وجه زمکه خلق ځان ته راکاږي،

ز) د ناګهاني مرګونو زیاتوالی

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: د قیامت له نښو نښانو څخه د فالج بیماري او ناګهانه مرګ دی.))[3]

[1] - ملاحم ابن طاؤس ۱۳۲ مخ.

[2] - المطالب العالیه ۴ ټوک، ۳۴۸ مخ.

[3] - امالي شجري ۲ ټوک، ۲۷۷ مخ.

همدارنګ فرمائي: ((قيامت به رانشي ان تردې چې سپين مرګ راڅرګند شي.)) خلقو پوښتنه وکړه: يا رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم سپن مرګ څه څيز دی؟ وې فرمايل: ((ناګهاني مرګ.))[1]

اميرالمومنين عليه السلام فرمائي: ((د قائم (عليه السلام) له ظهور نه مخکښې سور او سپين مرګ وجود لري.. سپين مرګ طاعون دی.))[2]

امام محمد باقر عليه السلام فرمائي: (( حضرت قائم (عليه السلام) به قيام ونکړي مګر په هغه زمانه کښې چې سخته ويره واکمنه وي او له هغې نه مخکښې هم طاعون بيماري خپره شي.))[3]

ح) له خلاصونه د دنيا د خلقو نااميدي

د خدای ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((ای علي د مهدي (عليه السلام) ظهور به هغه وخت وي چې ښارونه بدل شي، د خدای بندګان کمزوري شي او د مهدي (عليه السلام) له ظهور او څرګنديدو څخه مايوسه شي، نو دغه وخت به زما له اولاد څخه مهدي قائم (عليه السلام) راڅرګند شي.))[4]

ابو حمزه ثمالي وائي: امام محمد باقر عليه السلام وفرمايل: ((د مهدي (عليه السلام) ظهور به په کارونو کښې د خلقو د مشکلاتو له اواري او د هغه حضرت له راڅرګنديدو څخه د نااميدۍ او مايوسۍ په وخت کيږي.))[5]

حضرت علي عليه السلام په دې حقله فرمائي: ((په يقين سره زما له اهلبيتو څخه به يوکس زما جانشين کيږي او د هغهٔ جانشيني به له سخت او له مصيبت نه له ډک دورانه وروسته وي، هغه دوران چې پکښې به مصيبتونه او تکليفونه ډير زيات شي او اميدونه او هيلې به ختمې شي.))[6]

---

[1] - الفائق ۱ ټوک، ۱۴۱ مخ.

[2] - غيبت نعماني ۲۷۷مخ، غيبت طوسي ۲۲۷ مخ، اعلام الورى ۴۲۷ مخ، خرائج ۳ ټوک، ۱۱۵۲ مخ، عقدالدرر ۶۵ مخ، الفصول المهمه ۳۰۱ مخ، صراط المستقيم ۲ ټوک ۲۴۹ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۲۱۱ مخ.

[3] - بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۴۸ مخ.

[4] -ينابيع الموده ۴۴۰ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک ۱۲۵ مخ.

[5] - بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۴۸ مخ.

[6] - ملاحم ابن المنادي ۲۴ مخ، شرح ابن ابي الحديد ۱ ټوک، ۲۷۲ مخ، المسترشد ۷۵ مخ، ارشاد مفيد ۱۲۸ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک، ۵۹۲ مخ، غايه المرام ۲۰۸ مخ، بحارالانوار ۳۲ ټوک، ۹ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک ۳۱۴ مخ، منتخب کنزالعمال ۷ ټوک، ۳۵ مخ.

ط) د فریاد اورېدونکي، پناه او اسرې نهٔ شتون

پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((مصیبتونه او تکلیفونه به په دې امت باندې داسې رانازل شي چې انسان به هیڅ یو داسې د پناه ځای او اسره نهٔ مومي چې له ظلم نه ورته پناه یوسي.))[1]

همدارنګ فرمائي: ((په اخره زمانه کښې به زما په امت باندې د هغوي د حکومتونو لخوا سخت مصیبتونه او تکلیفونه نازلیږي چې یو مومن به داسې څه د پناه ځای او اسره نهٔ مومي چې له ظلم نه ورته پناه یوسي.))[2]

په یو بل روایت کښې فرمائي: ((تاسو ته دې د فاطمې (بي بي علیها السلام) له اولاد څخه د مهدي علیه السلام زېری وي. هغه به د مغرب له طرفه ظاهرېږي او زمکه به له عدل او انصاف نه ډکوي.)) پوښتنه ترې وشوه چې یا رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم دغه ظهور به په کومه زمانه کښې کېږي؟ حضرت وفرمایل: ((کله چې قاضیان رشوتونه اخلي او خلق فاجران شي.)) عرض وشو: مهدي علیه السلام به څنګه وي؟ وې فرمایل: ((له خپلو خپلوانو او خاندان څخه (جدا) به په تنهائۍ کښې ژوند اختیاروي او له خپل وطن څخه به لرې وي او په پردېسۍ کښې به ژوند کوي.))[3]

امام محمد باقر علیه السلام فرمائي: ((هغه څوک چې تاسو یې په انتظار کښې یئ و به یې نهٔ وینئ مګر په هغه زمانه کښې چې د هغې مړې بزې (چېلۍ) په شان شئ چې د یو داړونکي ځناور په پنجو کښې ګرفتاره وي چې ورته هیڅ فرق نهٔ وي چې لاس کوم ځای کېږدي. په هغه وخت کښې به له حملو او تیري څخه نهٔ څه ځای لرئ چې ورته لاړ شئ او نهٔ به څه پناه مومئ چې ملا پرې وتړئ.))[4]

ی) جنګونه، قتل عام او فتنې

له روایتونو څخه څرګندیږي چې د حضرت امام مهدي علیه السلام له راڅرګندېدو نه مخکښې به په هر ځای کښې جنګونه او قتل عامونه زیاتیږي. په ځینو روایتونو کښې د فتنو ذکر شوی دی، یو شمېر روایتونه د جنګونو خبر ورکوي او ځینې هم د جنګونو او د طاعون په شان بیماریو له لاسه د انسانانو د وژل کېدو خبره راوړي.

---

[1] -بیان شافعي ۱۰۸ مخ.
[2] -عقدالدرر ۴۳ مخ.
[3] - احقاق الحق ۱۹ ټوک ۲۷۹ مخ.
[4] - کافي ۸ ټوک، ۲۱۳ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټؤک ۲۴۲ مخ.

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((له ما نه پس به تاسو ته څلور فتنې دررسیږي، په اوله فتنه کښې به وینې مباح ګڼل کیږي او قتل عامونه به زیات شي. په دویمه فتنه کښې به وینې او مالونه حلالیږي او د مالونو لوټمار به زیات شي، په دریمه فتنه کښې به د خلقو وینې، مالونه او ناموسونه مباح ګڼل کیږي او له قتل او غارت نه علاوه به د انسانانو ناموسونه هم په امان کښې نۀ پاتې کیږي. او څلورمه فتنه داسې یوه کڼه او ړنده او ډېره سخته فتنه ده لکه په سمندر کښې د ماتې او غرقېدونکې کشتۍ په شان، له دغې فتنې څخه به څوک د پناه ځای نۀ مومي. دغه فتنه به له شام نه رااوچتیږي او په عراق کښې به خوریږي او د حجاز د جزیرې لاسونه پښې به پکښې ډوبیږي، مصیبتونه به خلق له لادو بادو وباسي او خلق به داسې شي چې د اعتراض وس به هم نۀ لري او چې یو ځای کښې اور مړ کوي په بل ځای کښې به غرغنډې راوچتیږي.))[1]

په یو بل مبارک حدیث کښې فرمائي: ((له ما نه پس به داسې فتنې راپېښې شي چې له هغو نه د خلاصون څه لاره به نۀ وي، په هغو کښې جنګونه ، تېښتنه او مهاجرتونه دي، له دغو فتنو نه پس به له تېرو فتنو نه زیاتې سختې فتنې وي، لا د یوې فتنې اور به نۀ وي مړ شوی چې په بل ځای‌کښې به غرغنډه شوی وي ان تردې چې په عربو کښې به داسې کور نۀ وي پاتې چې دغه اور به ورته نۀ وي رسېدلی او هیڅ مسلمان به نه وي پاتی چې دغه فتنه ورته نۀ وي رسېدلې. نو دغه وخت به زما له کورنۍ څخه یو سړی راڅرګندیږي.))[2]

دغه شان فرمائي: ((ډېر زر به له ما نه پس یوه فتنه رااوچته شي چې که له هرې خوا نه ارام ومومي نو له نورو خواو نه به پراخه شي ان تردې چې له اسمان څخه چغه ووهلې شي چې ستاسو امیر او قوماندان حضرت مهدي (علیه السلام) دی.))[3]

په دغو روایتونو کښې د فتنې خبره شوې ده چې د حضرت امام مهدي علیه السلام له ظهور نه مخکښې په هر ځای کښې خوریږي خو په یو شمېر نورو روایتونو کښې په وضاحت سره د سختو جنګونو خبره راغلې ده چې دلته یې بیانوو:

عمار یاسر وائي: ((په اخره زمانه کښې به ستاسو د پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د اهلبیتو علیهم السلام دعوت او پېغام دا وي چې له هر ډول جنګ نه ډډه وکړئ تر هغه

[1] - ملاحم ابن طاؤس ۲۱مخ، کمال الدین ۲ ټوک ۳۷۱مخ.
[2] -عقدالدرر ۵۰ مخ.
[3] -احقاق الحق ۱۳ مخ، ۲۹۵ مخ، مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک ۳۷۱مخ.

وخته چې له اهلبېتو څخه رهبران ووينئ، هغه وخت چې تركان به له روميانو سره مخالفت كوي او په زمكه كښې به جنګونه زيات شي.))[1]

په ځينو روايتونو كښې د امام مهدي عليه السلام له راڅرګندېدو نه مخكښې د قتل او وژلو خبره شوې ده. په دغو روايتونو كښې ځينې د قتل عام خبره كوي او ځينې نور د قتل عام د خورېدو خبره كوي.

امام رضا عليه السلام په دې باره كښې فرمائي: ((د زمانې د امام (عليه السلام) له ظهور نه مخكښې به پرله پسې او بې وقفې قتل عامونه رامنځته شي.))[2]

ابوهرېره وائي:په مدينه ښار كښې به داسې قتل عام كيږي چې پكښې به د ((احجارالزيت))[3] سيمه تس نس شي او د ((حرّه))[4] غمناكه واقعه به د هغې په مخكښې يوې لښتې له ګوزار نه زياته نهٔ وي. بيا به له قتل عام نه وروسته له مدينې نه دوه فرسنګه لرې له حضرت مهدي (عليه السلام) سره بيعت كيږي.[5]

ابو قبيل وائي: ((له بني هاشمو څخه به يو كس د حكومت واګې په لاسو كښې نيسي او يوازې بني اميه به قتل عام كوي په دا ډول چې له هغوي څخه به له لږو تنو نه بغېر څوک نهٔ پاتې كيږي، بيا له بني اميهٔ څخه يو كس خروج كوي او د هر كس په مقابل كښې به دوه تنه وژني داسې چې له ښځو نه بغېر به څوک نهٔ پاتې كيږي.))[6]

د خداى ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم داسې فرمائي: ((زما دې په هغه خداى قسم وي چې زما ځان يې په اختيار كښې دى چې دنيا به ختمه نهٔ شي ان تردې چې هغه زمانه راورسي چې نهٔ به قاتل پوهېږي چې ولې قتل كوي او نهٔ به د مقتول د قتلېدو وجه معلومه وي او ګډوډې به په هر ځاى كښې خوره وي. په داسې وخت كښې به قاتل او مقتول دواړه دوزخيان وي.))[7]

---

[1] - غيبت طوسي نوى چاپ ۴۴۱ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۱۲ مخ.

[2] -قرب الاسناد ۱۷۰ مخ، غيبت نعماني ۲۷۱ مخ.

[3] - په مدينه منوره كښې يو ځاى دى چې پكښې به د استسقاء (باران) نمونځ كېدهٔ، معجم البلدان ۱ ټوک ۱۰۹ مخ.

[4] -د امام حسېن عليه السلام له شهادت نه ورسته د يزيد په خلاف د مدينې دخلقو پاڅون او د يزيد په حكم د مدينې د خلقو قتل عام چې پكښې له لسو زرو نه زيات كسان ووژل شول او دا مقام هم هغه ((حره واقم)) دى، معجم البلدان ۲ ټوک ۲۴۹ مخ.

[5] - ملاحم ابن طاؤس ۵۸ مخ.

[6] - ملاحم ابن طاؤس ۵۹ مخ.

[7] - فردوس الاخبار ۵ ټوک ۹۱ مخ.

اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام فرمائي: ((د قائم (عليه السلام) له ظهور نه مخکښې به دنيا له دوه ډوله مرګونو سره مخامخيږي، سپين مرګ او سور مرګ، سور مرګ به په توريې (وسلې) سره وي او سپين مرګ به په طاعون بيمارۍ سره وي.))[۱]

امام محمدباقر عليه السلام فرمائي: ((د قائم آل محمدصلى الله عليه و آله وسلم له پاره دوه غيبتونه دي چې يو له بل نه اوږد دی. په هغه وخت کښې به خلق له مرګونو او قتل عامونو سره مخامخ کيږي.))[۲] د خدای د ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم صحابي جابر بن عبدالله انصاري وائي: له امام محمد باقر عليه السلام څخه مې پوښتنه وکړه: د امام مهدي عليه السلام دغه ظهور به په کومه زمانه کښې رامنځته کيږي؟ امام په ځواب کښې وفرمايل: ((ای جابره! څه ډول به دا چاره پوره کيږي په داسې حال کښې چې لا د حيره[۳] کوفې ترمېنځ د وژل شويو کسانو شمېر نۀ وي زيات شوی.))[۴]

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((د قائم (عليه السلام) له ظهور نه مخکښې به دوه ډوله مرګونه راڅرګنديږي، سور مرګ او سپين مرګ. انسان به په دومره اندازه کښې وژل کيږي چې له هرو اووتنو څخه به پينځۀ تنه هلاکيږي.))[۵]

اميرالمومنين امام علي عليه السلام وفرمايل: ((حضرت مهدي (عليه السلام) به ظهور ونکړي مګر دا چې دريمه برخه خلق به ووژل شي، بله دريمه برخه به مړۀ شي او يوه برخه خلق به پاتې شي.))[۶]

له امام نه پوښتنه وشوه چې ايا د حضرت مهدي عليه السلام د ظهور لپاره څه علامت او نښه نښانه شته؟ وې فرمايل: ((نعم، قتل فظيع و موت سريع و طاعون شنيع،))[۷]

((هو، د حضرت (عليه السلام) د ظهور لپاره يو لړ نښې نښانې شته، منجمله نړيوال او سپک قتلونه او د چټکو او پرله پسې مرګونو او د طاعون بيمارۍ خورېدل.))

او د ارشاد القلوب[۸] په نقل سره: ((قتل ذريع)) يعنې په چټکتيا او نړيوال قتلونه.

---

۱ - غيبت نعماني ۲۷۷ مخ، ارشاد مفيد ۳۵۹ مخ، غيبت طوسي ۲۲۷ مخ، صراط المستقيم ۲ ټوک، ۲۴۹ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۲۱۱ مخ.

۲ - غيبت نعماني ۱۷۳ مخ، دلائل الامامه ۲۹۳ مخ، تقريب المعارف ۱۸۷ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۱۵۲ مخ.

۳ - له کوفې نه په شپږو کيلو ميټرو کښې يوښار دی معجم البلدان ۲ ټوک۳۲۸ مخ.

۴ - غيبت طوسي نوی چاپ ۴۴۲ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک۷۲۸ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۲۰۹ مخ.

۵ - کمال الدين ۲ ټوک ۲۲۵ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۷۲۸ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۰۹ مخ.

۶ - ملاحم ابن طاؤس ۵۸ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک ۲۹ مخ.

۷ - هدايت حصيني ۳۱ مخ.

۸ - ارشاد القلوب ۲۸۲ مخ.

او د مدينه المعاجز[1] په نقل سره: ((قتل رضيع)) يعنی سپک او پست قتلونه.
او د حليه الابرار[2] په نقل سره: ((قتل فضيع)) يعنې ناوړه او تراخه قتلونه.
د روايت معنا په دا ډول ده:

محمد بن مسلم وائي: امام جعفر صادق عليه السلام وفرمايل: ((د زمانې امام به ظهور ونهٔ کړي مګر دا چې په دريو کښې دوه برخې خلق به له منځه لاړ شي.)) عرض وشو: که په دريو کښې دوه برخې خلق مړهٔ شي نو څومره به باقي پاتې شي؟ وې فرمايل: ((ايا راضي نهٔ يئ (او خوښه مو نهٔ ده) په دريو کښې له پاتې دريمې برخې څخه شئ؟))[3]
امام جعفر صادق عليه السلام وفرمايل: ((امر (ظهور) به تحقق پېدا نکړي ان تردې چې په لسو کښې نهٔ برخې خلق تباه شي.))[4]
امام علي عليه السلام فرمائي: ((... په هغه زمانه کښې به د خلقو له دريو برخو نه له يوه برخه خلقو نه زيات باقي پاتې نهٔ شي.))[5]
د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: ((له هرو لسو زرو کسانو څخه به نهٔ زره او نهٔ سوه کسان قتل کړې شي او بې له يو شمېر لږو کسانو به څوک ژوندي پاتې نهٔ شي.))[6]
ابن سېرين وائي: ((حضرت مهدي عليه السلام به ظهور ونکړي ان تردې چې له هرو نهو تنو څخه به اوهٔ تنه وژل کيږي.))[7]
له دغو ټولو مبارکو روايتونو څخه دا ډول استفاده کيږي:
١- د امام مهدي عليه السلام له ظهور نه مخکښې به زيات قتل عامونه رامنځته کيږي او ډېر انسانان به وژل کيږي او کوم کسان چې باقي پاتې کيږي له وژل شويو کسانو څخه به ډېر کم وي.

---

١ - مدينه المعاجز ١٣٣ مخ.
٢ - حليه الابرار ٢٠١ مخ.
٣ - غيبت طوسي نوی چاپ، ٣٣٩ مخ، کمال الدين ٢ ټوک، ٦٥٥ مخ، اثبات الهداه ٣ ټوک ٥١٠ مخ، بحارالانوار ٥٢ ټوک ٢٠٧ مخ.، الزام الناصب ٢ ټوک، ١٣٦ مخ، فتن ابن حماد ٩١ مخ، کنزل العمال ١٤ ټوک ٥٨٧ مخ، برهان متقي هندي ١١١ مخ.

٤ - الزام الناصب ٢ ټوک١٣٦ او ١٨٧ مخ، عقدالدرر ٥٤ ، ٥٩، ٢٣، ٦٥، ٢٣٧ مخونه، غيبت نعماني ٢٧٤ مخ، بحارلانوار ٥٢ ټوک ٢٤٢ مخ،
٥ - هدايه حصيني ٣١ مخ، ارشادالحق ٢٧٢ مخ.
٦ -مجمع الزوائد ٥ ټوک، ١٨٨ مخ.
٧ - ملاحم ابن طاؤس ٧٨ مخ.

۲- يو شمېر خلق به په جنګونو کښې وژل کيږي او يوشمېر به نور د خورو شويو بيماريو په ذريعې سره چې په زيات احتمال له جنګونو څخه په ځای پاتې شوي مړيو او لاشونو په وجه به رامنځته کيږي مړۀ کيږي. همدارنګ کېدې شي چې دغه شمېر خلق د کېميائي ، جراثيمي او مېکروبي وسلو په وجه چې کومې بيمارۍ خوريږي مړۀ کيږي.

۳- د هغو کمو کسانو ترمنځ چې باقي او ژوندي به پاتې کيږي د امام مهدي عليه السلام شيعه او مينه وال وي ځکه چې دغه کسان به وي چې له امام مهدي عليه السلام سره به بيعت کوي. همدا رنګ د امام جعفر صادق عليه السلام په وېنا کښې راغلي دي چې ايا تاسو راضي نۀ يئ چې له هغه پاتې شوې دريمې برخې څخه وګرځئ؟

## پینځم باب

## د امام مهدي علیه السلام د ظهور په زمانه کښې د نړۍ اقتصادي حالت

د دې باب له مبارکو روایتونو څخه دا معلومېږي چې د فسادونو، تباهیو د زیاتېدو، د رحم او مهربانۍ د ختمېدو او د جنګونو د رامنځته کېدو په وجه به نړۍ له اقتصادي نظره په بد حالت کښې وي، په دا ډول چې اسمان به هم په هغوي باندې رحم نهٔ کوي او د باران نازلېدل چې یو الهي رحمت دی هم د هغوي لپاره په غضب باندې بدل شي او د تباهۍ سبب به وګرځي.

بې له شکه چې په اخره زمانه کښې به بارانونه کم شي او یا به په بل موسم کښې یعنې بې وخته وریدل شروع کړي چې د کر کیلې د تباهۍ سبب به ګرځي، سیندونه او نهرونه به اوچ شي او پټي به فصلونه نهٔ کوي، د تجارت رونق به ختم شي، فقر، غریبي او لوږه به زیاته شي، ان تردې چې خلق به د خپلو خېټو د مړولو لپاره خپلې لونړې او ښځې بازارونو ته راولي او هغوي به په ډېر کم خوراک باندې بدلوي.

الف) د بارانونو کمښت او د بې وخته بارانونو ورېدل

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((داسې یوه زمانه به په خلقو باندې راشي چې خدای پاک به باران په خپل موسم او وخت کښې حرام کړي او باران به نهٔ نازلیږي او هغه به بې وخته او بې موسمه وروي.))[1]

امیرالمومنین حضرت امام علي علیه السلام فرمائي: ((باران به د اوړي او ژمي په موسمونو کښې وریږي.))[2]

امام جعفر صادق علیه السلام په دې حقله فرمائي: ((د امام مهدي علیه السلام له راڅرګندېدو نه مخکښې به یو کال داسې وي چې ډېر بارانونه به وورېږي او تولې

[1] -جامع لاخبار ۱۵۰ مخ، مستدرک الوسائل ۱۱ ټوک، ۳۷۵ مخ.
[2] -دوحه الانوار ۱۵۰ مخ، الشیعه والرجعه ۱ ټوک ۱۵۱ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک، ۲۴۱ مخ.

مبوې به له منځه یوسي او کجوري به په اونو کښې سخا شي نو بس په هغه وخت کښې له څه شک او شبې سره مخامخ نۀ شئ.)) [1]

امام علي علیه السلام فرمائي: ((بارانونه به دومره کم کیږي چې زمکه به تخم نۀ زرغونوي او له اسمانه به باران نۀ نازلیږي، دغه وخت به مهدي (علیه السلام) ظهور کوي.)) [2]

عطاء بن یسار وائي: ((د قیامت له نښو نښانو څخه یوه دا ده چې باران به وریږي خو فصلونه به نۀ زرغونیږي.)) [3]

امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((....په کومه زمانه کښې چې حضرت قائم (علیه السلام) او اصحاب یې قیام وکړي د زمکې په سر به اوبۀ نۀ وي او مومنان به فریاد او زاري کوي او د خدای پاک له درګاه نه به اوبۀ غواړي ان تر دې چې خدای پاک به پرې اوبۀ نازلې کړي او هغوي به یې وڅښي.)) [4]

ب) د سیندونو او نهرونو وچېدل

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((د مصر ښارونه به د نیل د دریاب د اوچېدو له کبله وران ویجاړ شي.)) [5]

ارطات وائي: ((په هغه وخت کښې به د فرات سیند او نور سیندونه او نهرونه اوچ شي.)) [6]

همدارنګ راغلي دي: ((د طبرستان د سمندرګي اوبۀ به اوچې شي او د کجورو بوټي به میوه نۀ ورکوي او د ((زعر)) چینه به چې په شام کښې ده په زمکه کښې ډوبه شي.)) [7]

همدا رنګ راغلي دي: ((.... سیندونه به وچ شي او ګراني او قحطي به تر دریو کلونو پورې دوام ومومي.)) [8]

---

[1] - ارشاد مفید، ۳۲۱ مخ، غیبت طوسي، ۲۷۲ مخ، اعلام الوری ۴۲۸ مخ، خرائج ۳ ټوک، ۱۲۴ مخ، ملاحم ابن طاؤس ۱۲۵ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۲۱۴ مخ.

[2] - ملاحم ابن طاؤس ۱۳۴ مخ.

[3] - مصنف عبدالرزاق ۳ ټوک، ۱۵۵ مخ.

[4] - دلائل الامامه ۲۴۵ مخ.

[5] - بشاره الاسلام ۲۸ مخ.

[6] - فتن ابن حماد ۱۴۸ مخ.

[7] - بشاره الاسلام ۱۹۲ مخ، الزام الناصب ۱۲۱ مخ.

[8] - بشاره الاسلام ۹۸ مخ.

## ج) د ګرانۍ، لوږې او غريبۍ خورېدل او د تجارت بې رونقي

يو سړي له پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم څخه پوښتنه وکړه: ای د خدای ګران رسوله! (صلی الله عليه و آله وسلم) قيامت به کله راځي؟ وې فرمايل: ((له چا نه چې پوښتنه شوې ده (يعنې خپله پېغمبر) له پوښتنه کوونکي (يعنې هغه سړی) نه په دې حقله زيات آګاه نۀ  دی خو قيامت يو لړ نښې نښانې لري چې يوه پکښې د بازارونو تقارب دی.)) پوښتنه وشوه چې د بازارونو تقارب څه ته وائي؟ وې فرمايل: ((د بازارونو او تجارت بې رونقي، او د ونو بوټو او ګياهانو له زرغونېدو نه بغېر د بارانونو ورېدل.))[1]

امام علي عليه السلام ابن عباس ته وفرمايل: ((تجارت او معاملې به زياتې شي خو د ېره کمه ګټه به د خلقو په برخه کيږي او له دې نه پس به سخته قحطي راځي.))[2]

محمد بن مسلم وائي: له امام جعفر صادق عليه السلام نه مې واورېدل چې وې فرمايل: ((د حضرت قائم عليه السلام له ظهور نه مخکښې د خدای پاک لخوا د مومنانو لپاره يو لړ نښې نښانې دي.)) ومې ويل: خدای مې له تا نه قربان کړه، هغه نښې نښانې څه دي؟ وې فرمايل: ((هغه هم هغه د خدای پاک وينا ده چې فرمائي: ((وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ))[3] (او تاسو (مومنان) به (د امام له ظهور نه مخکښې) له ويرې، لوږې، د مال دولت له کمي، له ځانونو او ميوو څخه په يو څيز سره وزمايم،نوبس صبر کوونکي ته زېرى ورکړه.)) بيا يې وفرمايل: ((خدای پاک به مومنان له بني فلاني باچايانو څخه د ويرې په وجه د هغوي د حکومت په اخر کښې ازمائي او له لوږې نه مراد د بيو ګراني ده او د مال دولت له کمي نه مطلب د تجارت بې رونقي او د ګټو وټو کمښت دی او د ځانونو له نقصان نه مراد زيات، زر زر او پرله پسې مرګونه دي او د ميوو له کمښت نه مراد د کر کيلې د فصلونو او پېداوار کمښت دی نو بس صبر کوونکو ته هغه وخت د قائم عليه السلام د زر ظهور زېرى ورکړه.))[4]

[1] - الترغيب والترهيب ۳ ټوک، ۴۴۲ مخ.
[2] - ملاحم ابن طاؤس ۱۲۵ مخ.
[3] -سورۀ بقره (۲) ۱۵۵ ايت.
[4] -کمال الدين ۲ ټوک ۲۵۰ مخ، غيبت نعماني، ۲۵۰ مخ، ارشاد مفيد ۳۲۱ مخ، اعلام الورى ۴۵۲ مخ، تفسير عياشي ۱ ټوک، ۲۸ مخ.

او د اعلام الورى په نقل سره قله المعاملات د بازار د بې رونقۍ او د راکړې ورکړې د کمښت په معنا دي.[1]
امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((...په هغه زمانه کښې چې سفياني خروج وکړي نو خوراکي توکي به کم شي،په خلقو به قحطي راشي او بارانونه به کم وريږي.))[2]
ابن مسعود وائي: ((کله چې تجارتونه له منځه لاړ شي او لارې ورانې ويجاړې شي نو امام مهدي علیه السلام به ظهور کوي.))[3]
کېدې شي په هغه زمانه کښې د بازار بد حالت د پېداوار د مرکزونو او صنعتونو د ورانېدلو، د افرادي قوت د کمېدلو، د اخېستنې د قوت د کمېدلو، د قحطۍ د راتللو او د لارو د ناامنه کېدولو وغېره په وجه وي.
په مسند احمدبن حنبل کښې راغلي دي: (( د امام مهدي علیه السلام له ظهور نه مخکښې به خلق درې کاله له سختې لوږې سره مخامخ کيږي.))[4]
ابوهرېره وائي: ((په عربو باندې دې افسوس وي له هغه شر څخه چې هغوي ته نزدې کيږي، سخته لوږه به رامنځته کيږي او مياندې به د خپلو بچو د لوږې په وجه په ژړا سر کيږي.))[5]

د) د خوراک په بدله کښې د ښځو ورکول
د امام له ظهور نه مخکښې به د قحطۍ او لوږې مصيبت په دومره زياتې اندازې وي چې ځينې خلق به دې ته مجبوريږي چې د يو لږ خوراک په بدله کښې به د خپلو لوڼو معامله کوي. ابو محمد د اهل مغرب له يو کس نه روايت کوي : ((مهدي علیه السلام به ظهور ونکړي ان تردې چې سړى به د ډېرې زياتې غريبۍ او تنګ لاسۍ په وجه خپله ښکلې لور يا وينځه بازار ته راوړي او وائي به چې څوک شته چې دا لور له ما نه واخلي او د دې په بدله کښې راته څه خوراک راکړي؟ په دغو حالاتو کښې به حضرت مهدي علیه السلام ظهور کوي.))[6]

[1] -اعلام الورى ۴۵۲ مخ.
[2] - ملاحم ابن طاؤس ۱۳۳ مخ.
[3] -الفتاوى الحديثيه ۳۰ مخ، برهان متقي هندي ۱۴۲ مخ، عقدالدرر ۱۳۲ مخ.
[4] - سنن ابن ماجه ۲ ټوک ۱۳۴۳ مخ.
[5] -کنزالعمال ۱۱ ټوک، ۲۴۹ مخ.
[6] - ملاحم ابن طاؤس ۵۹ مخ.

## شپږم باب
## د هیلې ځرک

په تېرو بحثونو کښې د زمانې د امام علیه السلام له ظهور نه مخکښې د دنیا د حالت په باره کښې له یو شمېر روایتونو سره اشنا شو. که څه هم په دغو روایتونو کښې د ګډوډیو او مشکلاتو خبره شوې ده تر دې حده چې کېدې شي انسانان د مایوسۍ او نا امیدۍ په لور راکاږي، خو یو شمېر داسې روایتونه هم شته چې د پاکو اهلبېتو علیه السلام پېروکارو او مومنانو او ژمنه لرونکو انسانانو لپاره د امید کړکیو او روښانه ټکیو ته اشاره کوي.
په دغو کښې ځینې روایتونه د هغو مومنانو په باره کښې دي چې هیڅ کله زمکه له هغوي نه نۀ خالي کیږي او هغوي له ظهور نه مخکښې په سختو حالاتو کښې هم په ټوله نړۍ کښې موجود دي.
یو شمېر روایتونه د امام د غیبت په زمانه کښې د اسلامي عالمانو اوپوهانو رول ته اشاره کوي چې کله کله په معاشره کښې د بدلون سبب کیږي او هغوي د دین د محافظانو په توګه معرفي کوي. د معصومینو په ځینو وېناؤ کښې د زمانې د امام علیه السلام له ظهور نه مخکښې د قم د مقدس ښار خصوصي رول یاد شوی دی. او یو شمېر نور روایتونه هم د امام له ظهور نه مخکښې او وروسته د ایرانیانود فعال رول په حقله خبره کوي.

### الف) حقیقي مومنان

کله کله له داسې روایتونو سره مخامخ کیږو چې د هغو کسانو په ځواب کښې راغلي دي چې ګمان به یې کوۀ داسې زمانه به راځي چې معاشره به له مومنو انسانانو څخه خالي کیږي. امام علیه السلام د دې ګمان نفي کړې ده او په هره زمانه کښې یې د مومنانو د موجودګۍ خبره کړې ده.
زېد زراء وائي: امام جعفر صادق علیه السلام ته مې عرض وکړ: ویرېږم چې مونږ له مومنانو څخه نۀ یو. امام وفرمایل: ((ولې داسې فکر کوئ؟)) ومې ویل: ځکه چې وینو

زمونږ ترمېنځ داسې کس نشته چې خپل ورور له درهمو ديناورنو نه غوره وګڼي،خو دا چاره وينو چې درهمو دينارونو ته په هغه ديني ورور باندې چې د اميرالمومنين علي عليه السلام ولايت مونږ له يو بل ترڅنګه راغونډ کړي يو ترجيح ورکوو. امام جعفر صادق عليه السلام وفرمايل: ((خبره داسې نۀ ده چې تۀ يې کوې، تاسو د ايمان خاوندان يئ، مګر ستاسو ايمان تر هغه نۀ کامليږي چې تر څو قائم آل محمد عليه السلام ظهور ونکړي. ، په هغه وخت کښې به خداى پاک ستاسو عقل کامل کړي او تاسو به کامل مومنان شئ. په هغه خداى مې دې قسم وي چې زما ځان يې د قدرت په لاس کښې دى په ټوله دنيا کښې داسې انسانان شته چې د هغوي په نظر کښې ټوله دنيا د ماشي د وزر برابره نۀ ده.))[1]

ب) د اهلبېتو عليه السلام د مکتب د پېروکارو عالمانو او دانشورانو رول

په هره هغه زمانه کښې چې د جهالت تورو پردو په انساني معاشرو باندې خپل سيورى خور کړى دى نو دغه ديني پوهان او عالمان وو چې يې د خلقو له لمنو څخه د فساد او تباهۍ او د هغوي له فکرونو څخه د جهالت او ناپوهۍ د وينځلو لپاره په ښه توګه خپله ذمه واري ترسره کوله ، او له روايتونو څخه په دې پوهېږو چې ديني عالمان په اخره زمانه کښې هم دغه کردار په ښۀ توګه ادا کوي.

امام علي نقي عليه السلام فرمائي: ((که د قائم آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم د غېبت په دوران کښې داسې عالمان او دانشوران نۀ وې چې خلق د هغه حضرت لور ته هدايت او لارښوونه کړي او په الهي حجتونو سره له دين څخه دفاع وکړي او کمزوري شيعه (يعني د اهلبېتو عليه السلام د مکتب پېروکار) د شېطان او د هغۀ د پېروکارو له دامونو او د ناصبيانو (يعني د اهلبېتو د دښمنانو) له شر نه نجات ورکړي نو د خداى په دين کښې به څوک باقي نۀ وو پاتې شوي او ټول به مرتد شوي وو ، خو هغوي د کمزورو شيعۀ ؤ (د اهلبېتو د پېروکارو) رهبري په خپلو لاسو کښې کلکه نيسي او حفاظت يې کوي. لکه چې د کشتۍ چلوونکۍ د کشتۍ چپو او هېنډل په اختيار کښې لري، په دې بنياد هغوي د خداى پاک په نزد تر ټولو لوړ انسانان دي.))[2]

---

[1] - بحارالانوار ۲۷ ټوک، ۳۵۱ مخ.

[2] -تفسير امام حسن عسکري عليه السلام ۳۴۴ مخ، احتجاج ۲ ټوک، ۲۲۰ مخ، منيه المريد ۳۵ مخ، محجه البيضاء ۱ ټوک، ۳۲ مخ، حليه الابرار ۲ ټوک، ۴۵۵ مخ، بحارالانوار ۲ ټوک، ۲ مخ، العوالم ۳ ټوک ۲۹۵ مخ.

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په هره پېړۍ کښې د دين د ژوندي کوونکو په حقله فرمائي: ((لوی خدای د مسلمان امت لپاره د هرې پېړۍ په شروع کښې يو سړی (مجدد) راپاڅوي چې دين ژوندی کړي.))[1]

دغه دواړه روايتونه او داسې نور روايتونه په وضاحت سره د امام د غېبت په زمانه کښې د ديني عالمانو کردار ته اشاره کوي، او د شېطانانو د سازشونو شنډېدل او د دين بيا ژوندي کېدل د عالمانو او دانشورانو په لاسو ګڼي.

البته زمونږ په زمانه کښې د دې مطلب ثابتېدل څه دليل او برهان ته ضرورت نۀ لري ځکه چې د دښمنانو د سپېرو نقشو او منصوبو د ختمولو لپاره چې په معاصره نړۍ کښې يې د دين بنياد له خطر سره مخامخ کړی ؤ د امام خمېني (رح) کردار له چا نه پټ نۀ دی.

بې له شکه هغه عزت چې اسلام په دې زمانه کښې موندلی دی د ايران د اسلامي انقلاب او د هغۀ د باني حضرت امام خمېني (رح) په برکت سره دی.

ج) په اخره زمانه کښې د قم د مقدس ښار کردار

هغه وخت چې انساني معاشره د زوال او تباهۍ په لور روانه وي د اميد کړکۍ راخړګنديږي او يو شمېر کسان د تورو تيرو په زړۀ کښې د رڼا ښېرغچيان ګرځي. د قم مقدس ښار هم په اخره زمانه کښې دا کردار په غاړه لري.

زياتره داسې مبارک روايتونه شته چې دا مقدس ښار او د دې ښار تقوا دار او پارسا انسانان چې خپل وجودونه يې د پاکو اهلبېتو عليهم السلام له رڼې چينې څخه خړوب کړي او د پېغام د رسولو دنده يې په غاړه اخېستې ده ستائينه کوي.

د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له پاکو اهلبېتو څخه معصوم امامان عليهم السلام د زمانې د امام عليه السلام د غېبت د زمانې په ادبي او ثقافتي غورځنګ کښې د قم د مقدس ښار او د هغۀ د کردار په باره کښې مختلفې وېناوې موجودې دي چې ځينو ته پکښې اشاره کوو.

الف) قم د اهلبېتو عليهم السلام حرم

[1] - عن النبي صلي الله عليه و آله وسلم ان الله تعالى يبعث لهده الامه علي راس كل مائه سنه من يجدد لها دينها)) سنن ابي داؤد ۴ ټوک، ۱۰۹ مخ،مستدرک حاکم ۴ ټوک، ۵۲۲ مخ، تاريخ بغداد ۲ ټوک، ۲۱ مخ، جامع الاصول ۱۲ ټوک، ۲۳ مخ، کنزالعمال ۱۲ ټوک ۱۹۳ مخ، تر هغه ځايه چې ما کوشش وکړ له شيعه کتابونو څخه مې د دې روايت په حقله څه ثبوت او پېدا نکړ.

په ځينو روايتونو کښې راغلي دي چې قم او د هغۀ اوسېدونکي به د تشيع او ولايت نمونه وي. نو له دې امله به چې هر کس غوښتل د اهلبېتو عليهم السلام مينه وال او له هغوي سره دلچسپي لرونکیمعرفي کړي نو ورته به يې قمي خطاب کوۀ.
يو شمېر کسان د امام جعفر صادق عليه السلام په خدمت کښې حاضر شول او ورته يې عرض وکړ: مونږ د رې ښار اوسېدونکي يو، هغه حضرت ورته وفرمايل: «آفرين دې وي په تاسو باندې ای د قم اوسېدونکو.» هغوي څو ځل بيا بيا وويل چې مونږ له رې ښار څخه ستاسو په خدمت کښې حاضر شوي يو او هغه حضرت به هم هغه خپله وړومبۍ خبره تکراروله. بيا يې وفرمايل: «خدای پاک يو حرم لري چې په مکه کښې دی او د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم لپاره هم يو حرم دی چې هغه په مدينه کښې دی، کوفه د اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام حرم دی او زمونږ اهلبېتو عليهم السلام حرم قم دی او ډېر زر به زما له اولاد څخه فاطمه نومې يوه بي بي دغلته دفن کيږي، هر چا چې په معرفت سره د هغې زيارت وکړ نو جنت ورباندې واجبيږي.»
راوي وائي چې امام جعفر صادق عليه السلام دا خبره هغه وخت وکړه چې لا امام موسی کاظم عليه السلام هم نۀ ؤ زېږېدلی.[1]
صفوان وائي: يوه ورځ د امام موسی کاظم عليه السلام په خدمت کښې حاضر وم چې په خبرو خبرو کښې د قم د خلقو او له امام مهدي عليه السلام سره د هغوي د مينې خبره وشوه، اوم امام وفرمايل: «خدای پاک دې په هغوي باندې رحمتونه ووروي او له هغوي نه دې راضې وي» بيا يې خبرې ته دوام ورکړ: « جنت اتۀ دروازې لري چې يوه پکښې د قم د خلقو لپاره ده، د ښارونو او هېوادونو ترمېنځ هغوي زمونږ هوښيار او نيکان شيعه (پېروکار) دي. خدای پاک زمونږ ولايت او مينه د هغوي په خټه اوفطرت کښې اخښلې ده.»[2]
له دې روايت څخه معلوميږي چې اهلبېتو امامانو عليهم السلام د قم مقدس ښار د پاکو اهلبېتو او امام مهدي عليهم السلام د عاشقانو مرکز او اډه ګڼلې ده او د جنت يو ور چې د قم له ښار سره اختصاص لري کېدې شي باب المجاهدين يا باب الاخيار (د نېکانو ور) وي ځکه چې په روايتونو کښې هم د قم خلقو ته نېکان شيعه ويل شوي دي.

[1] - بحارالانوار ۲۰ ټوک، ۲۱۷ مخ.
[2] - بحارالانوار ۲۰ ټوک، ۲۱۲ مخ.

ب) د قم ښار په نورو باندې حجت

خدای پاک په هره زمانه کښې داسې انسانان لري چې په نورو باندې حجت وي او له دې امله چې هغوی د خدای‌پاک په لاره کښې قدم اخلي، د کلمه الله د اوچتولو لپاره مبارزه کوي، نو خدای پاک به د هغوي مرستندويه وي او د دښمنانو شر به له هغوي څخه لرې کوي.د امام مهدي عليه السلام د غېبت په زمانه کښې قم او د دغه ښار خلق په نورو انسانانو باندې حجت دي.

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((مصيبتونه او مشکلات له قم او د هغهٔ له اوسېدونکو څخه لرې دي او يوه داسې زمانه به راشي چې قم او د هغهٔ خلق به په ټولو خلقو باندې حجت وي او دغه زمانه به زمونږ د قائم عليه السلام د غېبت له وخت نه د هغه حضرت تر ظهوره پورې وخت وي او که داسې نهٔ وې نو زمکې به خلق ځانته راکښلي وو. په يقين سره فرښتې مصيبتونه له قم او د هغهٔ له اوسېدونکو څخه لرې کوي او هيڅ يو ظالم په قم باندې حمله نهٔ شي کولې مګر دا چې خدای پاک يې ملا ماته کړي او هغه به په درد او مصيبت اخته کوي او يا به يې له دښمن سره مخامخ کوي، خدای پاک د قم او د هغهٔ د اوسېدونکو نوم د ظالمانو له ياد څخه وباسي، څنګه چې دغو ظالمانو خدای هېر کړی وي.))[١]

ج) د اسلامي علومو او کلتور د خپرولو مرکز

په روايتونو کښې يو بل د پام وړ موضوع دا ده چې د قم ښار به د امام د غېبت په زمانه کښې د دنيا د مستضعفانو غوږو ته د اسلام د پېغام د رسولو لپاره د يو مرکز په توګه راڅرګندېږي او د دغه ښار ديني عالمان او دانشوران به د دنيا په خلقو باندې حجت وي.

امام جعفر صادق عليه السلام په دې حقله فرمائي: ((ډېر زر به د کوفې ښار له مومنانو څخه خالي شي او علم او پوهه به له هغه ځای څخه کډه يوسي او د هغه مار په شان به شي چې په يو ګوټ کښې منجيله شوی او محدود شوی وي او له هغه ښار څخه به چې قم نومېږي راڅرګندېږي. او هغه ځای به د علم او فضيلت مرکز او د پوهې او کمال سرچينه ګرځي، په دا ډول چې د زمکې په سر به هيڅ يو مستضعف او مظلوم (فکر) به

---

١ - بحارالانوار ٢٠ ټوک، ٢١٣ مخ.

نۀ پاتې کیږي حتی سترناکې ښځې چې له دین څخه آګاهي و نۀ لري، او دغه زمانه به زمونږ د قائم (علیه السلام) له ظهور سره نژدې زمانه وي.خدای پاک به قم او د هغۀ اوسېدونکي د حضرت مهدي (علیه السلام) جانشینان ګرځوي او که داسې نۀ وې نو زمکې به خپل اوسېدنکي ځانته راکښلي وې او څه حجت به په زمکه نۀ ؤ پاتی، نو په دې بنیاد علم او پوهه به د قم له ښار څخه د نړۍ شرق او غرب ته جاري کیږي او د نړۍ په خلقو باندې به حجت تمامیږي، په دا ډول چې هیڅ څوک به داسې نۀ پاتې کیږي چې دین او علم ورته نۀ وي رسېدلی، او هغه وخت به حضرت قائم (علیه السلام) ظهور کوي او په کافرانو باندې به د هغۀ په لاس باندې الهي عذاب نازلیږي، ځکه چې خدای پاک له بندګانو نه انتقام نۀ اخلي مګر هغه وخت چې حجتورباندې تمام شوی وي.))[1]

په یو بل روایت کښې راغلي دي: ((که د قم خلق نۀ وای نو دین به ختم شوی ؤ.))[2]

د) قم د فکري لارې تائید

له ځینو روایتونو څخه معلومیږي چې معصومو امامانو علیهم السلام د قم د عالمانو طریقه د تائید وړ ګرځولې ده.

امام جعفر صادق علیه السلام په دې حقله فرمائي: ((د قم د پاسه یوه فرښته مقرره ده چې خپلې دوه وزرې ورباندې خوزوي او هیڅ یو ظالم ورباندې د حملې جرات نۀ کوي مګر دا چې خدای پاک یې د مالګې په شان په اوبو کښې ویلي کوي.)) امام دغه وخت عیسی بن عبدالله قمي ته اشاره وکړه او وې فرمایل: ((د خدای پاک درود دې وي په قم باندې، د جهان پروردګار به یې زمکه له باران څخه خړوبه کړي او خپل برکتونه به ورباندې نازل کړي او ګناهونه به یې په نېکیو بدل کړي، هغوي د رکوع، قیام، سجود او قعود خاوندان دي، ځکه چې هغوي فقیهان، عالمان او د پوهې او فهم خاوندان دي ، هغوي د درایت، فکرخاوندان او نېک عبادت کوونکي دي.))[3]

دغه امام همدارنګ د هغه یو سړي په ځواب کښې چې یې وویل: غواړم له تاسو نه د یو داسې څیز په حقله پوښتنه وکړم چې له ما نه مخکښې درنه چا نۀ وي کړې او له ما

---

[1] - بحارالانوار ۶۰ ټوک، ۲۱۳ مخ، سفینه البحار ۲ ټوک ۴۴۵ مخ.

[2] - بحارالانوار ۶۰ ټوک، ۲۱۷ مخ..

[3] - بحارالانوار ۶۰ ټوک، ۲۱۷ مخ.

نه پس به هم و نهٔ کړي. ورته يې وفرمايل: ((شايدغواړې د حشر نشر په حقله پوښتنه وکړې؟))

وې ويل: هو. په هغه ذات مې دې قسم وي چې حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم يې زېرى ورکوونکى او خبرداروونکى مبعوث کړ. حضرت ورته وفرمايل: ((د ټولو خلقو حشر د بيت المقدس په لور دى،مرګ د جبل په سيمه کښې يو زيارت چې قم ورته وائي او د خداى پاک بخشش يې په برخه ګرځي.))

هغه سړى په داسې حال کښې چې نيم نيم له خپله ځايه پاڅېد وې ويل: اى د خداى د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم بچيه! ايا دا ځانګړتيا د قم خلق لري؟ امام ورته ځواب ورکړ: ((هو، هغوي او هر هغه کس چې له هغوي سره په عقيده کښې يو شان وي او د هغوي خبره کوي.))[1]

هـ) د امام مهدي عليه السلام مرسته کوونکي

د پام او غور ټکى دا دى چې په روايتونو کښې د قم خلق د امام مهدي عليه السلام د مرسته کوونکو او د هغو کسانو په توګه ياد شوي دي چې د اهلبيتو عليهم السلام د حق د اخيستو لپاره به پاڅون کوي.

عفان بصري وائي: امام جعفر صادق عليه السلام راته وفرمايل: ((ايا درته معلومه ده چې قم ته قم ولې ويل شوي دي؟ ومې ويل: خداى، د خداى رسول صلی الله عليه و آله وسلم او تاسو ته ښه معلومه ده. وې فرمايل: ((د قم نوم په دې وجه قم اېښودل شوى دى چې د دغه ځاى خلق به د حضرت امام مهدي عليه السلام چاپېره راغونډيږي او له هغه حضرت سره به قيام کوي او په دې لار کښې به د ټينګ اودرېدو ښودنه کوي او د هغه حضرت مرسته به کوي.))[2]

امام جعفر صادق عليه السلام په يو بل روايت کښې په دې حقله داسې فرمائي: ((د قم خاوره مقدسه ده او د قم خلق له مونږ او مونږ له هغوي څخه يو، ځوک ستمګر به پرې حمله نهٔ کوي مګر دا چې د هغهٔ په سزا کښې بيړه وشي. البته دا به تر هغه وخته وي چې له خپلو وروڼو سره خيانت ونکړي او کهٔ داسې يې وکړل نو خداى پاک به بدکرداره ظالمان په هغوي باندې مسلط کړي، البته د قم خلق زمونږ د قائم (عليه السلام) ملګري او زمونږ حق ته د خلقو رابلونکي دي.)) دغه وخت امام خپل سر

[1] - بحارالانوار ۲۰ ټوک، ۲۱۸ مخ.

[2] - بحارالانوار ۲۰ ټوک، ۲۱۲ مخ.

مبارک اسمان ته اوچت کړ او داسې دعا يې وکړه: ((خدايه پاکه! هغوي له هرې فتنې څخه وساتې او له هر هلاکت نه ورته نجات ورکړې.))[۱]

ايران د امام مهدي عليه السلام هيواد

هغه روايتونه چې د قم ښار په حقله ويل شوي دي تر يوې اندازې پورې د امام مهدي عليه السلام له ظهور نه مخکښې او د ظهور په وخت د ايرانيانو کردار څرګندوي خو د معصومينو په وېناؤ کښې په لږ غور سره دې نتيجې ته رسېږو چې هغوي ايران او د ايران خلقو ته يوه خاصه پام لرنه کړې ده او په مختلفو موقعو کښې يې له دين سره په مرسته کولو او د امام مهدي عليه السلام د ظهور لپاره په مېدان برابرولو کښې د هغوي د کردار په حقله خبره کړې ده. دلته د ايرانيانو د ستائېنې او د امام مهدي عليه السلام د ظهور لپاره په مېدان برابرولوکښې د هغوي د رول په حقله د څو روايتونو په وړندې کولو بسنه کوو:

د ايرن ستائېنه

ابن عباس وائي: د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم په خدمت کښې په خبرو کښې د فارس (ايران) د خلقو خبره راغله نو هغه حضرت صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: ((د فارس خلق (يعنې ايرانيان) له مونږ اهلبېتو (عليهم السلام) څخه دي.))[۲]

کله چې د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په مخکښې د مواليانو يا عجميانو[۳] يادونه وشو نو هغه حضرت صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: ((په خدای مې دې قسم وي چې زهٔ له تاسو نه زيات په هغوي باندې اطمينان لرم.))[۴]

ابن عباس وائي: ((هغه وخت چې کله توري جنډې ستاسو لوري ته راوړي نو د فارس د خلقو عزت او قدرونه وکړئ ځکه چې ستاسو حکومت له هغوي سره دی.))[۱]

---

۱ - بحارالانوار ۲۰ ټوک، ۲۱۸ مخ.

۲ - ذکر اصبهان ۱۱ مخ.

۳ - موالي ، مولی په لغت پېژندنه کښې مختلف اصطلاحات لري، علامه اميني دالغدير کتاب په وړومبي ټوک کښې دويشت اصطلاح ګانې او معنې نقل کړي دي په مبارکو ايتونو او حديثونو کښې په اصطلاح کښې پنځه معنې لري،ولا ، عشق، مينه، د اسلام ولا ، د تېرو مشرانو ولا ، د قبيلې ولا ، د عربو په مقابله کښې ولا چې مراد ترې غېر عرب دي او همدا معنا د رجالو د عالمانو مراد ده. التقريب و التيسير ۲ ټوک، ۳۳۳ مخ، د دې خبرې راز چې دا کلمه په ايرانيانو باندې تطبيق کوي کېدې شي د وجودي يا استعمالي غلبې په حکم سره وي ځکه ځينې د دې معنې مدعي شوي دي. له دې نه علاوه د پخوانيو او معاصرو عالمانو په ليکنو کښې همداسې تفسير شوی دی او مونږ هم د هغوي په پېروۍ کښې داسې تفسير کړی دی، البته اصرارورباندې نهٔ کوو.

((فارس)) به يې هغو سيمو ته ويل چې د روم هېواد په مقابل کښې وې چې ننی ايران او هغه سيمې چې په هغه زمانه کښې د ايران په قلمرو کښې وې پکښې شامليږي.

۴ - ذکر اصبهان ۱۲ مخ، الجامع الصحيح ۵ ټوک، ۳۸۲ مخ.

يوه ورځ اشعث امام علي عليه السلام ته د اعتراض په توګه وويل: ((اى اميرالمومنين! ولې دا عجميان له تا نه چاپېره راغونډ شوي دي او له مونږ نه وړاندې شوي دي؟ هغه حضرت قهرجن شو او ورته يې وفرمايل: ((څوک د دغو ستره جثه لرونکو ناخبرو کسانو په مقابل کښې چې د خرونو په شان په بسترو کښې رغړېږي او د مشهورتيا او غرور په خاطر له يو قوم نه مخ ګرځوونکي کيږي ما معذور ګڼي. ايا ما ته حکم راکوې چې دوي له ځانه لرې کړم؟ هيڅکله به دوي له ځانه اخوا نۀ کړم [2] چې له جاهلانو څخه وګرځم، په هغه خداى مې دې قسم وي چې دانه يې چاودلې ده او پېداوښت يې پېدا کړی دی دوي به د اسلام مبين دين د بيا راستنولو لپاره له تاسو سره جنګ ته راپاڅيږي، لکه چې تاسو د اسلام راوړلو لپاره د دوي ترمېنځ توري راووېستلې.)) [3]

د ظهور زمينه برابروونکي

د روايتونو يوه مهمه برخه چې د امام مهدي عليه السلام له ظهور نه مخکښې د رامنځته شويو پېښو او د هغه حضرت د ملګرو په باره کښې راغلي ده د ايران او ايرانيانو په باره کښې ده چې دغه روايتونه د د فارس د خلقو، عجميانو، د خراسان د خلقو، د قم د خلقو، د طالقان د خلقو او د رې د خلقو وغېره په شان مختلفو تعبيراتو سره بيان شوي دي.

د دغو ټولو روايتونو په څېړلو سره دې نتيجې ته رسيږو چې د زمانې د امام عليه السلام له ظهور نه مخکښې به په ايران کښې الهي او د معصومو امامانو يو مدافع نظام جوړيږي چې د زمانې د امام د نظر وړ دی او همدارنګ د ايران خلق د هغه حضرت په قيام کښې يو مهم کردار لري چې د قيام او پاڅون په برخه کښې به يې بيان کړو. دلته د څو روايتونو په بيانولو باندې بسنه کوو:

---

[1] - راموزالاحاديث ۳۳ مخ.

[2] - دې خبرې ته په پام سره د چې د کوفې د بازار اکثر خلق فارس او ايرانيان وو او په فارسي ژبه به يې خبرې کولې. (لکه چې د مستدرک الوسائل کتاب د ۱۳ ټوک، ۲۵۰ مخ له ۴ حديث څخه معلوميږي. نو ځکه دا خبره څرګنديږي چې هغه مواليان چې اشعث ورباندې اعتراض وکړ او امام علي (ع) يې دفاع وکړه هم هغه ايرانيان وو.

[3] -الغارات ۲۴ ټوک، ۴۹۸ مخ، سفينه البحار ۲ ټوک، ۲۹۳ مخ، شرح نهج البلاغه ابن ابي الحديد ۲۰ ټوک ۲۸۴ مخ.

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((یو شمېر خلق به دختیځ له خوا قیام کوي او د حضرت مهدي (علیه السلام) د قیام او پاڅون لپاره به زمینه برابروي.))[1]

همدارنګ فرمائي: ((دختیځ له لوري به تور بېرغونه راوچتیږي چې د هغو کسانو زړونه به د اوسپنې د ټوټو په شان وي، نو بس هر څوک چې د هغوي له حرکت نه خبر شو پکار دي د هغوي لوري ته لاړ شي او له هغوي سره دې بیعت وکړي که څه هم په واورو باندې په تلو مجبور شي.))[2]

امام محمد باقر علیه السلام فرمائي: (( ته وا یو قوم وینم چې په ختیځ کښې یې قیام او پاڅون کړی دی او د حق غوښتنه کوي خو حق به هغوي ته نۀ ورکړل کیږي، بیا به یې غوښتنه کوي خو بیا به هم ورته ورنکړې شي، نو په داسې حال کښې به توري (وسله) له تیکي نه راوباسي په اوږو به یې کیږدي چې دغه وخت به دښمن د دوي غوښتنې منلو ته تیار شي خو هغوي به دا چاره قبوله نۀ کړي او قیام به وکړي او بیا به هغوي حق چا ته و نۀ سپاري مګر د امر څښتن ته. د هغوي وژل شوي کسان شهیدان دي او که ما هغوي موندلې وای نو خپله به مې ځان د دغه امر د صاحب لپاره تیار کړی ؤ.))[3]

امام محمد باقر علیه السلام همدارنګ فرمائي: ((د حضرت قائم (علیه السلام) اصحاب به ۳۱۳ کسان او د عجمیانو اولاد به وي.))[4]

که څه هم عجم غېر عرب ته ویل کیږي خو په حتمي توګه د ایرانیانو لپاره استعمالیږي او نورو روایتونو ته په پام سره د امام مهدي علیه السلام په خاصو فوځیانو کښې به ایرانیان په زیات شمېر کښې شتون لري.

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((ډېر زر به له تاسو (عربو) نه پس داسې قامونه راځي چې زمکه به یې تر پښو لاندې راغونډیږي، طی الارض به کوي او د دنیا ورونه به یې مخې ته خلاصیږي او خدمت به یې د فارس ښځې او سړي کوي، زمکه به د هغوي تر قدمونو لاندې راټولیږي، په دا ډول چې له هغوي څخه هر

---

[1] - سنن ابن ماجه، ۲ټوک، ۱۳۲۸ مخ، المعجم الاوسط ۱ ټوک، ۲۰۰ مخ، مجمع الزوائد ، ۷ توک، ۳۱۸ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک، ۲۲۸ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۹۹ مخ، بحارالانوار ۵۱ ټوک ۸۷ مخ.

[2] - عقدالدرر ۱۲۹ مخ، بیان شافعي ۴۹۰ مخ، ینابیع الموده ۴۹۱ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک، ۲۲۳ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۹۲ مخ، بحارالانوار ۵۱ ټوک، ۸۴ مخ.

[3] -غیبت نعماني ۳۷۳ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۴۳ مخ، سنن ابن ماجه ۲ ټوک، ۱۳۶۶ مخ، مستدرک الحاکم ۴ ټوک، ۴۶۴ مخ.

[4] - غیبت نعماني ۳۱۵ مخ، اثبات الهداه ۲ ټوک، ۵۴۷ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۴۹ مخ.

يو وغواړي له ختيځ نه تر لويديځ پورې فاصله په يوه ګړېنه کښې پلې کړي. نۀ هغوي ځانونه په دنيا باندې خرڅ کړي دي او نۀ دنيادار دي، او نۀ دنيا په هغوي کښې څه برخه او اثر لري.))[1]

اميرالمومنين امام علي عليه السلام فرمائي: ((خوشبخته دې وي د طالقان خلق، ځکه چې خداى پاک په دغه ځاى کښې يو شمېر داسې خزانې لري چې نۀ د سرو زرو دي او نۀ د سپينو زرو دي، بلکې ايماندار سړي دي چې خداى پاک يې په حق پېژندلى دى او هغوي به په اخره زمانه کښې د مهدي آل محمد صلى الله عليه و آله وسلم ملګري وي.))[2]

د خداى ګران رسول صلى الله عليه و آله وسلم هم د خراسان د خلقو په حقله فرمائي: ((په خراسان کښې يو شمېر خزانې دي، البته هغه نۀ د سرو زرو دي او نۀ د سپينو زرو دي بلکې هغوي هغه سړي دي چې خداى پاک او د هغۀ رسول له هغوي سره مينه کوي.))[3]

---

[1] -فردوس الاخبار ۳ ټوک ۴۴۹ مخ.

[2] - بيان شافعي، ۱۰۲ مخ، برهان متقي هندي ۱۵۰ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک ۵۹۱ مخ، ينابيع الموده ۴۹۱ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک ۲۸۲ مخ.

[3] - کنزالعمال ۱۴ ټوک ۵۹۱ مخ.

# دويمه برخه

# د امام مهدي عليه السلام نړيوال انقلاب

## وړومبی باب
## د امام مهدي عليه السلام پاڅون

د حضرت امام مهدي عليه السلام د قيام د ورځې په باره کښې مختلف روايتونه موجود دي. په ځينو کښې نوروز د دغه پاڅون د شروع کېدو ورځ ياده شوې ده. ځينو نورو د عاشورا ورځ د دغه قيام د شروع کېدو ورځ ذکر کړې ده. په يو شمېر روايتونو کښې د خالي ورځ او نورو کې بيا د جُمعې ورځ د دغه قيام ورځ ټاکلې شوې ده. د عاشورا له ورځې سره د نوروز د ورځې په يووخت والي کښې خو څه مشکل نۀ ښکاري. ځکه چې نوروز د هجري لمريز کال مطابق او عاشورا د هجري قمري کال له مخې حسابيږي، او د دغو دواړو ورځو يوځای کېدل امکان لري او د دغو دواړ ورځو د جمعې يا خالي ورځې سره يوځای والی هم ممکنه ده. هغه څه چې مشکل او له يو بل سره متعارض په نظر راځي، د قيام د ورځې په توګه د جمعې او خالی د ورځو ذکر دی. خو البته د دا ډول روايتونه هم توجيه کېدې شي. ځکه چې که د دغو روايتونو سند صحيح وي نو په داسې صورت کښې هغه حديثونه چې جمعه د هغه حضرت د ظهور ورځ ټاکلې ده د قيام او ظهور په ورځې باندې حمل کيږي او هغه روايتونه چې د خالي ورځ د قيام ورځ ګڼي د الهي نظام په قائمېدو او تثبيتېدو او د مخالفانو په نابودۍ باندې تفسيرېدې شي.

بايد پام وکړو هغه روايتونه چې د خالي ورځ د قيام ورځ ګڼي، د سند له نظره د تامل وړ دي، خو هغه روايتونه چې د جمعې ورځ يې ذکر کړې ده له دې نظره څه مشکل نۀ لري.

اوس په دې حقله يو شمېر روايتونو ته پام وکړئ:

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((زمونږ د اهلبېتو قائم (عليه السلام) به د جمعې په ورځ ظهور کوي.))[1]

امام محمد باقر عليه السلام فرمائي: ((ته وا حضرت قائم (عليه السلام) وينم چې د عاشورا په ورځ او دخالي په ورځ د رکن او مقام ترمېنځ ولاړ او جبرائيل (عليه السلام) يې هم مخکې ولاړ دی او خلق له هغه حضرت سره بيعت ته رابولي.))[2]

---

[1] -اثبات الهداه ۴۹۲ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۷۹ مخ.

[2] - غيبت طوسي ۲۷۴ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک، ۲۵۲ مخ، بحاراالانوار ۵۲ ټوک ۲۹۰ مخ.

امام محمد باقر علیه السلام فرمائي: ((حضرت قائم (علیه السلام) به د جمعې په ورځ چې د عاشورا ورځ ده قيام او پاڅون کوي.، په هغه ورځ چې امام حسېن علیه السلام شهيد شو.))[1] هغه حضرت همدا شان فرمائي: ((ايا پوهېږئ چې دغه د عاشورا ورځ څه ورځ ده؟ هم هغه ورځ ده چې خدای پاک د آدم (علیه السلام) او بي بي حوا توبه قبوله کړه، هغه ورځ ده چې خدای پاک د بني اسرائيلو لپاره سمندر وچاوۀ او فرعون او د هغۀ پېروکار يې غرق کړل اوموسی (علیه السلام) په فرعون باندې بريالی شو. هغه ورځ ده چې ابراهيم (علیه السلام) وزېږېد، هغه ورځ ده چې خدای پاک د يونس (علیه السلام) د قوم توبه قبوله کړه، د عيسی (علیه السلام) د پېدائش ورځ ده او هغه ورځ ده چې حضرت قائم آل محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) به پاڅون کوي.))[2]

يو بل ورايت هم په همدې مضمون سره له امام محمد باقر علیه السلام[3] نه نقل شوی دی، خو په دې روايت کښې وثاقت بن بطائني چې د هغۀ د سند په سلسله کښې دی د بحث وړ دی.

امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((په درې ويشتمه نېټه به حضرت مهدي (علیه السلام) ته اواز کيږي او د عاشورې يعنې د حسېن بن علي (علیه السلام) د شهادت په ورځ به پاڅون کوي.))[4]

هغه حضرت همدارنګ فرمائي: ((د نوروز ورځ هم هغه ورځ ده چې زمونږ د اهلبېتو قائم (علیه السلام) به په هغه ورځ ظهور کوي.))[5]

الف) د ظهور اعلان

د امام مهدي علیه السلام ظهور به په ابتداء کښې د اسماني منادي په ذريعې سره اعلانيږي، بيا به په داسې حال کښې چې هغه حضرت به کعبې ته تکيه وهلې وي، حق ته د خلقو په دعوت کولو سره به د خپل ظهور اعلان کوي.

---

[1] -كمال الدين ٢ ټوک ٢٥٣ مخ، غيبت طوسي ٢٧۴ مخ، التهذيب ۴ ټوک، ٣٣٣ مخ، ملاذالاخيار ٧ ټوک ١٧۴ مخ، بحارالانوار ۵٢ ټوک ٢٨۵ مخ.
[2] - بحارالانوار ۵٢ ټوک، ٢٨۵ مخ.
[3] -التهذيب البارع ۴ ټوک، ٣٠٠ مخ، اقبال ابن طاؤس ۵۵٨ مخ، خرائج ٣ ټوک، ١۵٩ مخ، وسايل الشيعه ٧ ټوک ١٧۴ مخ، بحارالانوار ٩٨ ټوک، ٣۴ مخ، ملاذالاخيار ٧ ټوک، ١١٢ مخ.
[4] -غيبت طوسي ٢٧۴ مخ، بحارلانوار ۵٢ ټوک ٢٩٠ مخ.
[5] - التهذيب البارع ١ ټوک، ١٩۴ مخ، اربعين خاتون آبادي ١٩٧ مخ، وسايل الشيعه ۵ ټوک ٢٢٨ مخ، اثبات الهداه ٣ ټوک ۵٧١ مخ، بحارالانوار ۵٢ ټوک ٢٠٨ مخ.

امیرالمومنین حضرت علي علیه السلام فرمائي: «کله چې اواز کوونکی له اسمان څخه اواز وکړي چې بې له شکه حق له آل محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) سره دی که د هدایت او سعادت غوښتونکي یئ نو د آل محمد (صلی الله علیه و آله وسلم) لمن ټینګه کړئ، چې حضرت مهدي (علیه السلام) ظهور کوي.»[1]

همدارنګ امام محمد باقر علیه السلام په دې حقله فرمائي: «حضرت مهدي علیه السلام به په مکه کښې د ماسخوتن د لمانځۀ په وخت ظهور کوي، په داسې حال کښې چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم بېرغ، قمیص او توره به له ځان سره لري او چې کله یې د ماسخوتن لمونځ ادا کړ نو غږ به وکړي: ای خلقو تاسو ته د خدای پاک د ذکر او د قیامت په ورځ د خدای پاک په وړاندې ستاسو د ودرېدنې یادونه کوم، په داسې حال کښې چې په دنیا کښې یې په تاسو باندې حجت تمام کړی دی او پېغمبران یې مبعوث کړي او قران یې رالېږلی دی. خدای پاک تاسو ته حکم درکوي چې له هغۀ سره شرک ونکړئ او د هغۀ پېغام او فرمان رسوونکي شئ. هغه څه چې قران یې د راژوندي کولو حکم کړی دی احیاء او ژوندي کړئ او د کومو چې یې د نابودولو حکم کړی دی هغه نابود کړئ او د هدایت د لارې مرسته کوونکي اوسئ، او په تقوا او پرهېزګارۍ کښې ملګرتیا وکړئ، ځکه چې د دنیا فنا او زوال رارسېدلی دی او د وداع غږ شوی دی. زۀ تاسو د خدای پاک او د هغۀ د پاک رسول صلی الله علیه و آله وسلم او دهغۀ په کتاب باندې د عمل کولو، د باطلو دنابودولو او د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د سیرت د راژوندي کولو لورې ته رابولم او بیا به د درې سوه دیارلس ملګرو ترمېنځ ظهور کوي.»[2]

د پاڅون د بېرغ نعره

هر حکومت یو بېرغ او جنډا لري چې د هغې په ذریعې سره پېژندل کیږي او همدغه رنګ پاڅونونه، قیامونه او انقلابونه هم خاص بېرغونه لري چې مونوګرام یې تر یو حده پورې د هغۀ د رهبرانو او مشرانو د اهدافو بیانوونکی وي. د امام مهدي علیه السلام نړیوال او جهاني انقلاب به هم یو خاص بېرغ لري او په هغه باندې به ځینې نعرې لیکلې شوې وي. که څه هم د هغه حضرت په بېرغ باندې د نعرې په حقله اختلاف

[1] - الحاوي للفتاوی، ۲ ټوک، ۲۸ مخ، احقاق الحق، ۱۳ ټوک ۳۲۴ مخ.

[2] - فتن ابن حماد ۹۵ مخ، عقدالدرر ۴۵ مخ، لوائح سفاریني ۲ ټوک، ۱۱ مخ، ملاحم ابن طاؤس ۲۴ مخ، صراط المستقیم ۲ ټوک، ۲۴۲ مخ.

دی خو په ټولو قولونو کښې يو ټکی مشترک دی او هغه دا چې خلق به له هغه حضرت څخه فرمانبرداری ته دعوت کوي...[1]

اوس په دې باره کښې په څو نمونو ب بسنه کوو:

په يو روايت کښې راغلي دي: ((د حضرت امام مهدي عليه السلام په بيرغ باندې ليکل شوي دي: ((اوربېدونکي غوربږونه ولرئ او له دغه حضرت څخه اطاعت وکړئ.))[2]

په يو بل ځای کښې راغلي دي: ((د امام مهدي عليه السلام په بېرغ به دا نعره وي: ((البيعة لله)) يعنې بيعت د خدای لپاره دی.))[3]

ج) په قيام باندې د دنيا د خلقو خوشحالي

له روايتونو معلومېږي چې د امام مهدي عليه السلام قيام او پاڅون به د انسانانو د خوشحالۍ سبب ګرځي. د خلقو دا رضامندي او خوشحالي په مختلفو شکلونو کښې بيان شوې ده. په ځينو روايتونو کښې د زمکې او اسمان د مخلوقاتو د خوشحالۍ خبره راغلې ده او په ځينو نورو کښې د مړيو د خوشحالۍ خبره شوې ده. په يو روايت کښې له قيام څخه د خلقو د هرکلي بحث شوی دی، او په بل يو روايت کښې د مړيو د ژوندي کېدو لپاره د خلقو له آرزو کولو څخه پرده اوچته شوې ده.

دلته د څو روايتونو په ذکرولو سره د دغو خبرو څو نمونې وړاندې کوو:

د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((د زمکې او اسمانونو ټول مخلوقات منجمله مارغان، ځناور حېوانات او د سمندر کبان به د حضرت مهدي (عليه السلام) په ظهور او پاڅون باندې خوښي او خوشحالي کوي.))[4]

امام علي عليه السلام په دې باره کښې فرمائي: ((کله چې حضرت مهدي (عليه السلام) ظهور کوي نو د خلقو په خولو به يې نوم وي او د خلقو وجودونه به له مهدي (عليه السلام) سره له عشق او مينې نه ډک وي، په دا ډول چې بې د هغهٔ له نوم نه به د

---

[1] -امام محمد باقر عليه السلام ابوحمزه ته وفرمايل: ((ګويا زما د اهلبېتو قائم عليه السلام وينم چې نجف ته داخلېږي او کله چې د نجف تر ټولو لوړې سيمې ته وسېد نو د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم بېرغ پورته کوي. کله چې بېرغ خلاص شي نو هغه فرښتې چې په بدر کښې موجودې وې په دهٔ باندې نازلېږي.)) تفسير عياشي ۱ ټوک، ۱۰۳مخ، غيبت نعماني ۳۰۸ مخ، کمال الدين ۲ ټوک ۲۷۲ مخ، تفسير برهان ۱ ټوک، ۲۰۹ مخ، بحارلانوار ۵۲ ټوک، ۳۲۲مخ.

[2] -اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۸۲ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۰۵ مخ.

[3] - فتن ابن حماد ۹۸ مخ، ملاحم ابن طاؤس ۲۸ مخ، القول المختصر ۲۴ مخ، ينابيع الموده، ۴۳۵ مخ، الشيعه والرجمع ۱ ټوک، ۲۱۰ مخ.

[4] -عقدالدرر ۸۴ مخ او ۱۴۹ مخونه، البيان ۱۱۸ مخ، مستدرک الحاکم، ۴ ټوک ۴۳۱ مخ، الدرالمنثور ۲ ټوک، ۵۰ مخ، نورالابصار ۱۷۰ مخ، ملاحم ابن طاؤس ۱۴۲ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک، ۱۵۰ مخ.

هيچا نوم او ياد د هغوي په ژبو باندې نۀ وي او له هغۀ سره په مينه باندې به خپل روحونه خړوبوي.))[1]

په روايت کښې د ((يشربون حبّه)) يعنې د هغۀ مينه به څښې تعبير راغلی دی چې پکښې له هغه حضرت سره مينه يې له خوړو اوبو يا نورو مائعاتوسره تشبيه کړې ده چې خلق به په ډېره مينه هغه څښي او له امام سره مينه به يې په وجود کښې نفوذ کوي.

حضرت امام علي رضا عليه السلام له ظهور نه مخکښې د ترخو واقعاتو د بيانولو په ترڅ کښې له ظهور نه پس د ترقۍ، پراختيا اوخوشحاليو په باره کښې فرمائي: ((دغه وخت به په خلقو باندې خوشحالۍ، پراختيا او اسانتياوې راځي په دا ډول چې مړې به هم د دوباره ژوندي کېدو خواهش او آرزو کوي.))[2]

امام جعفر صادق عليه السلام په دې حقله فرمائي: ((گويا قائم آل محمد (عليه السلام) وينم چې د کوفې پر منبر ناست د ی او د رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم زغره په بدن باندې لري. بيا امام جعفر صادق عليه السلام د هغه حضرت ځينې حالات بيان کړل او په دوام کښې يې وفرمايل: ((په قبر کښې به هيڅ يو داسې مومن نۀ وي پاتې مگر دا چې دغه خوښي او خوشحالي به يې په قبر کښې داخليږي،په دا ډول چې مړي به د يو بل ليدو کتو ته ورځي او يو بل ته به د حضرت مهدي (عليه السلام) د ظهور مبارکۍ وړاندې کوي.))

په ځينو روايتونو کښې د ((تلک الفرجه)) عبارت راغلی دی، يعنې د هغه حضرت د ظهور په برکت به د برزخ د خاوندانو په چارو کښې هم پراختيا او اسانتيا راځي او د دې نقل له مخې د دغه غورځنگ او قيام د رهبرۍ عظمت به په دومره اندازه وي چې په ارواگانو باندې به هم تاثير کوي.[3]

د) د غريبانانو او مستضعفانو نجات

په دې کښې شک نشته چې د حضرت امام مهدي عليه السلام قيام او پاڅون به د عدل او انصاف د قائمېدو او له انساني معاشرې څخه د ټولو غربتونو، بې وزليو او محروميتونو د جرړو د وېستوسبب گرځي نو غواړو چې په دې برخه کښې هغه ځينې اقدامات بيان کړو چې هغه حضرت به يې د قيام په وخت د مظلومانو او بې سهاره

[1] - الحاوي للفتاوي ۲ټوک، ۲۸ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک، ۳۲۴ مخ.
[2] -خرائج ۳ ټوک ۱۲۹ مخ، غيبت طوسي ۲۲۸ مخ.
[3] - اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۳۰ مخ.

خلقو لپاره ترسره کوي په دا ډول چې هغه حضرت ته به د مظلومو او بې چاره خلقو د پناه راوړلو سبب کيږي.

د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((مهدي (عليه السلام) به زما له امت څخه ظهور کوي، خدای پاک به هغه د انسانانو د فرياد اورېدونکي په توګه رالېږي، دغه وخت به خلق په نعمتونو سره مالامال کيږي.))[1]

د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرياد اورېدنه له يو خاص قوم او ملت پورې محدوده کړې نۀ ده بلکې د ((الناس)) يعنې د انسانانو په تعبير سره هغه حضرت د ټولو انسانانو نجات ورکوونکی ګڼي. له دې امله د هغه حضرت له ظهور نه مخکښې به حالات دې حد ته ورسي چې ټول انسانان به د هغه هستۍ د ظهور آرزو او ارمان کوي.

جابر بن عبدالله انصاري وائي: امام محمد باقر عليه السلام وفرمايل: ((حضرت مهدي (عليه السلام) به په مکه کښې ظهور کوي... خدای پاک به د حجاز زمکه د هغۀ په لاسو فتح کوي او هغه حضرت به د بني هاشمو (د سېدانو او د هغوي د محبانو) قېديان له قېدونو نه ازادوي.))[2]

شعراني وائي چې کله امام مهدي عليه السلام د مغرب سيمې ته ورسي نو د اندلس خلق به د هغۀ لوري ته راځي او وائي به: ای ولي الله (دخدای حجته) د اندلس د جزيرې مدد وکړه چې خپله دغه سيمه او خلق يې هلاک شوي دي.))[3]

ه) د امام عليه السلام په قيام کښې د ښځو کردار

د حضرت امام مهدي عليه السلام له ظهور نه مخکښې او پس د ښځو د کردار په باره کښې د روايتونو په څېړلو سره يو شمېر د پام وړ ټکي ترلاسه کوو. که څه هم د ځينو روايتونو له مخې به د دجال اکثر پېروکار يهوديان او ښځې وي.[4] خو د دوي ترڅنګه به مومنې او پاک لمنې ښځې هم موجودې وي چې خپلې عقيدې د ساتلو لپاره به سخت کوشش کوي او له ظهور نه له مخکښې حالاتو څخه به سختې متاثرې وي.

---

[1] - عقدالدرر ۱۲۷ مخ.

[2] - فتن ابن حماد ۹۵ مخ، ملاحم ابن طاؤس۲۴ مخ، الفتاوی الحديثيه ۳۱ مخ، القول المختصر ۲۳ مخ.

[3] - مختصر تذکره قرطبي ۱۲۸ مخ، احقاق الحق ۲۲۰ مخ.

[4] - مسند احمد بن حنبل ۲ ټوک ۷۲ مخ، فردوس الاخبار ۵ ټوک، ۴۲۴ مخ، مجمع الزوائد ۷ ټوک، ۱۵ مخ.

ځیني ښځې به جهادي روحیه او ثابت قدمي لري او هر چرته چې لاړې شي د دجال په خلاف په تبلیغاتي جنګ سره د هغهٔ انسان دښمنه ماهیت په ډاګه کوي. د ځینو روایتونو له مخې د امام مهدي علیه السلام د قیام په دوران کښې به ځلور سوه ښځې له هغه حضرت سره ملګرتیا کوي او په هغوي کښې اکثرې به په علاج معالجې او طبي چارو کښې فعالیتونه کوي. البته په ځینو روایتونو کښې د هغو ښځو د شمېر په حقله چې به د امام مهدي علیه السلام د قیام په وخت له هغه حضرت سره وي اختلاف موجود دی. ځینې روایتونو د هغوي شمېر دیارلس تنه بیان کړی دی چې د هغه حضرت د ظهور په وخت به ورسره وي، کېدې شي دا هغه کسانې وي چې د ظهور په ابتدائي وختونو کښې د هغه حضرت له ځواکونو څخه وي. همدا رنګ ځینو روایتونو دغه شمېر اوهٔ زره او اتهٔ سوه تنه ذکر کړی دی او دا هغه ښځې دي چې له قیام نه پس به له هغه حضرت سره ملګرتیا او په کارونو کښې به ورسره مرسته کوي.

د ابن حماد په فتن نومې کتاب کښې راغلي دي چې د دجال د خروج په وخت به د مومنانو شمېر دولس زره سړي او اوهٔ زره او اوهٔ سوه یا اتهٔ سوه ښځې وي.[1]

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: ((عیسی بن مریم (علیه السلام) به د اتهٔ سوه سړیو او ځلورو سوو ښځو ترمېنځ نازلیږي چې هغوي به د زمکې په سرتر ټولو غوره کسان او له تېرو تر ټولو صالحو کسانو څخه وي.))[2]

امام محمد باقر علیه السلام فرمائي: ((په خدای قسم چې څه د پاسه درې سوه کسان به راځي او په هغوي کښې به پنځوس ښځې هم وي.))[3]

مفضل بن عمر وائي: امام جعفر صادق علیه السلام وفرمایل: له حضرت قائم (علیه السلام) سره به دیارلس تنه ښځې وي)) عرض مې وکړ: هغوي به څه کوي او څه کردار به ادا کوي؟ وې فرمایل: ((د زخمیانو علاج معالجه به کوي او د بیمارانو تیمارداري به کوي، هم هغه ډول چې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره وې.)) ورته مې عرض وکړ چې د هغو دیارلسو تنو ښځو نومونه څه دي؟ وې فرمایل: (( د رشید لور قنواء ، ام ایمن، حبابه والبیه، د عمار یاسر مور سمیه، زبېده، ام خالد احمسیه، ام سعید حنفیه، صیانه ماشطه او ام خالد جهنیه.))[4]

---

[1] - فتن ابن حماد ۱۵۱ مخ.
[2] -فردوس الاخبار ۵ ټوک، ۵۱۵ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک، ۳۳۸ مخ، التصریح ۲۵۴ مخ.
[3] - تفسر عیاشي ۱ ټوک، ۲۵ مخ، غیبت نعماني ۲۷۹ مخ.
[4] -دلائل الامامه ۲۵۹ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۷۵ مخ.

په منتخب البصائر کتاب کښې د دوو تنو ښځو وتيره او احبشيه نومونه راغلي دي چې د امام مهدي عليه السلام له ملګرو او مرسته کوونکو څخه ګڼل شوې دي.[1] په ځينو روايتونو کښې هم يوازې د ښځو د شتون ذکر شوی دی خو شمېر ته يې څه اشاره نۀ ده کړې؟

په تاريخي کتابونو کښې د ظهور په وخت د ښځو د کړو وړو څېړنه

د مفضل بن عمر په روايت کښې له حضرت قائم عليه السلام سره د ښځو شمېر په روښانه توګه ديارلس تنه بيان شوی دی خو له هغوي څخه يې يوازې د نهو تنو نومونه او کړۀ وړۀ بيان کړي دي. په دغو نومونو باندې د امام جعفر صادق عليه السلام تاکيد مونږ دې ته مجبوروي چې د هغوي د ژوند حالات او خصوصيات وڅېړو، نو بس له يو لړ تحقيقاتو نه پس يو شمېر ټکي زمونږ لاسو ته راغلل چې د امام جعفر صادق عليه السلام د تاکيد راز ته يو اطمينان بخښونکی ځواب دی.

له دغو ښځو څخه هره يوه يو لړ خصوصيات لري، خو له هغوي څخه اکثرو د خدای پاک له دښمنانو سره په جهاد کښې خپل قابليت ښودلی دی. له هغوي څخه ځينې لکه صيانه د څو شهيدانو مور وه او خپله هم په ډېره دردېدونکې طريقې سره شهيده کړې شوه.او ځينې نورې لکه سميې د خپلو اسلامي عقائدو د دفاع په لار کښې ډېرې سختې شکنجې او تکليفونه وزغمل او تر اخيري سا پورې يې د خپلې عقيدې دفاع کړې ده او بله ډله لکه ام خالد د اسلام د حفاظت لپاره د خپلې تندرستۍ نعمت په ځان حرام کړ او د اسلام په لار کښې يې د خپل تن د صحتوالي په قربانولو سره د معلوليت مقام حاصل کړ. همدا رنګ نورې لکه زبېده، چې د دنيا پړق پړوق او مادي مال دولت هيڅ کله له اسلام څخه لاس په سر نۀ کړه بلکې د دې په اپوټه يې له هغو مادي وسائلو څخه د اسلام د عقيدې په لار کښې ګټه پورته کړه او د حج په برپا کولو کښې يې چې يو مهم اسلامي مظهر او د دين له ارکانو څخه دی مرسته وکړه او ځينو نورو د اسلامي امت د مشر د دايتوب او لائقو بچيانو د روزلو او تربيت کولو افتخار لرلو او خپله هم له معنويت څخه برخورې وې چې د عامو او خاصو خلقو په ژبو يې نومونه اخستل کيږي او دغه شان نورې هم د شهيدانو د کورنيو مېرمنې دي چې په خپلو

[1] - بيان الائمه ۳ ټوک ۳۳۸ مخ.

اوړو باندې يې د هغوي د ځنکدن په وخت جنازې په خپلو غېږو کښې اوچتې کړې او ورسره يې خبرې کړې دي.
هو، بې شکه دا هغه زړۀ سواندې او زړۀ سوزېدلی مېرمنې دي چې د قربانيو په ورکولو سره يې دا خبره ثابته کړې ده چې هغوي د نړيوال اسلامي حکومت د دروند پيټي يوه برخه په خپلو اوږو اوچتولې شي. اوس هم له دغو مېرمنو څخه ځينې دلته معرفي کوو:

١-بي بي صيانه
په خصائص فاطميه نومې کتاب کښې راغلي دي چې د امام مهدي عليه السلام په حکومت کښې به ديارلس تنه ښځې د زخميانو د علاج معالجې لپاره راژوندۍ کيږي او دنيا ته به راستنيږي چې په هغوي کښې يوه صيانه ده چې د حزقيل مېرمن او د فرعون د لور څڼه دنداسه کوونکې (نائي ګڼه) وه او حزقيل د فرعون د ترۀ زوی او د هغۀ خزانه دار ؤ او د هغۀ په قول حزقيل د فرعون د خاندان مومن کس ؤ او د خپلې زمانې په پېغمبر حضرت موسی عليه السلام باندې يې ايمان راوړی ؤ.[1]
د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم فرمائي: ((د معراج په شپه د مکې معظمې او مسجدالاقصی د سفر په وخت مې ناڅاپه سپېرمو ته خوشبوي راغله چې داسې خوشبوي مې چرې نۀ وه بوي کړې، له جبرائيل عليه السلام نه مې پوښتنه وکړه چې دا خوشبوي د څه ده؟ وې ويل: ای د خدای ګران رسوله! صلی الله عليه و آله وسلم د حزقيل مېرمن په حضرت موسی بن عمران عليه السلام باندې ايمان راوړی ؤ او خپل ايمان به يې پټوۀ، هغه د فرعون د حرمسرا نائي ګڼه وه، يوه ورځ د فرعون د لور په څڼه دنداسه باندې مشغوله وه چې ناڅاپه يې ږومنز له لاسه وغورزېده او له خولې نه يې بې اختياره ووتل: ((بسم الله)) د فرعون لور وويل: ايا زما د پلار صفت کوې؟ وې ويل: نه ، بلکې د هغه کس صفت کوم چې ستا پلار يې پېدا کړی دی او هغه به وژني. د فرعون لور په منډه خپل پلار ته ورغله او ورته يې وويل: هغه ښځه چې زمونږ په کور کښې نائي ګڼه ده په موسی عليه السلام باندې ايمان لري. فرعون هغه حاضره کړه او ورته يې وويل: مګر تۀ زما په خدائۍ باندې ايمان نۀ لرې؟ صيانه ورته وويل: نه هيڅکله نه ،زۀ به له حقيقي خدای څخه لاس وانخلم او ستا پرستش به ونۀ کړم.

[1] - رياحين الشريعه ۵ ټوک، ۱۵۳ مخ، خصائص فاطميه ۳۴۳ مخ.

فرعون حکم ورکړ چې د ګیلتو په تنور کښې دې اور بل کړې شي او چې کله هغه تنور سور شو نو حکم یې وکړ چې د دغې ښځې ټول بچي دې د هغې په مخکښې په تنور کښې واچولې شي. په تنور کښې د اچولو په وخت چې کله هغوي وغوښتل د هغې د تې ماشوم چې په غېږ کښې یې ؤ له هغې واخلي او په اور کښې یې وغوزوي نو د صیانې په زړۀ کښې بدلون راغی او وې غوښتل چې له خپل دین څخه د بې زارۍ اعلان وکړي چې ناڅاپه د خدای په امر سره هغه ماشوم په خبرو راغی او وې ویل: اصبري یا اماه انک علی الحق. ای مورې صبر وکړه چې د حق په لار روانه یې. فرعونیانو هغه ښځه او د هغې دغه ماشوم زوی هم په اور کښې واچول او وې سوزول او بیا یې هغه ایرې په دې زمکه باندې وشېندلې چې د قیامت تر ورځې پورې به له دې زمکې څخه دغه خوشبوي راځي....))[1]

هغه له هغو ښځو څخه ده چې راژوندۍ کیږي به او دې دنیا ته به بیا راستنیږي او د حضرت امام مهدي علیه السلام په رکاب کښې به خپل وظیفه ترسره کوي.

۲- بي بي ام ایمن

د هغې نوم برکه دی. هغه د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم خدمتګاره وه چې د هغه حضرت له پلار حضرت عبدالله (رض) نه هغه حضرت ته په وراثت کښې پاتې وه او د هغه حضرت تیمارداري بې په غاړه لرله.[2]

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم به ورته مور ویل او فرمایل به یې: ((هذه بقیه اهل بیتي، هغه زما له اهلبیتو څخه پاتې مېرمن ده. هغې له خپل تېر خاوند عبېد خزرجي څخه د ایمن په نامه یو بچی لرۀ ، ایمن له مهاجرو او مجاهدو څخه ؤ او د حنېن په جنګ کښې شهید شو.

ام ایمن یوه داسې مېرمن وه چې کله د مکې او مدینې ترمېنځ په سفر کښې وربانديې تندې غلبه وکړه او نزدې وه چې سا ترې وتلې واې د اوبو یوه بوکه(سلواغه) ورته له اسمانه راکوزه شوه هغې له هغې څخه اوبۀ وڅښلې او له هغې وروسته بیا چرې تږې نۀ شوه.[3]

---

۱ - منهاج الدموع ۹۳ مخ.

۲ - تاریخ طبري ۲ ټوک، ۷ مخ، سیره حلبي ۱ ټوکړ ۵۹ مخ.

۳ - مصنف عبدالرزاق ۴ ټوک، ۳۰۹ مخ، الاصابه ۴ ټوک، ۴۳۲ مخ.

هغې د خدای دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د رحلت په وخت ډېر ژړل، چې کله ترې د علت پوښتنه وشوه نو په ځواب کښې یې وویل: په خدای مې دې قسم وي چې راته پته وه چې دوي به رحلت کوي، خو زما ژړا په دې ده چې د وحي سلسله پرې شوه.[1]

د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قدرمنې لور حضرت فاطمه زهراء علیها السلام د فدک په مسئله کښې هغه د وړومبي خلیفه په دربار کښې د ګواه په توګه وړاندې کړې وه چې ګواهي یې ونهٔ منلې شوه. دغه مومنه بي بي بالاخره د دریم خلیفه په دور کښې وفات شوه.

۳- بي بي زبېده

هغه د هارون الرشید باچا مېرمن او د اهلبېتو علیهم السلام له پېروکارو او شیعه ؤ ښځه وه. کله چې هارون رشید د هغې له عقیدې نه خبر شو نو قسم یې وخوړ چې طلاق به ورته ورکوي. هغه د نېکو کارونو په ترسره کولو باندې مشهوره وه، هغې په هغه وخت کښې چې په مکه ښار کښې د اوبو یو مشک د یو دینار سروزرو ارزښت لرهٔ نو هغې ټول حاجیان او یا لکه چې ټول د مکې خلق په اوبو خړوب کړل. هغې د غرونو په کنلو او د ټنلونو په جوړولو سره له حرم نه د لسو میلو له فاصلې نه اوبهٔ د حرم دننه راوستې. زبېدې سل وېنځې لرلې چې ټولې د قران شریف حافظانې وې او هرې یوې دا ذمه واري لرله چې د قران لسمه برخه تلاوت کوي، په دا ډول چې د هغې د اوسېدو له کور ښځه به د قران مجید د تلاوت اواز لکه د شاتو د مچیو د شور په شان را اوچتېدهٔ.[2]

۴- د عمار یاسر مور بي بي سمیّه

هغه اومه تنه وه چې اسلام یې قبول کړ او په همدې وجه ورته سختې شکنجې او تکلیفونه ورکړې شول. کله چې به د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د عمار یاسر او د هغهٔ د پلار او مور په خوا کښې تېرېدهٔ نو لیدل به یې چې هغوي د مکې په سوزوونکې ګرمۍ کښې په ګرمه او سره زمکه باندې د شکنجې په حال کښې

---

[1] - تنقیح المقال ۳ ټوک ۷۰ مخ

[2] - تنقیح المقال ۳ ټوک ۸۷ مخ

دي، نو هغه حضرت صلی الله علیه و آله وسلم به فرمایل: ((ای د یاسر کورنۍ صبر وکړئ، پوه شئ چې ستاسو د وعدې ځای جنت دی.))
بي بي سمیه بالاخره د ابوجهل په شان خونخوار ځناور په نېزې سره شهیده شوه ، هغه د اسلام تر ټولو وړومبنۍ شهیده وه.[1]

**۵- بي بي ام خالد**
کله چې د عراق ګورنر یوسف بن عمر، زېد بن علي علیه السلام د کوفې په ښار کښې شهید کړ نو د بي بي ام خالد لاس یې هم د شیعه توب او د حضرت زېد قیام ته د ګروهنې په جرم پرې کړ.
ابو بصیر وائي: د امام جعفر صادق علیه السلام په خدمت کښې وم چې بي بي ام خالد په پرې شوي لاس سره داخله شوه. هغه حضرت وفرمایل: ((ای ابا بصیر! ایا غواړې د بي بي ام خالد خبرې واورې؟ عرض مې وکړ: هو، په خبرو اورېدو به یې خوشحال شم، بي بي ام خالد د هغه حضرت خدمت ته رانږدې شوه او خبرې یې شروع کړې، ما هغه د فصاحت او بلاغت په لوړ مقام کښې ولیده. هغه حضرت هم له هغې سره د اهلبېتو علیهم السلام د ولایت او د هغوي له دښمنانو نه د برائت په حقله خبرې وکړې....))[2]

**۶- بي بي حبابه والبیه**
شېخ طوسي هغه د امام حسن علیه السلام له صحابیاتو څخه ګڼلې او ابن داؤد د امام حسن، امام حسېن، امام زېن العابدین او امام باقر علیه السلام له صحابیاتو څخه ګڼلې ده، ځینو نورو بیا تر امام رضا علیه السلام پورې د اتو معصومو امامانو له صحابیاتو څخه ګڼلې ده. همدا رنګ ویل شوي دي چې امام رضا علیه السلام هغه په خپل ذاتي قمیص مبارک کښې کفن کړه. د وفات په وخت د هغې عمر څه د پاڅه ۲۴۰ کال ؤ. هغه په خپل عمر کښې دوه ځل د ځوانۍ دوران ته ستنه شوې ده. یو ځل د امام زېن العابدین په معجزې سره او په دویم ځل د اتم امام حضرت امام رضا علیه السلام په معجزې سره ځوانۍ ته ستنه شوې وه. او دا هغه مېرمن ده چې اتو امامانو په هغه کاڼې باندې چې ورسره ؤ په خپلو مهرونو سره په هغۀ باندې نقش وواهۀ.[3]

---

[1] - اسدالغابه ۵ ټوک، ۴۸۱ مخ.
[2] - معجم رجال الحدیث ۱۴ ټوک، ۲۴، ۱۰۸ او ۱۷۲ مخونه، ریاحین الشریعه ۳ ټؤک، ۳۸۱ مخ.
[3] -تنقیح المقال ۲۳ ټوک، ۷۵ مخ.

بي بي حبابه والبيه وائي: اميرالمومنين امام علي عليه السلام ته مې عرض وکړ، خدای پاک دې رحمتونه په برخه کړه د امامت دليل څهٔ دی؟ حضرت په ځواب کښې وفرمايل: «هغه وړوکی کاڼی ما ته راوړه.» هغه کاڼی مې د هغه حضرت خدمت ته راوړهٔ. امام علي عليه السلام په خپله ګوته مبارکه باندې په هغه کاڼي باندې مهر وواههٔ، په دا ډول چې هغه مهر په هغه کاڼي باندې نقش شو او ما ته يې وويل: «ای حبابه! هر کس چې د امامت دعوا کوونکی شو او وې کړې شول زما په شان په دې کاڼي باندې مهر ووهي نو هغه امام دی او د هغهٔ پيروي واجبه ده. امام هغه کس وي چې په هر څه باندې وغواړي پوه شي، پرې پوهيږي.»
له دې وروسته زهٔ په خپلو کارونو پسې شوم ان تردې چې اميرالمومنين رحلت وکړ. بيا زهٔ د امام حسن عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوم چې د امام علي عليه السلام په ځای ناست ؤ او خلقو ترې پوښتنې کولې. چې کله يې زهٔ وليدم نو وې فرمايل: «ای حبابهٔ والبيه! عرض مې وکړ: ولې زما سروره! وې فرمايل: «هغه څيز چې يې لرې راوړه.»
ما هغه وړوکی کاڼی راوړهٔ او هغه حضرت ته مې ورکړ. هغه حضرت د امام علي عليه السلام په شان په خپلې ګوتې مبارکې سره په هغهٔ باندې مهر وواههٔ، په دا ډول چې د مهر په ځایورباندې نقش جوړ شو.
له دې وروسته بيا د امام حسين عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوم چې په نبوي جومات کښې ؤ، هغه حضرت راوبللم او ستړې مشي يې راته وويل او وې فرمايل: «د هغه څه دليل چې تهٔ يې غواړې موجود دی، ايا د امامت نښه نښانه غواړې؟» و مې ويل: هو، ای زما آقا! وې فرمايل: «هغه څه چې له ځان سره يې لرې راوړه.» ما هم هغه وړوکی کاڼی چې مې لرهٔ راوړهٔ او ورته مې ورکړ، هغه حضرت په کاڼي باندې خپله ګوته مبارکه مهر کړه او نقش يې ورباندې وواههٔ.
بيا له امام حسين عليه السلام نه پس د امام زين العابدين عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوم او دومره بوډۍ شوې وم چې بدن مې ټول ربږدېدهٔ او يو سل ديارلس کاله عمر مې ؤ. هغه حضرت د رکوع او سجود په حال کښې ؤ او ما ته يې پام نهٔ ؤ.نو د امامت له نښې نښانې نه نا اميده شوم. هغه حضرت په مسواکه ګوته ما ته اشاره وکړه او زهٔ بيا ځوانه شوم. ومې ويل: ای زما آقا! له دنيا نه څومره وخت تېر دی او څومره پاتې دی؟ وې فرمايل: «هغه وخت چې تېر شوی دی، هو، او هغه څه چې پاتې دی، نه، يعنې مونږ د تېر وخت علم لرو او راتلونکی غيب علم دی چې بې له خدای نه چا ته

نۀ دی معلوم، او يا مصلحت نۀ دی چې يې ووايم.)) بيا يې راته وفرمايل: ((هغه څه چې لرې يې راوړه)) ما هغه کاڼی هغه حضرت ته ورکړ او هغه حضرت پرې هم هغه شان مهر وواهۀ. بيا يوه موده پس د امام محمد باقر عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوم او هغه حضرت هم په هغه کاڼي باندې د ګوتې مهر وواهۀ او له هغۀ نه وروسته د امام جعفر صادق عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوم او هغه حضرت هم هغه شان مهر وواهۀ. بيا د کلونو کلونو له تېرېدو نه پس د امام موسی کاظم عليه السلام خدمت ته ورغلم او هغه حضرت هم په کاڼي باندې مهر وواهۀ او بيا يوه موده پس د امام رضا عليه السلام په خدمت کښې حاضره شوم او هغوي هم په کاڼي باندې د مهر نقش ولګوۀ. د روايت مطابق بي بي حبابه له دغه واقعې نه پس نهۀ مياشتې ژوندۍ وه.[1]

د رشيد هجري لور بي بي قنواء

که څه هم د دغې بي بي د شخصيت متعلق په شيعه او سني کتابونو کښې څه خبره نۀ ده راغلې او په اصطلاح مبهمه ده.[2] ولې له هغو واقعاتو څخه چې د ابن زياد په لاس د هغې د پلار بزرګوار د اسارت او شهادت د څه رنګوالي په حقله هغې نقل کړې دي په عقيده کښې يې پائېداري، ثابت قدمي او په اسلام او د اهلبېتو عليهم السلام په مکتب باندې پابندي او له اميرالمومنين عليه السلام سره يې مينه او عشق ترې څرګندېږي.

ابو حيان بجلي وائي: د رشيد هجري له لور قنواء نه مې پوښتنه وکړه چې له پلار نه دې څه حديث يا روايت اورېدلی دی. هغې ووېل: پلار مې له اميرالمومنين عليه السلام څخه نقل کړي دي چې وې فرمايل: ((ای رشيده! هغه وخت به ستا صبر څنګه وي چې کله د بني اميهٔ تش په خوله ويل شوی زوی (ابن زياد) تا ځانته راوغواړي او دوه لاسونه ، دوه پښې او ژبه درنه پرې کړي؟)) عرض مې ورته وکړ: ايا زما د کار خاتمه به جنت وي؟ وې فرمايل: ((ای رشيده! ته په دنيا او اخرت کښې له ما سره ملګری يې.))

قنواء وائي په خدای مې دې قسم وي چې يوه موده پس ابن زياد زما پلار ځان ته راوغوښت او ورته يې ووېل چې له حضرت علي عليه السلام نه د بېزارۍ اعلان وکړه خو هغۀ هيڅکله دغه کار ونکړ. ابن زياد ووېل: علي عليه السلام ستا قتل څنګه ډول

[1] - کافي ۱ ټوک، ۳۴۲ مخ، تنقيح المقال ۳ ټؤک ۷۵ مخ.

[2] -اعيان الشيعه ۳۲ ټوک ۲ مخ.

بيان کړی دی؟ پلار مې ورته ځواب ورکړ: زما دوست امام علي عليه السلام زۀ داسې خبر کړم چې تۀ به ما له حضرت علي عليه السلام نه بېزارۍ ته رابولې خو زۀ به يې نۀ قبلوم نو بيا به تۀ زما دواړه لاسونه او دواړه پښې او ژبه پرې کوې. ابن زياد وويل: په خدای مې دې قسم وي چې ستا په حق کښې به حکم د علي عليه السلام د پېشګوئۍ په خلاف جاري کوم، بيا يې حکم ورکړ چې د دۀ دواړه پښې او دواړه لاسونه پرې کړئ او ژبه يې سالمه وساتئ چې هم داسې ورسره وشول. قنواء وائي ما پلار په اوږو واخېست او ورته مې وويل: ای پلاره! ايا د درد او رنځ احساس کوې؟ وې ويل: نه، بس يوازې د هغه دباؤ په وجه چې د خلقو ګڼ والی راباندې راوالي لږ غوندې د ناقرارۍ احساس کوم. په هر حال پلار مې د ابن زياد له دربار نه بهر بوتلۀ، خلق ترې چاپېره راغونډ شول، پلار مې له موقعې نه فائده اوچته کړه او وې ويل: کاغذونه، قلمونه او دواتونه راوړئ چې تاسو ته حوادث بيان کړم. خو چې کله دا خبر ابن زياد ته ورسېد نو حکم يې وکړ چې ژبه ترې هم پرې کړئ او پلار مې په هم هغه شپه په شهادت ورسېد.[1]

د پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم په دورکښې د ښځو کردار

دې ته په پام سره چې ښځې د حضرت امام مهدي عليه السلام په حکومت کښې هم هغه شان کردار لري څنګه چې د اسلام په ابتدائي دور کښې يې لرلی دی. نو غواړو چې په هغه دور کښې د ښځو کردار په لنډه توګه وڅېړو.

که څه هم په روايت کښې اشاره شوې ده چې: ((يداوين الجرحی و يقمن علی المرضی، يعنې د زخميانو علاج معالجه کوي او د بيمارانو تيمارداري کوي)) خو کېدې شي چې دا د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په زمانه کښې د ښځو د ترټولو مهمو خدمتونو يوه نمونه وي،ځکه چې هغوي نور فعاليتونه هم لرلي دي او همدغه رول به د حضرت امام مهدي عليه السلام په دور کښې هم ولري. امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((ښځې به هم هغه کارونه چې د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په زمانه کښې يې ترسره کول د حضرت قائم عليه السلام په دور کښې به يې هم ترسره کوي.))

---

[1] - اختيار معرفه الرجال ۷۵ مخ، تنقيح المقال شرح حال رشيد ۱ ټوک، ۴۳۱ مخ، او ۳ ټوک، ۸۲ مخ، معجم رجال الحديث ۷ ټوک، ۱۹۰ مخ، اعيان الشيعه، ۳۲ ټوک، ۲ مخ، شفينه البحار۲ ټوک ۵۲۲ مخ، رياحين الشريعه ۵ ټوک، ۴۰ مخ.

ښځو د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په جنګونو کښې نورې ذمه واریانې او وظائف هم په غاړه لرل، لکه د اسلام جنګیالیو ته د اوبو او خوراک رسول، اخلی پخلی کول، د جنګیالیو د سامانونو خیال ساتل، د دارو درملو برابرول، جنګي سازوسامان برابرول، بیا رغول او هغوي ته رسول، د شهیدانو راوړل، په دفاعي جنګونو کښې برخه اخېستل، د جنګ محاذ ته د لېږلو لپاره د جنګیالیو حوصلې اوچتول او هم د جنګ په مېدان کښې د هغوي حوصلې اوچتول وغېره.
د امام جعفر صادق علیه السلام په ذریعه د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د دور له ښځو سره د امام مهدي علیه السلام د وخت د ښځو تشبیه مونږ دې ته مجبوروي چې د اسلام په ابتدائي دور کښې د ښځو د ځینو فعالیتونو یادونه وکړو.
له هغو ښځو څخه چې په دغو فعالیتونو کښې یې څه مهم رول لرلی دی د ځینو نومونه په دا ډول دي:
۱- بي بي ام عطیه (رض): دغې بي بي په اوو غزاګانو کښې ګډون وکړ، د زخمیانو مرهم پټی کول د هغې له خدمتونو څخه وو.[۱] بي بي ام عطیه وائي زما یوه ذمه واري د فوځیانو د سامانونو خیال ساتل وو.[۲]
۲-بي بي ام عماره (نسیبه) (رض): د احد په جنګ کښې د هغې قرباني او خدمتونه په دومره اندازه وو چې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم له خوا یې ډېره زیاته قدرونه او مننه وشو.[۳]
۳- بي بي ام ابیه (رض): دا بي بي له هغو شپږو ښځو څخه وه چې د خېبر قلعې ته تللې وې. د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم هغوي ته وفرمایل: «تاسو د چا په حکم دلته راغلې یئ؟» بي بي ام ابیه وائي: کله چې مو د هغه حضرت په مخ مبارک د غصې اثرات ولیدل نو وموویل: مونږ د زخمیانو د معالجې لپاره او دارو درملو د راوړلو په خاطر راغلي یو، بیا هغه حضرت هلته زمونږ د پاتې کېدو خبره ومنله. په دغه جنګ کښې زمونږ په ذمه د زخمیانو مرهم پټی کول او د خوراک څښاک تقسیمول وو.
۴- بي بي ام ایمن(رض): په جنګونو کښې به یې د زخمیانو مرهم پټی او علاج معالجه کوله.[۱]

---

[۱] - مسند ابو عوانه ۴ ټوک، ۳۳۱ مخ.
[۲] - مغازي واقدي ۱ ټوک، ۲۷۰ مخ.
[۳] - کنزالعمال ۴ ټوکړ ۳۴۵ مخ.

**۵- بي بي حمنّه** (رض): زخمیانو ته به یې اوبهٔ ورکولې او د هغوي علاج معالجه به یې کوله، د هغې خاوند، ورور او ماما د جنګ په مېدان کښې شهیدان شوي وو.[۲]
**۶- د معوذ لور بي بي ربیعه** (رض): د زخمیانو مرهم پټۍ به یې کوله.[۳] هغه وائي: د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره د جنګ محاذ ته لاړو او شیهدان به مو مدینې ته راوړل.
**۷- بي بي ام زیاد** (رض): هغه له هغو شپږو تنو ښځو څخه وه چې د خېبر د جنګ سیمې ته د زخمیانو د مرهم پټۍ لپاره لاړه وه.[۴]
**۸- د قیس لور بي بي امیّه** (رض): له هجرت نه پس مسلمانه شوه، هغه وائي: د بني غفار له یو شمېر ښځو سره یو ځای د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضره شوم، ورته مو وویل: مونږ غواړو چې له مسلمانو جنګیالیو سره د مرستې او د زخمیانو د معالجې لپاره ستاسو په خدمت کښې د خېبر په لور حرکت وکړو. د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د رضامندۍ په څرګندلو سره وفرمایل: ((د خدایپاک په مهربانیو او عنایتونو سره حرکت وکړئ.))[۵]
**۹- بي بي لیلای غفاریه** (رض): هغه وائي: زهٔ هغه ښځه وم چې د خدای له ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم سره به د زخمیانو د علاج لپاره جنګ ته تللم.[۶]
**۱۰- بي بي ام سلیم** (رض): د احد په جنګ کښې به یې جنګیالیو ته اوبهٔ ورکولې او سره له دې چې حامله وه د حنین په جنګ کښې یې ګډون وکړ.[۷]
**۱۱- بي بي معاذهٔ غفاریه** (رض): د بیمارانو پالنه او د زخمیانو معالجه به یې کوله.[۸]
**۱۲- بي بي ام سنان اسلمیه** (رض): د خېبر جنګ ته د تلو په وخت یې د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ته عرض وکړ: غواړم له تاسو سره لاړه شم او د جنګ په مېدان کښې د زخمیانو مرهم پټۍ او د بیمارانو علاج معالجه او له مجاهدانو سره مرسته وکړم او د هغوي د سامانونو خیال وساتم او تږو ته اوبهٔ ورکړم. د خدای ګران

---

۱ - الاصابه ۴ ټوک، ۴۳۳ مخ.
۲ - طبقات ابن سعد ۸ ټوک، ۲۴۱ مخ.
۳ - اسدالغابه ۵ ټوک، ۴۵۱ مخ، صحیح بخاري ۱۴ او ۱۲۸ مخونه
۴ -الاصابه ۴ ټوک، ۴۴۴ مخ.
۵ - اسدالغابه ۵ ټوک، ۴۰۵ مخ.
۶ - نقش زنان در جنګ ۲۲ مخ
۷ -طبقات ابن سعد ۸ ټوک، ۴۲۵ مخ
۸ - اعلام النساء ۵ ټوک ۲۱ مخ.

رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته وفرمایل: «پکار دي زما له مېرمن ام سلمه سره حرکت وکړي.»[1]

**۱۳- بي بي فاطمه زهرا علیها السلام:** **محمد بن مسلمه (رض) وائي:** د احد په جنګ کښې ښځې د اوبو په لټه کښې شوې او دغه ښځې څوارلس تنه وې چې بي بي فاطمه زهرا علیها السلام هم پکښې شامله وه.[2]

ښځو به خوارک او اوبهٔ په خپلو اوږو باندې وچتولې او د زخمیانو په علاج معالجه به لګیا وې او اوبهٔ به یې ورته ورکولې.[3]

**۱۴- بي بي ام سلیط(رض):** **دویم خلیفه وائي:** بي بي ام سلیط به د احد په جنګ کښې د اوبو مشکونه زمونږ لپاره په اوږو ګرځول او هم به یې زمونږ جنګي ساز و سامان مرمت کوهٔ.[4]

**۱۵- بي بي نسیبه (رض)::** دې بي بي له خاوند او دوو زامنو سره د احد په جنګ کښې شرکت وکړ او د اوبو مشکونه به یې اوچتول او په زخمیانو باندې به یې اوبهٔ څښولې، کله چې جنګ سخت شو نو هغې هم په جنګ شروع وکړه او د تورو او نېزو دولس زخمونه ورباندې راغلل.[5]

**۱۶- بي بي انیسه (رض)::** دا بي بي د احد په جنګ کښې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم په خدمت کښې حاضره شوه او ورته یې عرض وکړ: ای د خدای ګران رسوله! صلی الله علیه و آله وسلم د بدر له جنګیالیو څخه زما زوی عبدالله بن سلمه اوس د احد په جنګ کښې شهید شوی دی، غواړم چې هغه مدینې ته یوسم او هلته یې خاورو ته وسپارم چې مزار یې زما له کور سره نزدې وي او ورته ورځم او ورسره مینه کوم. د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم ورته اجازت ورکړ. بي بي انیسه د خپل شهید زوی پاکه جنازه د مجدر بن زیاد نومې یو بل مسلمان شهید له جنازې سره چې په عبا کښې نغښتي شوي وو د اوښ په ذریعې سره مدینې ته یوړل.[6]

د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم تر مشرۍ لا ندې د اسلام په محاذ کښې د ښځو د کردار او فعالیت دا یوه برخه وه. کېدی شي چې په فوځي چارو کښې د

---

[1] - ریاحین الشریعه ۳ ټوک، ۴۱۰ مخ.
[2] - مغازي واقدي ۱ ټوک، ۲۴۹ مخ.
[3] - مغازي واقدي ۱ ټوک، ۲۴۹ مخ.
[4] - صحیح بخاري ۱۲ ټوک، ۱۵۳ مخ.
[5] - مغازي واقدي ۱ ټوک، ۲۲۸ مخ.
[6] - اسدالغابه ۵ ټوک، ۴۰۲ مخ، نقش زنان حجت الاسلام محمد جواد طبسي.

ښځو مرستې او ملاتړ د دې لپاره ؤ چې له دښمن سره په جنګ او ښتنه کښې له جنګياليو څواکونو څخه له زياتې نه زياته استفاده وشي. د حضرت امام مهدي عليه السلام په حکومت کښې به هم د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم د دور په شان ښځې همدغه کردار ادا کوي.

په هغه دوران کښې يا له هغۀ نه مخکښې ښځې مختلف کردارونه لري د دجال په خلاف تبليغات او له هغۀ نه د خلقو خبرداروال د هغوي له کردارونو او ذمه واريانو څخه دي.

ابو سعيد خدري وائي: هر چرته چې دجال د تللو اراده وکړي نو د لئيبه (طيبه) نومې ښځه به هلته له هغۀ مخکښې ځان رسوي او خلقو ته به وائي چې دجال ستاسو لور ته راروان دی، له هغۀ څخه لرې وسئ او د هغه د کار له عاقبت څخه خبردار اوسئ.[1]

دويم باب

د قيام رهبر

د حضرت امام مهدي عليه السلام د انقلاب او پاڅون په حقله مو تر اوسه يو لړ مضامين وړاندې کړل. په دې باب کښې له روايتونو نه په استفادې سره د هغه حضرت جسمي او اخلاقي خصوصيات او کرامات څېړو.

الف) بدني خصوصيتونه

۱- عمر او څېره

د حصين زوی عمران وائي: د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم ته مې وويل: هغه سړی (امام مهدي) راته توصيف کړئ اود هغۀ د حالاتو يوه برخه راته بيان کړئ. د خدای ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم وفرمايل: ((هغه زما له اولاد څخه دی، اندامونه يې د بني اسرائيلو د سړيو په شان سخت او مضبوط دي. زما د امت د سختۍ او مصيبت په وخت کښې به قيام کوي، د څېرې رنګ يې له عربو سره شباهت لري او جوسه يې د څلوېښت کلن سړي غوندې ښکاري، مخ به يې لکه د سپوږمۍ د ټوټې ځليږي، زمکه به له عدل او انصاف نه ډکوي، هغه وخت چې له ظلم او ستم نه

[1] - فتن ابن حماد ۱۵۱ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک، ۲۰۲ مخ.

ډکه شي. شل کاله به د حکومت واګې په لاس لري او د قسطنطنيه، روم وغېره په شان د کفر ټول ښارونه به فتح کوي...))[۱]

امام حسن مجتبی عليه السلام فرمائي: ((.... خدای پاک به د حضرت مهدي (عليه السلام) عمر د غيبت په زمانه کښې اوږدوي، او له دې وروسته به په خپل بې پايه قدرت به سره هغه تر څلويښتو د کم عمره کس په شکل سره ظاهرکړي.))[۲]

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((هغه وخت چې حضرت قائم (عليه السلام) ظهور کوي نو خلق به ترې انکار کوي او ځوک به يې نه قبلوي بې له هغو کسانو څخه چې خدای پاک ترې د ذر په عالم[۳] کښې له هغوي نه عهد اخېستی دی. هغه حضرت به د کاملې او کاميابې او معتدلې ځوانۍ په څېره کښې ظاهرېږي.))[۴] امام علي عليه السلام فرمائي: ((کله چې حضرت مهدي (عليه السلام) قيام کوي نو عمر به يې د دېرشو او څلوېښتو کالو ترمېنځ وي.))[۵]

مروي وائي: ((امام رضا عليه السلام ته مې عرض وکړ: د ظهور او قيام په وخت به ستاسو د قائم عليه السلام نښې نښانې څه وي؟ امام وفرمايل: (( د هغۀ نښه دا ده چې د حضرت عمر به زيات وي خو له څېرې نه به ځوان په نظر راځي، په دا ډول چې که څوک يې څېرې ته وګوري نو ګمان به کوي چې هغه د څلوېښتو يا څه کم عمر کښې دی. بله نښه يې دا ده چې د وخت په تېرېدو سره به هغه نۀ بوډا کيږي ان تردې چې د اجل وخت يې راورسي.))[۶]

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((په حتمي توګه د خدای هغه ولي د ابراهيم خليل الله عليه السلام په شان يو سل او شل کاله عمر کوي او د دېرش کلنۍ په کاملې ځوانې څېرې او مخ سره به ظهور کوي.))[۷]

---

۱ - ملاحم ابن طاؤس ۱۴۲ مخ.

۲ - کمال الدين ۱ ټوک، ۳۱۵ مخ، کنايه الاثر ۲۲۴ مخ، اعلام الورى ۴۰۱ مخ، الاحتجاج ۲۸۹ مخ.

۳ -د ذر عالم په زمکه باندې دانسانانو له خلقت نه د مخکښې عالم دی چې خدای پاک په هغه عالم کښې له انسانانو څخه د خپل ربوبيت په حقله اقرار واخېست، (( وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنفُسِهِمْ أَلَسْتَ بِرَبِّكُمْ قَالُواْ بَلَى شَهِدْنَا أَن تَقُولُواْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ (( ای زمونږ رسوله ياد کړه هغه وخت چې ستا خدای د آدم د اولاد له پشت څخه د هغۀ ذريت واخېست او هغوي يې په ځان باندې ګواه وګرځول چې ايا زۀ ستاسو پروردګارنه يم؟ ټولو وويل: هو، مونږ ستا په خدائۍ باندې ګواهي ورکوو.)) ځينو مفسرانو ويلي دي چې مراد ترې د روح په عالم کښې د حضرت ادم عليه السلام د اولاد ارواګانې دي او د ملک او ملکوت په عالم کښې د خدای پاک په توحيد او د هغۀ په پرودرګارۍ باندې ګواهي دې لپاره چې نور نو دا ونۀ وائي چې مونږ د قيامت له واقعې او د خدای له توحيد څخه غافله وو. ( سورۀ اعراف (۷) ۲۵۴ ايت.

۴ -غيبت نعماني ۱۸۸ مخ، عقدالدرر ۴۱ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۸۷ مخ، ينابيع الموده ۴۹۲ مخ.

۵ - احقاق الحق ۱۹ ټوک، ۲۵۴ مخ.

۶ - کماالدين ۲ټؤک، ۲۵۲ مخ، اعلام الورى ۴۳۵ مخ، خرائج ۳ ټوک، ۱۱۷۰ مخ.

۷ -بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۸۳ مخ.

مرحوم مجلسي وائي: کېدې شي مراد يې د هغه حضرت حکومت او سلطنت وي او يا دا چې د هغه حضرت عمر به په هم دغه هومره اندازه وي خو خدای پاک به اوږد کړی وي.
له موفق او کامياب اندامونو نه مراد د اندامونو معتدل والی دی او دې ته اشاره ده چې په متوسط عمر کښې يا بالاخره د ځوانۍ په عمر کښې به وي.[1]
د ظهور په وخت د هغه حضرت د عمر په باره کښې نور اقوال هم شته. ارطات وائي: ((امام مهدي عليه السلام به شپېتۀ کلن وي.[2] ابن حماد وائي: (( حضرت مهدي به اتلس کلن وي.))[3]

**۲- بدني کړۀ وړۀ**

ابو بصير وائي: امام جعفر صادق عليه السلام ته مې عرض وکړ: ((ستاسو له والد صاحب نه مې اورېدلي دي چې د زمانې د امام عليه السلام سينه به پراخه او اوږې به يې خلاصې او پلنې وي. حضرت وفرمايل: ((ای ابا محمد! پلار مې د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم زغره واچوله خو هغه پرې اوږده وه، په دا ډول چې زمکې ته رسېده، ما هم هغه واچوله خو زما له قد نه هم اوږده وه، خو د حضرت قائم عليه السلام په قامت باندې به هغه زغره داسې مناسبه او برابره وي لکه چې څنګه د خدای د ګران رسول صلی الله عليه و آله وسلم په بدن باندې وه، او د هغې زغرې لاندې برخه به لنډه وي په دا ډول چې هر کتونکی به ګمان کوي چې چاپېره يې غوټه خوړلې ده.))[4]
د صلت زوی ريان وائي: امام رضا عليه السلام ته مې عرض وکړ: ايا تۀ د دې امر خاوند يې؟ وې فرمايل: ((زۀ امام او د امر خاوند يم، خو نه هغه د امر خاوند چې زمکه به له عدل او انصاف نه ډکوي هغه وخت چې له ظلم او بې انصافۍ نه ډکه وي، نو زۀ څه رنګ هغه د امر خاوند کېدې شم په داسې حال کښې چې زما د بدن ناتواني وينې؟ حضرت قائم (عليه السلام) هغه څوک دی چې کله ظهور وکړي نو د بوډاتوب عمر کښې به وي خو ځوان به په نظر راځي. قوي او مضبوط اندامونه به لري، په دا ډول چې که خپل لاس يوې ډېرې مضبوطې ونې ته واچوي نو له بېخه به يې راوباسي او که د

[1] - بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۸۳ مخ.
[2] - ملاحم ابن طاؤس ۷۳ مخ، کنزالعمال ۱۴ ټوک، ۵۸۲ مخ.
[3] - فتن ابن حماد ۱۰۲ مخ.
[4] - بصائرالدرجات ۴ ټوک، ۱۸۸ مخ، اثبات الهداه ۳ ټؤک ، ۴۴۰ مخ او ۵۲۰ مخونه، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۳۱۹ مخ.

غرونو په مېنځ كښې چغه ووهي نو غرونه به مات او راونړوي، د موسى عليه السلام امسا او د عيسى عليه السلام ګوتمه به ورسره وي.))[1]

ب) اخلاقي كمالات

حضرت امام مهدي عليه السلام د نورو معصومو امامانو په شان يو لړ خاص اخلاقي كمالات لري. له دې امله چې معصومين ټول كامل انسانان دي او له هر اړخه د انسانيت لپاره نمونه او بېلګه دي، نېک اخلاق هم له ټولو انسانانو نه په لوړ حد كښې لري.

امام علي رضا عليه السلام فرمائي: ((حضرت مهدي (عليه السلام) له ټولو نه زيات هوښيار او عقلمن، له ټولو نه زيات زغم كوونكى، او له ټولو نه زيات تقوا دار او پرهېزګار دى، هغه له ټولو انسانانو نه زيات بخښونكى، له ټولو نه زيات مېرنى او له ټولو نه زيات عبادت كوونكى دى.))[2]

۱- د خداى پاک په وړاندې عاجزي او وېره

كعب وائي: د خداى پاک په وړاندې د امام مهدي عليه السلام عاجزي او وېره د دوو وزرو ترمېنځ د باز د وېرې په اندازه ده.[3] كېدې شي له دې خبرې نه د كعب مراد دا وي چې كه څه هم عقاب يو طاقتور مارغۀ دى خو دغه ټول قوت د هغۀ د وزرو په مرستې پورې تړاؤ لري، كه وزرې يې د يوې شېبې لپاره ورسره مرسته ونكړي نو له اسمان نه به د زمكې په لور راوغورزيږي، امام مهدي عليه السلام هم كه هر څومره طاقتور او قدرت لرونكى الهي رهبر دى، خو دغه ټول قوت او طاقت يې د خداى پاک لخوا دى. كه خداى پاک د يوې شېبې لپاره د هغه حضرت مرسته او مدد ونكړي نو د فعاليت او چارو د ترسره كولو توان به ونۀ لري. په همدې وجه هغه حضرت د خداى پاک د توانا ترين ذات په وړاندې عاجزي، وېره او خوف لري.

د ابن طاؤس د نقل مطابق[4] د خداى پاک په وړاندې د هغه حضرت عاجزي او خشوع د نېزې له دواړو سرونو سره تشبيه شوې ده. د نېزې د عمل چټكتيا او د ښې په

---

۱ - كمال الدين ۲ټوک، ۴۸ مخ، اعلام الورى ۴۰۷ مخ، كشف الغمه ۳ ټوک، ۳۱۴مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک ۳۲۲ مخ، وافي ۲ ټوک، ۱۱۳ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۴۸۷ مخ.

۲ - ينابيع الموده ۴۰۱ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۳۷ مخ، احقاق الحق ۱۳ ټوک ۳۲۷ مخ.

۳ - قتن ابن حماد ۱۰۰ مخ، عقدالدرر ۱۵۸ مخ، ملاحم ابن طاؤس ۷۳ مخ، برهان متقي هندي ۱۰۱ مخ.

۴ - ملاحم ابن طاؤس ۷۳مخ.

ویشتلو کښې دقت د دوو وزرو په شان د هغې له دواړو سرونو سره تړاؤ لري او که یو سر یې هم کوږ وي نو نېزه خطا ځي.
کېدې شي مراد ترې دا وي چې د امام مهدي علیه السلام قدرت او طاقت د خدای پاک لخوا دی او ټول کارونه یې د خدای پاک له مرستې سره تړاؤ لري.

۲- زهد

امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((ولې د حضرت مهدي (علیه السلام) په ظهور کښې بیړه کوئ؟ خدای پاک پوهیږي چې د هغهٔ جامې سختې او کلکې، خوراک یې د اوربشو ډوډۍ او حکومت یې د تورې حکومت او مرګ یې د تورې په سیوري کښې دی.)).[۱]

عثمان بن حماد وائي: د امام جعفر صادق علیه السلام په مجلس کښې ناست وم چې یو سړي هغه حضرت ته عرض وکړ: امام علي علیه السلام به سختې او کلکې جامې اچولې چې ارزښت یې ځلور درهمه ؤ خو تاسو قیمتي جامې اچوئ. حضرت ورته په ځواب کښې وویل: ((حضرت علي علیه السلام په داسې زمانه کښې جامې اچولې چې انکار ترې نه کېدهٔ او اعتراض پرې نهٔ کېدهٔ. د هرې زمانې تر ټولو غوره جامې د هغې زمانې د خلقو جامې دي، کله چې زمونږ قائم قیام وکړي نو د حضرت علي علیه السلام په شان جامې به اچوي او د هغه حضرت د سیاست او تګلارې پیروي به کوي.))[۲]

ج) جامه

په روایتونو کښې د ظهور په وخت د امام مهدي علیه السلام لپاره مخصوص لباس ذکر شوی دی. کله د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم د قمیص مبارک ذکر شوی دی او کله د هغه حضرت د ظهور په وخت د حضرت یوسف علیه السلام د قمیص ذکر شوی دی.

یعقوب بن شعېب وائي: امام جعفر صادق علیه السلام وفرمایل: ((ایا نهٔ غواړې هغه قمیص چې حضرت قائم علیه السلام به د ظهور په وخت اچولی وي درته وښیم؟)) عرض مې وکړ، هو، غواړم چې یې ووینم. هغه حضرت یو صندوقچه راوغوښتله او

۱ - غیبت نعماني ۲۳۳ او ۲۳۴ مخونه، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۵۴ مخ (په لږ فرق سره)
۲ -کافي ۲ټوک، ۴۴۴مخ، بحارالانوار ۴۱ ټوک، ۱۵۹ مخ، او ۴۷ ټوک ۵۵ مخ.

هغه يې خلاصه کړه او له هغې نه يې د خمتا يو قميص راوويست، هغه يې خلاص کړ او د هغهٔ د کين لستوني په ګوټ کښې د وينو داغ ؤ. امام جعفر صادق عليه السلام وفرمايل: ((دا د پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم قميص دی او د احد په جنګ کښې چې کله يې د هغه حضرت څلور مخکيني غاښونه شهيدان کړل دا قميص يې اچولی ؤ او حضرت قائم به هم د قيام په وخت دا قميص اچولی وي.)) ما هغه د وينو داغ ښکل کړ او په خپلو سترګو مې ومخښلو. بيا هغه حضرت هغه قميص پورته کړ او راغونډ يې کړ.[1]

مفضل بن عمر وائي: ((امام جعفر صادق عليه السلام وفرمايل:: ((ايا درته معلومه ده چې د حضرت يوسف عليه السلام قميص کوم يو ؤ؟)) ومې ويل: نه، وې فرمايل: ((کله چې د حضرت ابراهيم (عليه السلام) لپاره اور بل کړې شونو جبرائيل (عليه السلام) د هغهٔ لپاره يو قميص راوړهٔ او هغهٔ ته يې واچوهٔ چې ګرمي او يخني ورته ضرر و نهٔ رسوي او چې کله يې د وفات وخت راورسېد نو هغه يې د يو ي دعا په پوښ کښې بند کړ او د خپل زوي اسحاق مټ کښې يې ځوړند کړ، هغهٔ هم دغه قميص حضرت يعقوب (عليه السلام) ته ورکړ، چې کله حضرت يوسف (عليه السلام) وزېږېد نو حضرت يعقوب (عليه السلام) هغه د حضرت يوسف عليه السلام په مټ کښې ځوړنده کړ، په حضرت يوسف (عليه السلام) باندې هم ډېرې پيښې تېرې شوې ان تردې چې په مصر کې مشر شو، کله چې هغهٔ هلته هغه قميص له پوښ نه راوويست نو حضرت يعقوب (عليه السلام) ته يې بوي ورغی او دا په قران شريف کښې د خدای پاک خبره ده چې د يوسف (عليه السلام) په قيصه کښې يې د يعقوب (عليه السلام) له قوله بيانوي او فرمائي: ((زهٔ د يوسف بوي بويوم، که ما ته د خطا نسبت رانکړئ. ))[2] او دا هغه قميص دی چې له جنت نه راغلی دی.))

عرض مې وکړ: له تاسو ځار شم هغه قميص د چا لاسو ته رسېدلی دی؟ وې فرمايل: د هغهٔ د خاوند لاسو ته رسېدلی دی، کله چې زمونږ قائم (عليه السلام) ظهور وکړي نو هغه قميص به ورسره وي.)) بيا يې وفرمايل: ((هر پيغبر چې علم يا نور څهٔ څيز په وراثت کښې ترلاسه کړی دی هغه ټول هر څهٔ حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم ته رسېدلي دي.))[3]

---

[1] - غيبت نعماني ۲۴۳ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۴۲ مخ، حليه الابرار ۲ ټوک ۵۷۵ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټؤک ۳۵۵ مخ.
[2] - سورهٔ يوسف (۱۲) ۹۴ ايت
[3] -کافي ۱ ټوک، ۲۳۲ مخ، کمال الدين ۲ ټوک، ۲۷۴ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۲۷ مخ.

د) وسله

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم حضرت علي علیه السلام ته وفرمایل: ((کله چې زمونږ قائم (علیه السلام) قیام وکړي او کله چې یې د ظهور ماموریت راورسي، یوه توره به ورسره وي چې هغهٔ ته به اواز کوي: ای د خدای پاک ولي! قیام وکړه او د خدای دښمنان ووژنه.))[1]

امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((حضرت مهدي (علیه السلام) به د ظهور په وخت د خدای دګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم قمیص چې د احد په جنګ کښې یې اچولی ؤ، او دهغه حضرت دستار او زغره چې د هغهٔ په قامت باندې آراسته دي اچوي او د پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم توره ((ذوالفقار)) به یې په لاس کښې راوښتلې وي او تر اتو میاشتو پورې به د بې دینودښمنانو د مړیو ډیرې جوړوي.))[2]

جابر جعفي وائي: ((امام محمد باقر علیه السلام وفرمایل: (( امام مهدي (علیه السلام) به له مکې څخه د رکن او مقام ترمېنځ له خپل وزیر او درې سوو او لږ شمېر (دیارلسو) ملګرو سره ظهور کوي، په داسې حال کښې چې د خدای د ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم عهد، دستوالعمل، بېرغ او وسله به ورسره وي. بیا به د مکې له اسمان څخه اواز کوونکی د هغه حضرت په نامې او ولایت سره اواز کوي، په داسې ډول چې د زمکې ټول اوسېدونکي به د هغه حضرت نوم اوري او د هغه حضرت نوم به د پېغبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم نوم وي.))[3]

هـ) امام به خلک له څېرو پیژني

د امام مهدي علیه السلام یو بل خصوصیت دا دی چې د انسانانو باطني شخصیت به د هغوي له څېرو څخه پېژني او د نېکو او صالحو او د بدو او ناصالحو کسانو ترمېنځ د فرق تشخیص به کوي او مفسد کسان به په همدغه شناخت سره د خپلو اعمالو سزا ته رسوي.

---

[1] - کفایت الاثر۲۲۳ مخ، بحارالانوار ۳۲ ټوک، ۴۰۹ مخ، عوالم ۱۵ ټوک، ۳ برخه، ۲۲۹ مخ، اثبات الهداه ۳ټوک،۵۲۳ مخ.

[2] -غیبت نعاني ۳۰۸ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۲۲۳ مخ، ارشاد ۲۷۵ مخ.

[3] - الاصول السنه عشر ۷۹ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۸۸مخ، بحارالانوار ۲۲ ټوک، ۲۰۹ مخ، مستدرک الوسائل ۱۱ ټوک، ۳۸ مخ.

امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: کله چې حضرت قائم (علیه السلام) ظهور وکړي نو څوک به داسې پاتې نۀ شي مګر دا چې هغه حضرت يې وپېژني چې هغه نېک او صالح کس دی یا منحرف او فاسد کس.))[1]
همدا رنګ هغه حضرت فرمائي: ((کله چې حضرت قائم آل محمد صلی الله علیه و آله وسلم قیام وکړي نو زمونږ دښمنان به له څېرو څخه پېژني، بیا به هغوي له تندي (سر) او پښو څخه رانیسي او په خپله یا د خپلو ملګرو په ذریعې سره به یې وژني.))[2]
دغه شان په يو بل ځای کښې فرمائي: ((کله چې زمونږ قائم (علیه السلام) ظهور وکړي نو خپل دوستان او دښمنان به د تشخیص د هغه قدرت په ذریعه چې لري يې پېژني.))
معاويه دهني وائي: ((امام جعفر صادق علیه السلام د دې مبارک ایت په حقله چې مجرمان به د هغوي له څېرو څخه پېژندل کیږي او بیا به هغوي له سر او پښو څخه نیول کیږي.))[3] وفرمایل: ((ای معاویه! نور خلق په دې حقله څه وائي؟)) عرض مې وکړ، هغوي ګمان کوي چې خدای پاک به د قیامت په ورځ ګناهګاران د هغوي له څېرو پېژني او د سر له مخکښې وښتو او پښو څخه به يې نیسي او په اور کښې به يې اچوي.، امام وفرمایل: ((خدای پاک څه ضرورت لري چې مجرمان د هغوي له څېرو څخه وپېژني په داسې حال کښې چې هغوي يې خلق کړي دي.)) عرض مې وکړ: نو بیا يې معنا څه ده؟ وې فرمایل: ((کله چې حضرت قائم علیه السلام قیام وکړي، نو خدای پاک به هغۀ ته د څېرې د پېژندلو علم عطا کوي او حضرت به حکم ورکوي چې کافران له لاسو پښو نه ونیسئ او په تورې سره پرې سخت ګوزارونه وکړئ.))[4]

و ) کرامات
په اخره زمانه کښې که څه هم خلق د يو قدرتمن او طاقتور او په عېن حال کښې د مظلومانو د ملاتړي حکومت د راتلو لپاره شېبې شماري، خو اکثرو حکومتونو ته به چې په اقتدار کښې راشي هیله من نۀ وي او د هر ګوند او ډلې خبره به نۀ مني او په

---

[1] - کمال الدین ۲ ټوک، ۲۷۱ مخ، خرائج ۲ ټؤک ۹۳۰مخ، اثبات الهداه ۳ ټؤک، ۴۹۳ مخ، بحارالانوار ۵۱ ټوک، ۵۸ مخ او ۵۲ ټوک، ۳۸۹ مخ.
[2] -احقاق الحق ۱۳ ټوک، ۳۵۷ مخ، غیبت نعماني ۲۴۲ مخ، کمال الدین ۲ ټؤک ۳۲۲ مخ، ارشاد ۵ ټوک، ۳۲ مخ، اعلام الوری ۴۳۳ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک، ۲۵۲ مخ.
[3] - يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ ((په هغه ورځ به بدکاران له څېرو څخه پېژند کیږي بیا به د هغوي د تندي له وښتو سره له پښو نه ونیوې شي.)) سورۀ الرحمن (۵۵) ۴۱ ایت.
[4] - اختصاص ۳۰۴ مخ، غیبت نعماني ۱۲۸ مخ، بصائرالدرجات ۳۵۲ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۲۱ مخ، الشیعه ولرجعه ۱ ټوک، ۴۳۱ مخ، المحجبه ۲۱۷ مخ، ینابیع الموده ۴۲۹ مخ.

اصولي توګه څوک به په دې باندې قادر نۀ ګڼې چې د معاشرې نظم راستون کړي او له تاوتريخوالي او ګډوډۍ ډکه دنيا منظمه او سمه کړي. نو له دې امله هغه کس چې معاشرې او ټولنې ته د نظم د راستنولو او په نړۍ کښې د امن و امان د راوستلو دعوا کوي پکار دي د نورو انسانانو نه اوچت توان ولري او د دې خبرې ثابتول يو لړ كراماتو او د خارق العاده کارونو ترسره کولو ته ضرورت لري او شايد په همدې خاطر وي چې امام مهدي عليه السلام به د ظهور په ابتداء کښې په يو شمېر كراماتو او معجزو باندې لاس پورې کوي. د الوت په حال کښې مارغۀ ته به اشاره کوي نو هغه به فوراً لاندې راکوز شي او د هغه حضرت په لاس به کښېني، يو اوچ لرګی به په زمکه کښې ښخ کړي او هغه لرګی به فوراً شين شي او څانګې او پاڼې به راوباسي.
په دې کارونو سره به خلقو ته دا خبره ثابته شي چې د هغوي سروکار له داسې شخصيت سره دی چې زمکه او اسمانونه يې د خدای پاک په حکم سره په اختيار کښې او تر فرمان لاندې دي. دغه كرامات د هغو خلقو لپاره زېری دی چې تر کلونو کلونو بلکې تر پېړيو پېړيو پورې يې ځانونه د اسمان او زمکې تردباؤ او قهر لاندې ليدل، هغه خلق چې له پاس څخه به وربانديې د هوائي الوتکو او توغنديو حملې کېدې، (په دهشتګردانه حملو کښې به وژل کېدل) په مېلينونو قربانۍ به يې ورکولې او هيڅ توان او طاقت به يې نۀ لرۀ چې د دغو حملو، تېريو او چاودنو (خودکش حملو) مخه ونيسي خو اوس به د يو داسې شخصيت په وړاندې ځانونه ويني چې زمکه، اسمانونه او هغه څه چې پکښې دي د هغۀ په اختيار کښې دي.
هغه کسان چې تر پرونه پورې له سختې قحطي سره مخامخ وو چې حتی د ژوند د لومړيو ضرورتونو د برابرولو توان يې نۀ لرۀ او مختلف تکليفونه، زحمتونه او مشکلات يې زغمل اود اوچکالۍ او زراعت د کمي په وجه په سختې اقتصادي محاصره کښې وو نن د يو داسې شخصيت په وړاندې دي چې په يوې اشارې سره به زمکه شنه او زرغونه کوي او اوبۀ او باران به جاري کوي.
هغه خلق چې له لاعلاجه بيماريو سره مخامخ شوي وي له يو داسې کس سره به مخامخ کيږي چې حتی لاعلاجه بيمارۍ به هم معالجه کوي او مړيو ته به ژوند وربخښي. دا هغه معجزې او كرامات دي چې د دغه اسماني رهبر د وېناؤ د حق والي، صداقت او توانمنيو بيانوونکي دي. لنډه دا چې د نړۍ خلق به باور وکړي چې دا زېرى وركوونكى له تېر هيڅ يو مدعي سره مشابهت نۀ لري او دا هم هغه حقيقي ازادي بخښونکی، الهي ذخيره او مهدي موعود عليه السلام دی.

د امام مهدي عليه السلام كرامات به چې كله د هغهٔ د جنګياليو لپاره رامنځته كيږي نو د هغوي ايمانونه به لا مضبوطوي او عقائد به يې لا پخوي او كله به يې د دښمنانو او يا د انكار كوونكو لپاره وي چې په هغه حضرت باندې به د هغوي د ايمان او اعتقاد سبب كيږي. اوس هم له هغو څخه ځينو كراماتو ته اشاره كوو:

۱- د مارغهٔ خبرې كول

اميرالمومنين امام علي عليه السلام فرمائي: ((حضرت امام مهدي (عليه السلام) به د خپل تګ په لاره كښې له يو حسني سيد سره چې دولس زره جنګيالان به ورسره وي مخامخ كيږي. هغه حسني سيد به په احتجاج لاس پورې كړي او ځان به له هغهٔ نه زيات د مشرۍ لائق ګڼي. حضرت به د هغهٔ په ځواب كښې وائي: ((زهٔ مهدي يم)). حسني سيد به پوښتنه وكړي چې ايا څه دليل او نښه نښانه لرې چې له تا سره بيعت وكړم؟ حضرت به يو مارغهٔ ته چې په اسمان كښې د الوت په حال كښې وي اشاره وكړي او هغه مارغهٔ به لاندې راكوز شي او د هغه حضرت په لاسو كښې به كښېني، بيا به د خداىپاک په قدرت سره په خبرو شروع وكړي او د حضرت مهدي (عليه السلام) په امامت په ګواهي وركوي.

د حسني سيد د لا زيات اطمينان لپاره به امام يو اوچ لرګى په زمكه كښې ښخ كړي او هغه لرګى به شين شي او ښاخونه او پاڼې به راوټوكوي، بيا به د كاڼي يو ټوټه له زمكې نه راوچته كړي او په زور سره به يې مبده او د خمير په شان نرمه كړي.

حسني سيد به د دغو كراماتو په ليدو سره په هغه حضرت باندې ايمان راوړي خپله او ټول فوځيان به يې امام ته تسليم شي او امام به هغه د فوځ د وړومبۍ كرښې قوماندان جوړ كړي.))[1]

۲- له زمكې څخه د خوراک څښاک رابرسېره كېدل

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((كله چې امام د مكې په ښار كښې ظهور وكړي او كوفې ته د تګ نيت وكړي نو خپلو فوځيانو ته به اعلان وكړي چې څوک له ځان سره خوراک څښاک او د لارې توښه وانهٔ خلئ، هغه حضرت به د حضرت موسى (عليه السلام) هغه كاڼى چې د هغهٔ په وسيلې سره د رڼو اوبو دولس چينې له زمكې

[1] -عقدالدرر ۹۷، ۱۳۸ او ۱۳۹ مخونه، القول المختصر ۱۹ مخ، الشيعه والرجعه ۱ ټوک، ۱۵۸ مخ.

څخه راوخوټېدي له ځان سره لري. په ټوله لاره کښې په هر ځای کښې چې دمه کوي نو هغه کاڼي به ښخوي او له زمکې څخه به د اوبو چینې راخوټیږي، هر څوک چې اوږې کیږي د دغو اوبو په څښلو سره به مړیږي او هر څوک چې تږی وي د هغۀ تنده به ماتیږي.
د لارې د تګ په دوران کښې د لښکریانو خوراک څښاک به په دا ډول وي تر هغه وخته پورې چې نجف ښار ته ورسیږي نو هلته به د دغه کاڼي په لګولو سره د تل لپاره له زمکې نه اوبۀ او پیې راخوټیږي چې اوږي او تږي به مړوي.))[1]
امام محمد باقر علیه السلام فرمائي: ((کله چې حضرت قائم (علیه السلام) ظهور وکړي نو د پېغمبراکرم (صلی الله علیه و آله وسلم) بیرغ، د سلیمان (علیه السلام) ګوتمه او د موسی (علیه السلام) کاڼی او امسا به ورسره وي. بیا به د هغه حضرت په حکم د لښکریانو ترمېنځ اعلان وشي چې څوک د خوراک څښاک توښه او د حېواناتو لپاره واښۀ له ځان سره وانخلي. د لارې د سفر ځینې ملګري به ووائي: چې دې غواړي چې مونږ هلاک کړي او زمونږ سپرلۍ له لوږې او تندې مړې کړي، اصحاب به له هغه حضرت سره تګ شروع کړي، وړومبني ځای ته چې ورسي نو حضرت به کاڼی په زمکه باندې ووهي نو د لښکریانو لپاره به اوبۀ اوخوراک او د حېواناتو لپاره به واښه بهر راووځي او ټول به ترې استفاده وکړي ان تردې چې نجف ښار ته ورسي.))[2]

۳- طيّ الارض او د سیوري نۀ لرل
امام علي رضا علیه السلام فرمائي: (( کله چې امام مهدي (علیه السلام) ظهور وکړي نو زمکه به د خدای پاک له نور څخه روښانه شي او زمکه به د مهدي (علیه السلام) تر پښتو لاندې په چټکه توګه حرکت کوي (هغه به په چټکتیا سره د لارې سفر لنډوي) او هغه دی چې سیوری به ونۀ لري.))[3]

[1] -بصائرالدرجات ۱۸۸ مخ، کافي ۱ ټوک، ۲۳۱م خ، غیبت نعماني ۲۳۸ مخ، خرائج ۲ ټوک، ۲۹۰ مخ، نورالثقلین ۱ ټوک، ۸۴ مخ، بحارالانوار ۱۳ ټوک ۱۸۵ مخ او ۵۲ ټوک، ۳۲۴ مخ.
[2] - کمال الدین ۲۷۰ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۵۱مخ، وافي ۲ ټوک، ۱۱۲ مخ.
[3] - کمال الدین ۳۷۲ مخ، کفایت الاثر ۳۲۳ مخ، اعلام الوری ۴۰۸ مخ، کشف الغمه ۳ ټوک، ۳۱۴ مخ، فرائد السمطین ۲ ټوک، ۳۳۲ مخ، ینابیع الموده ۴۸۹ مخ، نورالثقلین ۴ ټوک ۴۷ مخ، بحارالانوار ۵۱ ټوک ۱۵۷ مخ، کفایت الاثر ۳۲۴ مخ، احتجاج ۲ټوک، ۴۴۹ مخ، اعلام الوری ۴۰۹ مخ، خرائج ۳ ټوک۱۱۷۱ مخ، مستدرک الوسائل ۲ټوک ۳۳ مخ.

### ۴- د تګ راتګ وسیله

امام محمد باقر علیه السلام سوره نومې یو کس ته وفرمایل: (( ذوالقرنېن ته اختیار ورکړی شو چې له سختې او رامې وریځې څخه یوه اوریځ انتخاب کړي. هغۀ رامه وریځ انتخاب کړه او سخته اوریځه د حضرت قائم علیه السلام لپاره ذخیره شوه.))
سوره پوښتنه وکړه چې دا سخته وریځه څه شیز دی؟ هغه حضرت وفرمایل: ((دا هغه وریځې دي چې پکښې، برېښنا، تالنده او ګړزهار وي، کله چې وریځ داسې وي ستاسو صاحب (علیه السلام) به په هغې باندې سور وي. بې شکه چې هغه به په وریځ باندې سوریږي او د اسمان په لور به خېژي او اوۀ واړه اسمانه او زمکې به طې کوي، هغه زمکې چې پنځه یې د اوسېدو او دوه نورې یې ورانې او ویجاړې دي.))[1]
امام جعفر صادق علیه السلام فرمائي: ((خدای پاک ذوالقرنین په دوو وریځو یعنې سختې او رامې وریځې کښې د یوې په غوره کولو کښې اختیارمن کړو نو هغۀ رامه وریځ غوره کړه او دا هغه وریځ ده چې پکښې برېښنا او ګړزهار نۀ ؤ او که هغۀ سخته وریځه غوره کړې وې نوله هغې نه د استفادې اجازه به یې نۀ وه لرلې، ځکه چې خدای پاک سخته وریځه د حضرت قائم (علیه السلام) لپاره ذخیره کړې ده.))[2]

### ۵- د وخت سست رفتار

امام محمد باقر علیه السلام فرمائي: ((چې کله د زمانې امام ظهور وکړي نو د کوفې لور ته به حرکت کوي، هلته به اوۀ کاله حکومت کوي چې هر کال به یې ستاسو د لسو کالو برابر وي، له دې نه بیا وروسته چې خدای پاک څه اراده وکړي هغه به کوي.))
ورته وویل شول چې څنګه به کلونه دومره اوږدیږي؟ امام وفرمایل: ((خدای پاک به منظومې (د هغو چلوونکې فرښتې) ته حکم ورکړي چې خپل ګرځنده تګ دې سست کړي، په دې وجه به ورځې او شپې اوږدېږي.))
ویل کیږي چې که په دې نظام کښې لږ غوندې هم بدلون راشي نو هر څه به وران ویجاړ او فاسد شي. امام وفرمایل: ((دا د خدای په اړه د ماده پرستو او کافرو خلقو خبره ده خو مسلمانان (چې د هغۀ په چلوونکې ذات باندې عقیده لري) داسې خبره نۀ شي کولې.))[3]

[1] - اختصاص مفید ۱۹۹ مخ، بصائرالدرجات ۴۰۹ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۲۱ مخ.
[2] - اختصاص ۳۲۲ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۱۲ مخ، غایت المرام ۷۷ مخ.
[3] - ارشاد مفید ۳۲۵ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټؤک، ۳۳۷ مخ، الشیعه والرجعه ۱ټوک، ۴۰۰مخ.

**۲- د تکبیر قوت**

کعب د حضرت مهدي علیه السلام په لاس د قسطنطنیه ښار د فتح کېدو په حقله وائي: ((هغه حضرت علیه السلام به بېرغ په زمکه کښې ښخ کړي او د اوبو لوري ته به لاړ شي چې د سحر د لمانځهٔ لپاره اودس وکړي نو اوبهٔ به له هغه حضرت څخه لرې شي، حضرت به بېرغ اوچت کړي او په اوبو پسې به روان شي ان تردې چې له هغې ځای څخه به تېر شي، بیا به بېرغ په زمکه کښې ښخ کړي او خپل لښکریان به راوغواړي او ورته به وفرمائي: ((ای خلقو! خدای پاک ستاسو لپاره سمندر وچاودهٔ لکه چې څنګه یې د بني اسرائیلو لپاره چاودلی ؤ نو بس لښکریان به له سمندر څخه تېر شي او د قسطنطنیه ښار ته به مخامخ ورسیږي، لښکریان به د تکبیر اوازونه اوچت کړي چې ورسره به دیوالونه ولړزیږي، یو ځل به بیا د تکبیر اواز اوچت کړي نو دیوالونه به ولړزیږي، په دریم ځل به بیا د تکبیر اواز اوچت کړي نو بیا به هغه دیوالونه چې د مراقبت د دولسو برجونو ترمېنځ موجود وي راونړیږي..[۱]

د خدای ګران رسول صلی الله علیه و آله وسلم فرمائي: (( حضرت مهدي (علیه السلام) به د قسطنطنیه مخې ته راکوز شي په هغه وخت کښې به هغه قلا اوهٔ دیوالونه لري، هغه حضرت به اوهٔ تکبیرونه ووائي او دیوالونه به راونړیږي او د زیاترو رومیانو په وژل کېدو سره به هغه ځای د امام مهدي علیه السلام په قبضه کښې راشي او یو شمېر خلق به هم اسلام قبول کړي.))[۲]

امیرالمومنین امام علي علیه السلام په دې حقله فرمائي: ((... بیا حضرت مهدي علیه السلام او د هغهٔ ملګري به خپل تګ جاري وساتي، او د رومیانو له کلا ګانو څخه له هیڅ یوې قلعې څخه به نهٔ تېریږي مګر دا چې د ((لااله الاالله)) په ویلو سره به یې دیوالونه رانړیږي، ان تردې چې د قسطنطنیه ښار په نزدېو کښې به راکوز شي، هلته به څو تکبیرونه ووائي چې ناڅاپه به هغه خلیج چې د هغه ښار په خوا کښې وي اوچ شي او اوبهٔ به یې په زمکه کښې ننوځي، او د ښار دیوالونه به هم راونړیږي. بیا له هغه ځای نه د رومیه ښار لور ته حرکت کوي او چې کله هلته ورسیږي نو مسلمانان به درې

۱ - عقدالدرر ۱۳۸ مخ،

۲ - العلل المتناهیه ۲ ټوک، ۸۵۵ مخ، عقدالدرر ۱۸۰ مخ،

تکبيرونه ووائي نو ښار به د نرمې شګې او ريګ په شان چې د تېزو هواګانو او طوفانونو په وړاندې راغلي وي وپاشلې شي.)) [1]
هغه حضرت همدا رنګ فرمائي: ((مهدي (عليه السلام) به خپل مخکښې تګ ته دوام ورکړي ان تردې چې له سمندر سره جوخت يو ښار ته ورسي، د حضرت لښکريان به د تکبير اوازونه اوچت کړي او د هغه ښار ديوالونه به راوغورزيږي.)) [2]

۷) له اوبو پورې وتل
امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((پلار مې وفرمايل: کله چې حضرت قائم (عليه السلام) قيام وکړي نو لښکريان به قسطنطنيه ښار ته ولېږي، بيا به يې خليج ته وليږي، هغوي به په خپلو پښو باندې يوه جمله وليکي او له اوبو څخه به تېر شي. روميان چې کله دا معجزه او عظمت ووينې نو يو بل ته به ووائي چې هر کله د زمانې د امام لښکريان داسې وي نو خپله به هغه حضرت څه رنګ وي؟ په همدې وجه به د ښار ورونه د هغوي مخې ته پرانېزي او د حضرت لښکريان به ښار ته ورننوځي او هلته به حکومت کوي.)) [3]

۸) د بيمارانو شفا
اميرالمومنين عليه السلام فرمائي: ((... حضرت مهدي عليه السلام به ببرغ ورپوي او خپلې معجزې به څرګندې کړي او د خدای په اجازې سره به څيزونه له نيستۍ نه په وجود کښې راولي. د جذام او خورې بيمارانو ته به شفا ورکوي او مړي به راژوندي کوي او ژوندي به مړۀ کوي.)) [4]

۹) د حضرت موسی عليه السلام امسا په لاس
امام محمد باقر عليه السلام فرمائي: ((د موسی (عليه السلام) امسا له آدم (عليه السلام) سره متعلق وه چې بيا شعېب (عليه السلام) ته ورسېده او بيا له هغۀ نه موسی بن عمران (عليه السلام) ته ورکړې شوې ده. هغه امسا له مونږ سره ده او اوس اوس

---

[1] - عقدالدرر ۱۳۹ مخ.
[2] -الشيعه والرجعه ۱ ټوک ۱۲۱ مخ.
[3] -غيبت نعماني ۱۵۹مخ، دلائل الامامه ۲۴۹مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۵۷۳ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټوک، ۳۲۵ مخ.
[4] - الشيعه والرجعه ۱ ټوک، ۱۲۹ مخ.

چې ما وليده لا شنه وه داسې لکه چې په کومه ورځ له ونې نه راشکولې شوې وه. که له هغې امسا نه څه پوښتنه وشي نو خبرې کوي او هغه امسا زمونږ (اهلبيتو) د قائم (عليه السلام) لپاره راغلې ده او هغه څه چې موسی (عليه السلام) په دې سره ترسره کړي دي امام مهدي (عليه السلام) به پرې هم ترسره کوي او دغې امسا ته چې هر څه حکم ورکړې شي ترسره کوي يې او په هر ځای چې يې وغورزوې جادوګان به ټول خوري.))[1]

۱۰) د وريځې اواز

امام جعفر صادق عليه السلام فرمائي: ((...حضرت مهدي (عليه السلام) به په اخره زمانه کښې ظهور کوي، د هغه حضرت په سر باندې به وريځې ګرځي او هر چرته چې هغه ځي وريځ به هم ورسره ځي چې هغه حضرت د لمر له تاؤ څخه وساتي او په واضح او څرګند اواز سره به غږ کوي: دا مهدي (عليه السلام) دی.))[2]

بالاخره د امام جعفر صادق عليه السلام په قول: ((له پيغمبرانو او د هغوي د اوصياؤ له معجزو څخه به هيڅ يوه معجزه نۀ پاتې کيږي مګر دا چې خدای پاک به هغه د قائم (عليه السلام) په لاس ترسره کړي چې په دښمنانو باندې حجت تمام شي.))[3]

دريم باب

د امام عليه السلام لښکريان

[1] - کمال الدين ۲ ټوک، ۲۷۳ مخ، بحارالانوار ۵۲ ټؤک، ۳۱۸ او ۳۵۱ مخونه، کافي ۱ ټوک ۳۲۵ مخ.

[2] - تاريخ مواليد الائمه ۲۰۰ مخ، کشف الغمه ۳ ټؤک، ۲۲۵ مخ، صراط المستقيم ۲ ټوک، ۲۲۰ مخ، بحارالانوار ۵۱ ټوک، ۲۴۰ مخ، اثبات الهداه ۳ ټوک، ۲۱۵ مخ، کشف الاستار نوري ۲۹ مخ.

[3] -اربعين خاتون آبادي ۲۸ مخ، اثبات الهداه ۷۰۰ مخ.

د امام مهدي علیه السلام لښکر به له مختلفو قامونو او ملتونو څخه جوړ وي او د قیام او پاڅون په وخت به په خاصې طریقې سره رابلل کیږي. هغه کسان چې له مخکې نه د قوماندانۍ لپاره ټاکل شوي وي د لښکریانو او د جنګي عملیاتو هدایت کول به په غاړه اخلي. هغه لښکریان چې په یو لړ خاصو شرائطو سره به د امام مهدي علیه السلام په فوځ کښې قبلولې شي، یو لړ خاصې ځانګړتیاوې او خصوصیات به ولري. ځینې به په وړومبنیو کارونو کښې شتون لري او یو شمېر به د حضرت له فوځ سره یوځای کیږي او یو شمېر به هم د حفاظت د کارڼ په توګه یادیږي. په دې باب کښې له دې موضوع سره متعلق روایتونو ته پاملرنه وکړئ:

الف) د فوځ سپه سالاري

په روایتونو کښې د داسې کسانو نومونه وینو چې یا د خاصو فوځي عملیاتو او یا د یو شمېر لښکریانو د قوماندانۍ او سپه سالارۍ نسبت ورته ورکړی شوی دی. په دې برخه کښې له هغوي څخه د ځینو نومونو او د هغوي کردار ته اشاره کوو:

۱- حضرت عیسی علیه السلام

امیرالمومنین حضرت امام علي علیه السلام په یوه خطبه کښې فرمائي: ((... بیا به امام مهدي (علیه السلام) په دجال باندې په یرغلیزو عملیاتو کښې عیسی (علیه السلام) خپل جانشین وټاکي. عیسی (علیه السلام) به د دجال د پېدا کولو او ځپلو لپاره روان شي. دجال چې ټوله دنیا به په خپل تسلط کښې لري او کر کیله او زراعت او بشري نسل به یې تباه کړی وي، خلق به د ځان په لور رابلي او هر څوک یې چې ومني، ورباندې لطف او رحم کوي او که چرې یې ترې ډډه وکړه نو هغه به قتلوي د مکې او مدینې او بیت المقدس نه علاوه ټوله نړۍ به یې په بل مخ اړولې وي او ټول زناکار او غیر مشروع بچې (حرامزادګان)به د نړۍ له ختیځه تر لویدیځه، هغه پورې راټول شوې وي.

بیا به دجال حجاز لور ته روانیږي او په هرشا ګوټ کې له هغه سره ملاویږي او هغه باندې به یو وحشت ناک غږ کوي او هغه ته به سخت ګوزار ورکوي او هغه به د اور په لمبو کې داسې سوځي او ړنګیږي لکه څنګه چې سره زر په اوور کې ړنګیږي. [1]

---

۱. الشیعه و الرجعه، ټوک ۱، مخ ۱۶۷

هغه گوزار چې دجال ویلی کوي، شاید داسې وسله استعمال شي چې د هغې زمانې له ټولو نوي وسلې وي او کیداي شي چې دا د حضرت عیسی علیه السلام یوه معجزه هم وي.
د حضرت عیسی علیه السلام په ځانګړتیاوو کې راغلي دي چې هغه به دومره رعب او جلال لري چې کله دښمن هغه ووینې نو مرګ به یې یادیږي او هغه به دا سوچ او گومان کوي چې که حضرت عیسی مو مړوي او قتلوي مو.[1]

۲. شعیب بن صالح علیه السلام
امیر المومنین حضرت علي علیه السلام فرمایې: چې سفیاني او د تورو بیرغو خاوندان له یو بل سره مخامخ کیږي په داسې حال کې چې په هغو کې به د بني هاشمو یو ځوان وي چې د هغه په کینې لاس به تور خال وي او د هغه لښکر مخې ته به د بنې تمیم قبیلې یو کس وي چې نوم به یې شعیب بن صالح وي[2]
حسن بصري وایې: په ری ښ زمکه کې به یو کس د صالح بن شعیب په نوم وي چې څلور متهونه، شین رنګې او بې ږیرې به وي پاځون کوي د هغه تر حکم لاندې به د څلور و زرو کسانو لښکر وي چې جامې به یې سپینې او بیرغ به یې تور وي هغه د امام مهدي علیه السلام د پاځون مخکیښنی کس دی[3]
عمار یاسر فرمایې شیعب بن صالح د امام مهدي علیه السلام بیرغوال دی[4]
شبلنجي وایې: د حضرت امام مهدي علیه السلام د لښکر په مخکښینیو کسانو کې به د بني تمیم قبیلې یو کس وي چې وړه ږیره لري او شعیب بن صالح نوم لري[5]
محمد بن حنفیه وایې: له خراسانه به سپایان او لښکریان روانیږي چې تورې پټۍ او سپینې جامې به یې اچولې وي ددې لښکر په مخکښینیو کسانو کې به یو قوماندان وي چې نوم یې شعیب بن صالح دی یا صالح بن شعیب چې د بني تمیم له قبیلې دی هغه به د سفیاني پوځیانو ته ماتې ورکوي او په بیت المقدس کې به پړاو کوي او د امام مهدي علیه السلام د پاځون لاره به اواروي[6]

---

۱. ابن حماد، فتن، مخ ۱٦۱
۲. ابن حماد، فتن، مخ ۸٦، عقد الدرر، مخ ۱۲۷، کنز العمال ټوک ۱٤ مخ ٥۸۸
۳. ابن طاووس، ملاحم، مخ ٥۳: عقد الدرر، مخ ۱۳۰: الشیعه والرجعه ټوک ۱ مخ ٥۸۸
۴. ابن طاووس، ملاحم، مخ ٥۳، الشیعه والرجعه ټوک ۱ مخ ۲۱۱
۵. نور الابصار، مخ ۱۳۸ : الشیعه والرجعه ټوک ۱ مخ ۲۱۱
٦. ابن حماد، فتن مخ ۸٤: ابن المنادي، مخ ٤۷: دارمي، سنن مخ ۹۸: عقد الدرر، مخ ۱۲٦ : ابن طاووس فتن، مخ ٤۹

۳. اسماعیل د امام صادق علیه السلام زوي او عبدالله بن شریک

ابوخدیجه وایې: چې امام صادق علیه السلام داسې فرمایل: ما له خدایه غوښتي دي چې زما (زوی) اسماعیل پس له ما زما ځای ناستی کړه خو دا غوښتنه الله خوښه نه کړه او دهغه لپاره یې یو بل مقام وټاکه او هغه دا چې هغه لومړنی کس دی چې له خپلو لسو ملګرو سره به ظهور کوي او عبدالله بن شریک هم د هغه له لسو ملګرو څخه دی چې د هغو بیرغوال دی[۱]

امام باقر علیه السلام فرمایي: «عبدالله بن شریک به عامري ویني چې توره عمامه به یې په سر وي او د عمامې دواړه سرونه به یې په اوږو پراته وي او له څلور زره کسانو لښکر سره به د غره لمنې کې د امام مهدي علیه السلام مخې ته ځې او د تکبیر غږونه به کوي[۲]

٤. عقیل او حارث

حضرت امام علي علیه السلام فرمایي: «... امام مهدي علیه السلام به خپل لښکر روانوي ان تر دې چې عراق ته ننوځي په داسې حال کې چې د هغه مخې ته او د هغه شا ته روان وي او د مخکښینو کسانو قوماندان به یو کس وي چې نوم یې عقیل دی او کوم کسان چې شاته روان دي د هغو د قوماندان نوم به حارث وي»[۳]

٥. جبیر بن خابور

شیږم امام حضرت امام صادق علیه السلام له امیر المومنین علي علیه السلام څخه نقلوي چې فرمایلي یې دي چې «دا کس-جبیر- په جبل الاهواز کې له څلورو زرو کسانو سره، په داسې حال کې چې توري یې رایستلي دي – انتظار کوي چې کله به د اهل بیتو امام مهدي ظهور کوي. نو هله به دا کس، د امام مهدي په څنګ کې له دښمنانو سره جنګیږي.[۴]

---

۱. الایقاظ من الهجعه، مخ ۲٦٦، مراجعه وکړئ اختیار معرفه الرجال، مخ ۲۱۷، ابن داؤد، رجال، مخ ٤۹

۲. الایقاظ من الهجمعه مخ ۲٦٦، مراجعه وکړئ بحار الانوار ټوک ٥۳ مخ ٦۷، اثبات الهداة ټوک ۳، مخ ٥٦۱

۳. الشیعه والرجعه، ټوک ۱، مخ ۱٥۸

۴. خرایج ټوک مخ ۱۸٥: بحارالانوار ټوک ٤۱، مخ ۲۹٦: مستدرکات علم رجال الحدیث ټوک ۲ مخ ۱۱۸

د جبیر بن خابور په هکله د شیعه او سنې کتابونو کې د ډیرې زیاتې څیړنې نه پس یوازې دا خبره پیدا شوه چې امام صادق علیه السلام وفرمایل چې جبیر بن خابور د معاویه خزانچې ؤ د هغه یوه بوډۍ مور وه چې په کوفې ښار کې یې ژوند کاؤه یوه ورځ جبیر معاویه ته وویل چې مور مې د ډیره یادیږي اجازه راکړه چې هغه ووینم چې د مور حقوقو څخه لږ حقونه ادا کړم.

**٦. مفضل بن عمر**

**امام صادق عليه السلام مفضل ته وفرمايل چې (ته به له نورو څلور څلويښتو کسانو سره امام مهدي سره وې ته به د امام مهدي ښي اړخ ته امر و نهي کوې او د هغې زمانې خلک به ستا ډير ښه اطاعت کوي[١]**

**٧. اصحاب کهف**

**امير المومنين امام علي عليه السلام فرمايي: ((اصحاب کهف به د امام مهدي عليه السلام د مرستې لپاره راځي))[٢]**

**٨. د سپايانو قوميت**

**د امام مهدي ځواکونه به له مختلفو قومونو او له ډول ډول سيمو څخه جوړيږي په روايتونو کې هم مختلفې خبرې په دې هکله راغلي دي په ځينې ځايونو کې عجميانو (غير عرب) ته د امام مهدي پوځ او لښکر ويل شوي دي او په ځينو ځايونو کې د ښارونو او هيوادونو نومونه راغلي دي چې د امام سپايان به له هغو هيوادونو او ښارونو وي او په ځينو روايتونو کې يو خاص ټولي ته اشاره شوې ده لکه د بني اسراييلو توبه کوونکي يا عيسايي مومنان او يا هغه پاک او نيک انسانان چې رجعت ورته ملاو شوی دی (ياني دوباره ژوندي شوې دي) په دی څپرکي کې په دې هکله ځينې روايتونو ته اشاره کوم:**

---

معاويه وويل چې په کوفي ښار کې څه کوي؟ هلته خو يو جادوګر کس دی چې نوم يې حضرت علي بن ابي طالب دی او زه يريږم چې تا وغولوي جبير وويل زه علي سره هيڅ کار نه لرم زه غواړم خپله ګرانه مور ديدار کړم او د هغې حق ادا کړم جبير ته اجازه ملاو شوه او کوفي لور ته روان شو او کله چې کوفي ته ورسيده نو د کوفي ښار خوا و شا ته د صفين جنګ نه پس علي عليه السلام محافظين او سپايان اچولي ؤ او تګ راتګ يې د خپل نظر لاندې ساته نو سپايانو هغه ونيوه او ښار ته يې راوسته او ورته يې وفرمايل: ته د خدای يوه خزانه يې معاويه تا ته ويلي دي چې زه يو جادوګر يم جبير وويل قسم په خدای چې همداسې يې ويلي وو
نو امام علي ورته وفرمايل (تا سره دومره مال ؤ چې لږ دې په عين التمر کې خاورو کې پټ کړې دی جبير وويل هو بالکل همداسې ده بيا علي عليه السلام امام حسن ته حکم وکړ چې د هغه ملمستيا وکړي يوه ورځ پس علي عليه السلام خپلو ملګرو ته وفرمايل چې دا کس به په جبل الاهواز کې .. (نوره خبره پاسه ليکلې ده)

[١] . دلايل الامامه مخ ٢٤٨، اثبات الهداة ټوک ٣ مخ ٥٧٣

[٢] . حصيني، الهدايه، مخ ٣١ : ارشاد القلوب مخ ٢٨٦ حليه الابرار ټوک ٢ مخ ٦٠١
نور کسان هم شته چې د هغو په بيا ژوندي کيدو او د امام مهدي حضور کې راتللو ته اشاره شوی ده لکه داود رقي، نجم بن اعين، حمران بن اعين، ميسر بن عبدالعزيز، انشاالله به بلې برخې به دې هم اشاره کوو.

۱. ايرانيان

له روايتونو پوهيږو چې د امام مهدي عليه السلام د پوځ زياتره کسان به ايرانيان وي او په دې هکله داسې تعبيرونه بيان شوی دی لکه د ری ښار وسيدونکي يا د خراسان اوسيدونکي يا د طالقان خزانې، د قم اوسيدونکي، د فارس اوسيدونکي او ......

امام باقر عليه السلام داسې فرمايي: چې د تورو بيرغو پوځيان ـچې له خراسانه پاڅون کوي په کوفې به راځي او کله چې امام مهدي په مکې کې ظهور وکړي نو هغه سره به بيعت کوي[۱]

حضرت امام باقر عليه السلام فرمايي: د امام مهدي عليه السلام درې سوه ديارلس ملګري دي او هغه به عجمي ياني غير عرب وي[۲]

عبدالله بن عمر وايې چې پيغمبر اکرم وفرمايل خدای تعالی به ستاسو (مسلمانانو) طاقت به له عجميانو وي ځکه چې هغو داسې زمري دي چې له ميدان جنګه نه تښتي. تاسو عربان به وژني او د ستاسو مالونه او سامانونه به وړي.[۳]

حذيفه هم له پيغمبر اکرم يو حديث نقل کړی دی چې همدغه مطلب په کې دی[۴] البته په دې حديث کې د شبهې ځای شته د روايتونو په اساس يوه ورځ به داسې راځي چې ايرانيان به د اسلام پراختيا لپاره او عربيانو د اسلام ته بيرته ستنولو لپاره په هغو باندې توره چلوي او مخالفينو سرونه پرې کوي په هغه وخت کې به د عربو حالت ډير بد وي او سختی ورځې به ورته رامينځته کيږي.

که څه هم عجم غير عربو ته ويل کيږي خو په يقيني توګه ايرانيان هم پکې شامل دي. د نور رواياتو پر اساس د امام مهدي عليه السلام د ظهور نه مخکښې او د پاڅون په وخت د ظهور لپاره د زمينه اوارولو کې هم ايرانيان اساسي رول لري، او ډير مجاهدين به ايراني وي.

د امام علي عليه السلام په هغه خطبه کې چې د امام مهدي عليه السلام او د هغه د ملګرو د قوميت په اړه بيان شوی ده، د ايران ځينې ښارونو نومونه پکښې راغلي دي.

اصبغ بن نباته وايې چې: امام علي عليه السلام خطبه وويله او په هغې خطبې کې يې د امام مهدي عليه السلام او د هغه ملګري- چې هغه حضرت سره په پاڅون کې ملګري

---

۱. ابن حماد، فتن مخ ۸۵: عقد الدرر مخ ۱۲۹: الحاوي للفتاوی ټوک ۲، مخ ٦۹

۲. نعماني، غيبت : ۳۱۵: اثبات الهداه ټوک ۳ مخ ٥٤۷ بحارالانوار ټوک ٥۲، مخ ۳٦۹

۳. فردوس الاخبار، ټوک ٥، مخ ۳٦٦

۴. عبدالرزاق، مصنف، ټوک ۱۱ مخ ۳۸٥: المعجم الکبير، ټوک ۷، مخ ۲٦۸: حليه الاولياء ټوک ۳ مخ ۲٤ : فردوس الاخبار ټوک ٥، مخ ٤٤٥

دي- وګڼل چې «د ایران له ښارونو له اهواز یو کس، له شوشتر ښار یو کس، له شیراز درې کسان په دې نومونو حفص ، یعقوب او علي، څلور کسان په دې نومونو موسی ، علي ، عبدالله او غلفان له اصفهان ښار، له بروجرد یو کس چې نوم یې قدیم ده؛ له نهاونده هم یو کس په عبدالرزاق نوم؛ له همدانه درې کسان په دې نومونو جعفر، اسحاق او موسی؛ له قم ښاره لس کسان چې د پیغمبر اکرم د اهل بیتو نومونه لري (په یو بل حدیث کې اتلس کسان ذکر شوی دی) له شیروان یو کس؛ له خراسان یو کس د درید په نوم او همدارنګ پینځه کسان چې د اصحاب کهف نومونه لري؛ له آمل ښاره یو کس؛ له ګرګان یو کس؛ له دامغان هم یو کس؛ له سرخس یو کس؛ له ساوه یو کس؛ له طالقان څلور ویشت کسان؛ له قزوین دوه کسان؛ له فارس یوکس؛ له اردبیل یوکس؛ له مراغه درې کسان؛ له خوي یو کس؛ له سلماس هم یو کس؛ له ابادان درې کسان او له کازرون یو کس».

بیا امیرالمومنین علیه السلام وفرمایل چې : پیغمبر اکرم (ص) د امام مهدي درې سوه دیارلس یاران چې شمیر یې په جنګ بدر کې د پیغمبر اکرم د ملګرو برابر دی وې ګڼل او وې فرمایل: الله تعالی به دغه ټول درې سوه دیارلس کسان د سترګو په رپ کې له ختیځه او لویدیځه د کعبې څنګ ته راغونډوي.[1]

لکه چې پوهیږئ چې د امام مهدي علیه السلام د درې سوه دیارلس مخصوص ملګرو کې- چې د پاڅون له لومړیو به له امام سره وي- دوه اویا کسان د ایران له اوسنیو ښارونو به وي او که د هغه حدیث په نقل سره چې په دلایل الامامه کتاب کې طبري راوړی دی[2] حساب کړو یا د هغو ښارونو نومونه ووینو چې په هغه زمانه کې په ایران کې حسابیدو، نو د ایرانیانو شمیر په دې مخصوصو ملګرو کې نور هم زیاتیږي.

په دې روایت کې د څو ښارونو نومونه دوه ځلې راغلي دي او یا دا چې د یو هیواد ښارونه یې ذکر کړي دي او بیا یې د هغه هیواد نوم هم پکښې بیان کړي.

نو دې ته په پام سره چې که روایت په سمه توګه نقل شوی وي نو کیداي شي د هغه وخت د سیمو د نومونو ښودنه کوي او د اوسنۍ جغرافیایې برخې د هغه ملاک او معیار ګرځول صحیح نه وي؛ ځکه چې د ښارونو نومونه بدل شوی دی او د تیر وخت د یو ښار نوم اوس مهال د یو هیواد نوم وي.

---

[1] . ابن طاووس ، ملاحم ۱۴۶.
[2] . دلایل الامامه حدیث ۳۱۶.

بله خبره دا چې که د هغه زماني ښارونه د نړۍ په نننۍ جغرافیایې نقشې وګورو نو مونږ ته پته لګي چې د امام مهدي علیه السلام ملګري په ټولې نړۍ کې پراخ دي او کیدای شي چې د (افرنجه) ټکې چې په روایت کې راغلی دی؛ د اوسنې لویدیځ زمکې ته اشاره وي او که دا سمه وي نو دا روایت په دې جملې سره (لو خلت قلبت)) مصداق پیدا کوي ځکه چې دا نړۍ به هیڅ کله هم د الله تعالی له نیکو بندګانو څخه خالي نشي ګنې نسکوره او تباه به شي.

په ځینو نورو حدیثونو کې په خصوصي توګه د ځینو ښارونو نومونه بیان شوي دي دلته مناسبه ګڼو چې د قم ، خراسان او طالقان په هکله راغلي ځینې روایتونه بیان کړم.

قم

حضرت امام صادق علیه السلام ارشاد فرمایې: (( د قم خاوره پاکه ده..... ځکه چې د قم خلک زمونږ د مهدي یاران دي او زمونږ حق ته بلنه ورکوونکي دي.))[1]

عفان بصیري وایې: حضرت امام صادق علیه السلام ما ته وفرمایل: ایا خبر یې چې قم ښار ته ولې قم نوم ورکړې شوی دی؟ ما ورته وویل: پاک الله د هغه رسول او تاسو ښه پوهیږئ زه نه پوهیږم؛ نو وې فرمایل چې د قم خلک امام مهدي ترڅنګ راغونډیږي او له هغه سره ملګرتیا کوي او هغه سره ټینګ او محکم پاتې کیږي او د هغه مرسته کوي))[2]

خراسان

حضرت علي علیه السلام فرمایې: چې پیغمبرا کرم وفرمایل: ((.... په خراسان کې داسې خزانې دي چې پکښې سره یا سپین زر نه دي؛ بلکې داسې کسان دي چې په خدایاو د هغه په رسول باندې عقیده هغوي یو ځای کوي))[3] کیدای شي مراد یې دا وي چې هغوی په الله تعالی او د هغه په رسول باندې په رښتینې عقیدې کې مشترک دي او یا مطلب دا وي چې هغه ټول یوه ورځ الله تعالی په مکې ښار کې راټولوي.

---

۱ . بحار الانوار ټوک۶۰ مخ ۲۱۸.

۲ . بحار الانوار ټوک۶۰ مخ ۲۱۶.

۳ . ابن طاووس ملاحم. مخ ۱۴۷؛ روضه الواعظین مخ ۳۱۰.

طالقان

امام علي عليه السلام فرمايي: خوش قسمته دي د طالقان اوسيدونكي! ځكه چې هلته د خداى تعالى داسې خزانې دي چې د سرو يا سپينو زرو نه دي بلكې داسې پاخه مومنان دي چې الله يې په حقو پيژندلي دى او هم دوي په اخري زمانې كې د امام مهدي عليه السلام ياران او ملګري دي.[1]

۲: عرب

د امام مهدي عليه السلام په پاڅون كې د عربو د شركت په اړه دوه ډوله روايتونه راغلي دي: ځينې دلالت كوي چې عرب د هغه حضرت په پاڅون كې برخه نه اخلي او ځينې روايتونو كې د عربو د ځينو ښارونو نومونه راغلي دي چې له هغه ځايونو ځينې كسان د امام مهدي د پاڅون په ملاتړ كې راپاڅيږي.

هغه روايتونه چې د عربو د شركت په نه كولو دلالت كوي كه چيرې دا روايتونه صحيح هم وي نو بيا هم د سپيناوې وړ دي؛ لكه دا چې كيداى شي د امام مهدي عليه السلام د پاڅون په پيل كې شركت ونه كړي لكه څنګه چې شيخ حر عاملي په خپل كتاب اثبات الهدى كې د دا ډول روايتونو شرحه داسې بيان كړي ده او د عربو ښارونو په هكله هم چې په روايتونو كې يې نومونه راغلي دي داسې وايي چې كيداى شي له دې ښارونو د امام هغه سپاهيان چې عرب نه دي خو په دې ښارونو كې ميشته دي د امام مهدي مرستې ته راځي نو ځكه د دې ښارونو نومونه په روايتونوكې راغلي دي يا ترې مراد د عربو حكومتونه دي دا ډول روايتونو ته پام وكړئ:

حضرت امام صادق عليه السلام فرمايي: له عربو ځانونه وساتئ ځكه چې د هغوى مخې ته بد او خطرناك راتلونكي روان دى ځكه چې په هغوي كې هيڅوك هم دامام مهدي عليه السلام مرسته نه كوي.[2]

شيخ حر عاملي وايي: كيداي شي د حضرت امام صادق عليه السلام مراد د پاڅون پيل وي يا د عربو د لږو خلكو ګډون څخه كنايه وي....

د خداى رسول هم فرمايي: له شام سيمې پاك او پرهيزګار كسان به له امام مهدي عليه السلام سره ملګري كيږي او همدارنګ هغه قبيلې چې د شام خواو شا ته دي له

---

[1] . كشف الغمه ټوک ۳، مخ ۲۶۸؛ شافعي، بيان مخ ۱۰۶؛ ينابيع الموده مخ ۹۱.
[2] . طوسي، غيبه مخ ۲۸٤؛ اثبات الهدى ټوک ۳، مخ ۵۱۷؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۳۳.

هغو به هم ځینې کسان له امام سره ملاویږي هغوی داسې کسان دي چې زړونه یې د اوسپنې ټوټو په شان دي او د شپې پرهیزګاران او د ورځې زمري دي.[۱]
حضرت امام باقر علیه السلام فرمایي: «د جنګ بدر د مسلمانانو د شمیر هومره کسان یاني درې سوه دیارلس کسان به د کعبې څنګ ته د رکن او مقام ترمینځ له حضرت امام مهدي علیه السلام سره بیعت کوي په هغوی کې به د مصر لوړ شخصیتونه، د شام نیک خلک او د عراق مجاهدین تر سترګو کیږي. امام به د هغوی واکمني په لاس کې لري تر څو چې د خدای تعالی خوښه وي».[۲]
همدارنګ امام باقر علیه السلام د کوفي ښار په اړه فرمایي: کله چې امام مهدي ظهور وکړي او کوفې ته راشي نوخدای پاک د کوفي له شا «نجف» نه اوویا زره ربښتینې کسان راپاڅوي چې هغه کسان د امام مهدي ملګري او یاران دي».[۳]

۳. د مختلفو دینونو پیروکار

مفضل ابن عمر وایې چې امام جعفر صادق علیه السلام وفرمایل: کله چې امام مهدي ظهور وکړي نو ځینې کسان به د کعبې له شا څخه بهر راووځي چې هغوي دا دي: اووه ویشت کسان به د حضرت موسی د قوم وي – هغه کسان چې په حقه قضاوت او فیصلې کوي- اووه کسان اصحاب کهف، د موسی علیه السلام ځای ناستی یوشع د ال فرعون مومن کس، سلمان فارسي، ابادجانه انصاري[۴] او مالک اشتر[۵]
ابن جریح وایې: اوریدلي مو دي چې کله د بني اسراییلو دولسو قبیلو خپل پیغمبران ووژل او کافران شول نو یوه قبیله په کار پښیمانه شوه او توبه یې وکړه او له پاک الله یې وغوښتل چې مونږ له نورو قبیلو جلا کړه نوخدای تعالی په زمکه کې یوه ناله جوړه کړه چې هغوي پکښې یو نیم کال روان وو ان تردې چې کله له دې نالې راووتل نو په چین کې وو د هغوي قبیله اوس هم هلته ده. هغوي مسلمانان دي او زمونږ قبله مني.[۲]

---

[۱] . ابن طاووس ملاحم مخ ۱٤۲؛ بحار الانوار ټوک ٥۲، مخ ۳۰٤.
[۲] . طوسې غیبه مخ ٤۷۷؛ اثبات الهداه ټوک ۳ مخ ٥۱۸.
[۳] . ابن طاووس ملاحم مخ ٤۳؛ ینابیع الموده ټوک ۲ مخ ٤۳٥؛ الشیعه والرجعه ټوک ۱ مخ ٤٥٦.
[۴] . نوم یې سماک بن خرشه انصاري دي.
[۵] . روضه الواعظین ټؤک ۲ مخ ۲٦٦.
[۲] . بحار الانوار ټوک ٥٤ مخ ۳۱٦.

ځيني داسې وايي: چې حضرت جبراییل د معراج په شپه پیغمبراکرم هغوی ته بوتله او پيغمبر اکرم د مکي له سورتونو څخه لس سورتونه هغوی ته تلاوت کړل نو هغوی ايمان راوړ. او د پيغمبراکرم رسالت يې تصديق وکړ نو پيغمبراکرم هم هغوی ته حکم ورکړ چې همدلته اوسيږئ او د خالي په ورځ چې د يهوديانو د چټې ورځ ده کارونه پريږدئ او لمونځ ترسره کوئ او زکات ورکوئ هغوی هم دا خبره ومنله او دا کارونه يې تر سره کړل[1] او په هغوی بل څه نه وو واجب شوي.

ابن عباس وايي: د دې ايت ((وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهِ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ اسْكُنُوا الْأَرْضَ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا))[2] په تفسير کې راغلي دي چې د اخرې وعدي نه مراد د حضرت عيسې عليه السلام ظهور دی چې بني اسراییل هم له هغه حضرت سره پاڅون کوي خو ځينو نورو اصحابو روايت کړی دی چې مراد ترې د حضرت امام مهدي عليه السلام پاڅون دی.[3]

د دې ايت (وَمِنْ قَوْمِ مُوسَى أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ)[4] په تفسير مرحوم مجلسې فرمايي: په دې خبرې کې چې دا امت کوم کسان دي اختلاف دی.

ځيني کسان لکه عبدالله ابن عباس وايي: دا هغه کسان دي چې د چين هيواد څنګ ته ميشته دي او د چين او دهغوی ترمينځ د شږې دښته ده هغوی هغه کسان دي چې هيڅ کله د خدای تعالی په حکم کې بدلون نه راولي.[5]

امام باقر عليه السلام د هغوی په هکله فرمايي: هغوی ځانونه د هيڅ څيز مالکان نه بولي مګر دا چې خپل مسلمان ورور هم په هغه څيز کې خپل شريک ګڼي هغوی د شپې ارام کوي او د ورځې ويښ وي او زمينداري او کرهڼه کوي خو په مونږ کې يو کس هم د هغوی زمکي ته نه رسي او نه له هغوی کوم کس زمونږ ځای ته راتللی شي اوهغوي په حقو دي.[6]

د دې ايت (ومن الدين قالوا........)[7]

په هکله امام صادق عليه السلام فرمايي: نصاراو ته هم ددې لارې په اړه ويل کيږي او له هغوی يوه ډله به له امام مهدي عليه السلام سره ملګرتيا کوي.[1]

---

[1] . بحار الانوار ټوک ٥٤ مخ ٣١٦.
[2] . سوره اسراء ايت ١٠٤.
[3] . بحار الانوار ټوک ٥٤ مخ ٣١٦.
[4] . سوره اعراف ايت ١٥٩.
[5] . بحار الانوار ټوک ٥٤ مخ ٣١٦.
[6] . بحار الانوار ټوک ٥٤ مخ ٣١٦.
[7] . مايده ايت ١٤.

### ٤. جابلقا او جابرسا

امام صادق عليه السلام فرمايي: الله تعالی د زمکې په ختيځ کې د جابلقا په نوم يو ښار لري چې د سرو زرو دولس زره دروازې لري او د يوې دروازې فاصله تربلې دروازې پورې يو فرسنګ ده په هرې يوې دروازې باندې مناره ده چې پکښې د دولسو زره کسانو لښکر ځايي‌ږي هغوی خپل سامانونه، وسله او تورې تيارې کړی دي او د امام مهدي عليه السلام پاڅون په انتظار کې دي. او همدارنګ يو بل ښار د زمکې په لويديځ کې دی چې جابرسا نوم لري چې همدغه ځانګړتياوې لري او زه(امام صادق) په هغوی باندې د خدای تعالی حجت او ولي يم.[2]

ځينې نور روايتونه هم شته چې وايي په نړۍ کې ځينې نور ښارونه هم شته چې خلک پکښې بالکل د خدای تعالی نافرماني نه کوي (ياني ګناه نه کوي) د زياتره معلوماتو لپاره د بحار الانوار ٥٤ ټوک ته مراجعه وکړئ.

له دې ټولې روايتونو معلوميږي چې امام مهدي عليه السلام ملګري او مرکزونه لري چې هغوی تيار دي او د ظهور په وخت به له امام سره يو ځای کيږي خو له ځينو روايتونو دا معلوميږي چې هغوی په کلونو وړاندې له دنيا تللي دي خو د امام مهدي د ملګرتيا لپاره الله تعالی هغوی بيا ژوندي کوي چې دې ته رجعت ويل کيږي.[3]

امام صادق عليه السلام فرمايي: د اعين زوي نجم له هغو کسانو څخه دی چې په رجعت کې بيا ژوندي کيږي او د امام په ملګرتيا کې به جهاد کوي.[4] همداراز د حمران او ميسر په باره کې فرمايي: لکه دا چې زه د حمران ابن اعين او ميسرابن عبدالعزيز وينم چې تورې يې په لاس دي او د کعبې تر څنګ د صفا او مروه غرونو په مينځ کې خلکو ته خطبه لولي.[5]

حضرت ايت الله خويي په خپل کتاب معجم الرجال الحديث کې د (يخبطان الناس) معنا، وهل يا توره کوي.

---

١. کافي ټوک ٥ مخ ٣٥٢؛ التهذيب ټؤک ٧ مخ ٤٠٥؛ وسايل الشيعه ټوک ١٤ مخ ٥٦: ينابيع الموده مخ ٤٢٢.

٢. بحار الانوار ټوک ٥٤ مخ ٣٣٤ او ټوک ٢٦ مخ ٤٧.

٣. د شيعه و داعقيده ده چې په همدې دنيا کې د امام مهدي عليه السلام ظهور نه پس معصوم امامان او خاص خاص مومنان او ځينې کافران به بيا ژوندي کيږي او په دې اړه په لسګونو روايتونه شته او په دې اړه کولاي شئ د الشيعه والرجعه نومې کتاب دوهم ټوک ته مراجعه وکړئ.

۴. الايقاظ من الهجعه مخ ٢٦٩.

۵. کشې رجال مخ ٤٠٢؛ الخلاصه مخ ٩٨؛ قهبايې رجال ټؤک ٢ مخ ٢٨٩؛ معجم الرجال حديث ټوک ٦ مخ ٢٥٩.

همدارنګ امام صادق علیه السلام داود رقي ته نظر وکړ او وې فرمایل: که څوک غواړي د امام مهدي له یارانو څخه یو کس وګوري نو دې کس ته وګوري.(یاني دا کس د امام مهدي علیه السلام له ملګرو څخه دی او بیا به ژوندې کیږي).[1]

ج) د امام د سپاهیانو شمیر

د امام علیه السلام د لښکر او د یارانو د شمیر په هکله مختلف ډول روایتونه راغلي دي په ځینو حدیثونو کې د امام د ملګرو شمیر درې سوه دیارلس کسان ذکرشوي دي او ځینو روایتونو کې د امام د لښکرتعدادتر لسو زرو نه هم زیات بیان شوی دی. دلته دوو خبرو ته پام وکړئ.

الف: درې سوه دیارلس (۳۱۳) تعداد چې په ځینو روایتونو کې راغلی دی مطلب یې دا دی چې دا خاص لښکر دی چې د پاڅون په پیل کې به له امام علیه السلام سره وي او هغوی به د امام په حکومت کې مختلفې دندې په غاړه لري. لکه اروابناد اربلي په خپل کتاب کشف النعمه کې فرمایې: چې د لسو زرو کسانو په اړه له روایت څخه استفاده کیږي چې د امام یاران یوازې (۳۱۳) نه دي بلکې دا د هغو کسانو شمیر دی چې د پاڅون په پیل کې به له امام سره وي.

ب: په ځینو روایتونو کې د امام د لښکر شمیر څلور زره ، لس زره او ..... بیان شوی دی دا د امام مهدي علیه السلام د ټول پوځ شمیر نه دي بلکې- لکه څرنګه له روایتونو هم معلومیږي- دا شمیر دهغو کسانو په اړه بیان شوی دی چې په مختلفو وختونو کې له مختلفو ځایونو له امام سره ملګرتیا کوي او یا په مخصوصو جنګونو کې به له امام سره ملګرتیا کوي او کیدای شي څه بل څه مطلب هم وي چې مونږ پرې نه پوهیږو او د امام علیه السلام د ظهور په وخت به راته معلوم شي.

۱.د امام خاص پوځیان

د ظبیان زوې یونس وایې: له امام صادق علیه السلام سره ناست وُم چې امام د امام مهدي علیه السلام د یارانو په هکله وفرمایل: د هغوي شمیر درې سوه دیارلس(۳۱۳) کسان دي او په هغوی کې هر یو خپل په درې سوه کسانو کې وینې.[2]

---

[1] . الایقاظ مخ ۲٦٤.

[2] . دلایل الامامه مخ ۳۲۰؛ المحجه مخ ٤٦.

دا چې حضرت صادق علیه السلام وفرمایل چې په هغوی کې هر یو کس خپل د درې سوه کسانو مینځ ویني دوه احتمالونه لري:
الف: دا چې د هر یو کس زور او طاقت به د درې سوه کسانو برابر وي لکه دا چې په نورو حدیثونو کې راغلي چې د عام مومن کس طاقت به د هغې زمانې د څلویښتو کسانو برابر وي.
ب: په هغو کې به هر له یو کس سره درې سوه نور پوځیان وي او خپل ځانونه به د درې سوه کسانو تر مینځ ګوري چې دا به یې قوماندان وي. نو د دې احتمال مطابق هغوي به پوره د (۳۱۳) لښکرو قوماندانان وي او دا هم احتمال شته چې مطلب یې هماغه څرګنده معنا وي چې هر یو ځان له دې (۳۱۳) کسانو کې ویني، لکه ځینو کسانو دا هم بیان کړې ده.
امام زین العابدین علیه السلام فرمایي: هغه کسان چې د امام دظهور په وخت کې له خپلې بسترې پاڅیږي او سبا ته په مکې مکرمې کې راغونډیږي د هغوی شمیر د بدر جنګ هومره (۳۱۳) کسان دي.[۱]
حضرت امام جواد علیه السلام فرمایي: چې پیغمبر اکرم وفرمایل: امام زمان (مهدي) به له تهامه (مکه) ظهور کوي له هغه سره داسې خزانې دي چې د سرو یا سپینو زرو نه دي بلکه له هغه سره طاقتور اسونه او میړني کسان دي چې شمیر یې د جنګ بدر د مسلمانانو هومره دی( یانې ۳۱۳) دي چې له ټولې دنیا د هغه څنګ ته راټولیږي، له امام سره یو کتاب دی چې په هغه کې د هغو ټولو یارانو نومونه د ښارونو نومونه د هغوی قومونه د هغوی لقبونه لیکلي دي هغوی ټول د امام اطاعت ته چمتو دي.[۲]
د خدای رسول فرمایي: چې خلک به د مارغو په شان د هغوی خوا وشا ته راټولیږي ان تر دې چې درې سوه څوارلس کسان – چې پکښې به ځینې ښځې هم وي- راټول شي او امام به بیا په هر یو ظالم او د ظالم په بچیانو بریالی کیږي او عدالت او انصاف به داسې پراخ شي چې خلک به دا ارمان کوي چې کاش که زمونږ مړي هم ژوندي وای او له دې عدالته یې استفاده کړې وی.[۳]

۱ . کمال الدین ټوک ۲ مخ ۶۵۴؛ عیاشي تفسیر ټوک ۲ مخ ۵۶؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۲۳.
۲ . عیون الاخبار رضا ټوک ۱ مخ ۵۹؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۱۰.
۳ . مجمع الزواید ټؤک ۷ مخ ۳۱۵.

امام باقر علیه السلام فرمایي: حضرت امام مهدي به سره د درې سوه دیارلسو اصحابو بې خبره، ظهور کوي، او هغوي به د خزان د وریځو په شان پراخ وي، هغوي د ورځې زمري او د شپې لمونځ کوونکي دي.[۱]

ابان بن تغلب وایي: چې امام صادق علیه السلام وفرمایل چې ډیر زر به درې سوه دیارلس کسان ستاسو مسجد (مکې) ته راځي او د مکې خلکو ته به هم دا پته وي چې دوي له مونږ سره خپلوي نه لري (او د مکې اوسیدونکي نه دي) له هر یو کس سره توره ده چې وربانديې څه کلمه لیکلي ده چې په هغو ټکو او کلمو سره زر مشکلات حل کیږي.[۲]

په ځینو روایتونو کې د امام د ځینو خاصو کسانو نومونه راغلي دي چې دلته یوازې په دوو حدیثونو بسنه کوم.

امام صادق علیه السلام خپل صحابي مفضل ابن عمر ته وفرمایل: ته او درسره څلور څلویښت نور کسان د امام مهدي له ملګرو څخه یئ.[۳]

کیدای شي چې له څلور څلویښتو کسانو څخه مراد د امام صادق اصحاب وي.

بیا امام صادق علیه السلام فرمایي: کله چې امام مهدي ظهور وکړي نو د کعبې لخوا به اووه ویشت کسان راوځي او د موسې علیه السلام د قوم پینځه ویشت تنه به هم ژوندي کیږي او دغه ټول به په حقو قضاوت او فیصلې کوي او همداراز اووه کسان اصحاب کهف دموسی علیه السلام وصي یوشع، مومن ال فرعون، سلمان فارسي ابادجانه انصاري او مالک اشتر دغه ټول به ژوندي کیږي.[۴] په ځینو روایتونو کې د مقداد بن اسود نوم هم راغلی دی.

د روایتونو مطابق هغه پرښتې چې مړي ځای په ځای کوي هغوی به د نیکو او پاکو کسانو مړي سپیڅلي ځایونو لکه بیت الله الحرام ته منتقلوي.[۵]

نو کیدای شي دا هغه مړي وي چې د هغوی بدنونه کعبې ته د منتقلیدو نه پس رجعت کوي او بیا به همدلته کې ژوندي کیږي.

---

۱ . ابن طاووس ملاحم مخ ٦٤؛ الفتاوی الحدیثیه ټوک ٣١.

۲ . کمال الدین ټوک ۲ مخ ٦٧١؛ بصایر الدرجات مخ ٣١١؛ بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ٢٨٦.

۳ . دلایل الامامه مخ ٢٤٨؛ اثبات الهدای ټوک ٣ مخ ٥٧٣.

۴ . روضۀ الواعظین مخ ٢٦٦؛ اثبات الهدای ټوک ٣ مخ ٥٥.

۵ . درر الاخبار ټوک ١ مخ ٢٥٨.

د يو بل روايت مطابق دا ځای د کوفي ښار شا ته دی یعني د نجف اشرف ښار دی چې په دې صورت کې هم د روايت معنا سمیږي ځکه چې دا مړي نجف ته د انتقالیدو نه پس ژوندي کیږي.
د ویلوه ده چې دا هغه کسان دي چې د خپل زمانې طاغوت او اسکتبار سره د سیاسي او عسکري مبارزې مخینه هم لري. لکه سلمان فارسي، ابو دجانه، مالک اشتر، مقداد چې د اسلام په لومړیو کې يې په مختلفو جنګونو کې شرکت کړی دی، ډېر میړنتوب يې ښودلې دی او ځینې پکښې قوماندانان هم ؤو.

۲- د مهدي علیه السلام پوځ
ابو بصیر وايې چې د کوفي يو کس له امام صادق علیه السلام وپوښتل چې امام مهدي علیه السلام سره به څوک پاڅون کوي؟ ځکه چې اوریدلي مو دي چې د امام د ملګرو تعداد به د بدر جنګ د سپاهیانو هومره یعني ۳۱۳ وي. نو امام علیه السلام ورته په ځواب کې وفرمایل: امام مهدي ترهغه وخته پورې قیام او پاڅون نه کوي تر څو ورسره يو مزبوط او طاقتور پوځ نه وي او د هغو شمیر به له لسو زرو لږ نه وي.[1]
همداراز امام علیه السلام په يو بل ځای کې فرمايي: کله چې الله تعالی مهدي ته د پاڅون اجازه ورکړي نو درې سوه دیارلس(۳۱۳) کسان له هغه سره بیعت کوي ، هغه حضرت په مکې کې دومره پاتې کیږي چې د لښکر او ملګرو شمیر يې لسو زرو ته ورسیږي او بیا د مدینې لور ته روانیږي.[2]
حضرت امام علي علیه السلام فرمايي: امام مهدي لږ ترلږه له دولسو زرو کسانو سره او ډېر تر ډېره پینځلس زره کسانو سره ظهور کوي د هغه د ځواک او لښکر به دومره رعب او دبدبه وي چې کوم دښمن به هغه سره نه شي مخامخیدی او که مخامخ شي نو ماتی به خوري هغه حضرت او د هغه یاران به د خدای په اطاعت کې د چا له ملامته نه یریږي، د هغه لښکر نعره او شعار دا دی چې (د خدای په لاره کې) مړه يې کړئ، مړه يې کړئ.[3]

---

[1] . کمال الدين ټوک ۲ مخ ٦٥٤؛ عیاشي تفسير ټوک ۱ مخ ۱۳٤؛ نور الثقلین ټوک ٤ مخ ۹۸؛ او ټوک ۱ مخ ۳٤۰؛ اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ٥٤۸.
[2] . المستجاد مخ ٥۱۱.
[3] . ابن طاووس ملاحم مخ ٦٥.

حضرت امام صادق علیه السلام فرمايي چې امام مهدي تر هغه وخته پورې پاڅون نه کوي تر څو چې د هغه د یارانو شمیر نه وي پور ه شوی. راوي له امام وپوښتل چې د هغو شمیر به څومره وي؟ امام ورته په ځواب کې وفرمایل: لس زره کسان.[1]
ستر عالم شيخ حر عاملي وايي چې په یو روایت کې د امام مهدي د مکمل پوځ شمیر سل زره کسان دي.[2]

۳- د امام خصوصي محافظ (باډي ګارډ)
کعب وايي چې له بني هاشمو څخه یو کس په بیت المقدس کې استوګنه کوي (دیره کیږي) چې د هغه د محافظانو (ګارډو) شمیر دولس زره دی او په بل روایت کې راغلي دي چې دهغهد محافظانو شمیر شپږدیرش زره کسان دي چې د بیت المقدس په سترو لارو کې په هرې یوې لارې دولس زره کسان څوکۍ کوي.[3]
البته د (حرس) ټکی چې په روایت کې راغلی دی د مرستندوي او مددګار په معنا هم راغلي دی خو دا معنا د حدیث له عنوان سره ښه نه ښکاري.

د) د سپاهیانو ټول
لکه څنګه چې مو مخکښې وویل چې د مهدي علیه السلام لښکر به د ټولې دنیا او نړۍ له کونج کونج څخه راټولیږي خو دا چې هغوی ته به د پاڅون پته څنګه لګي او هغوی به څنګه په مکې کې راغونډیږي، په دې اړه په روایتونو کې مختلفو طریقو ته اشاره شوې ده ځینې خلک داسې دي چې شپې په خپلې بسترې کې اوده شوی دي چې سهار راویښ شي نو ګوري به چې په مکې دامام په حضور کې دي. ځینې کسان د طی الارض- يانې د معجزې په توګه- په څو ګنټو کې ځانونه امام ته رسوي او ځینې د پاڅون نه خبریدو نه په وریځو باندې ځانونه امام ته رسوي.
په دې اړه یو روایت ته پام وکړئ:
امام جعفر صادق علیه السلام فرمايي: کله چې الله تعالی امام مهدي ته د پاڅون اجازه ورکړي نو خدای ته به په عبري ژبه کې غږ کوي نو په هغه وخت کې بې ملګري – چې درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسان دي او د خزان د وریځو په شان پراخ دي-

---

[1] . نعماني غیبه مخ ۳۰۷؛ اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ۵۴۵.
[2] . اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ۵۷۸؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۰۷ او ۳۶۷؛ بشاره الاسلام مخ ۱۹۰.
[3] . ابن حماد فتن مخ ۱۰۶؛ عقد الدرر مخ ۱۴۳.

تیاریږي او هغوی هماغه قوماندانان دي په هغوی کې ځینې په داسې حال کې چې د شپې اوده وي غیب به شي او چې سهار شي نو خپل ځانونه به په مکې مکرمې کې ویني او ځینې په سپینې ورځې په وریځو سپاریږي او خلک به یې ګوري. هغوی به د خپل نوم او د پلار نوم او لقب سره پیژندلې شي.[۱]

مفضل بن عمر وایي: امام ته مې وویل چې ځار دی شم په دې مختلفو کسانو کې د کومو خلکو ایمان مزبوط او ټینګ دی او د ایمان درجه یې لوړه ده؟ امام جواب راکړ چې د هغو کسانو درجه اوچته ده کوم چې په وریځو باندې روان وي دا هماغه کسان دي چې د هغوی په شان کې دغه ایت نازل شوی دی (این ما تکونوا یات بکم الله جمیعا) [۲] (تاسو چې چرته هم یئ الله تعالی به تاسو ټول یو ځای ته راغونډوي)

پیغمبر اکرم صلی الله علیه واله فرمایي: تاسو نه روسته به داسې قومونه راشي چې زمکه به د هغوي تر پخښو لاندې راټولیږي او دنیا به هغوی ته پراخه او ستریږي. د فارس سړي او ښځې به د هغوي خدمت کوي هغوي ستړې ستړې فاصلی په سترګو رپ کې لنډوي داسې چې په هغوی کې هر یو کس توانیدلی شي چې له ختیځه تر لویدیځه پورې په یوې لحظې کې لاړ شي هغوي له دې دنیا نه دي او دنیا له هغو څه ګټه نشي اخستې.[۳]

امام باقر علیه السلام فرمایي: د امام مهدي شیعه او د هغه یاران له ټولې نړې د هغه په لور حرکت کوي زمکه د هغوی تر پښو لاندې لنډیږي او د سترګو په رپ کې امام ته رسیږي او ورسره بیعت کوي.[۴]

د عجلان زوی عبد الله وایي: د امام په حضور کې د امام مهدي علیه السلام د پاڅون خبره ورشوه نو امام نه مې وپوښتل چې د امام له پاڅون څخه به مونږ څنګه خبریږو؟ وې فرمایل چې کله سهار شي نو د خپل بالخت لاندې به یو لیک وګورئ چې پکښې لیکلي دي چې د امام مهدي پیروي یو ښه کار او نیکه چاره ده.[۵]

حضرت امام رضا علیه السلام فرمایي: قسم په خدای کله چې زمونږ مهدي پاڅون وکړي نو الله تعالی به شیعیان له ټولو ښارونو د هغه تر څنګ راټولوي.[۶]

---

۱ . کمال الدین ټوک ۲ مخ ۶۷۲؛ عیاشي تفسیر ټوک ۱ مخ ۶۷؛ نعماني غیبه مخ ۳۱۵؛ بحار الانوار ټوک۲ مخ ۳۶۸؛ کافي ټوک ۸ مخ ۳۱۳؛ المحجه مخ ۱۹.

۲ . سوره بقره ایت ۱۴۸.

۳ . فردوس الاخبار ټوک ۲ مخ ۴۴۹.

۴ . روضه الواعظین ټوک ۲ مخ ۲۶۳؛ عقد الدرر مخ ۶۵؛ متقي هندي، برهان، مخ ۱۴۵.

۵ . بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۲۴؛ اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ۵۸۲.

۶ . مجمع البیان ټوک ۱ مخ ۲۳۱؛ اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ۵۲۴؛ نور الثقلین ټوک ۱ مخ ۱۴۰؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۲۹۱.

همداراز امام صادق عليه السلام فرمايي: په داسې حال کې چې شيعه ځوانان د بامونو له پاسه اوده وي نو هغوی به ډلې ډلې بې د څه مخکيښنې اطلاع د امام په نزد راولي، نو سهار به ټول د امام څنګ ته موجود وي.[1]

هـ) د امام د سپاهيانو د قبلولو شرطونه او د سپاهيانو ازمايش

اميرالمومنين علي عليه السلام د امام مهدي د يارانوپه باره کې فرمايي: د امام مهدي ياران - چې درې سوه ديارلس کسان دي- د هغه لوري ته ورځي اوهغوي له امام څخه چې غايب شوی ؤ پوښتنه کوي چې ايا ته امام مهدي يې؟ نو امام ورته په ځواب کې فرمايي هو زما يارانو زه مهدي يم! نو يو ځل بيا به امام غايب شي او مدينې ته به لاړ شي د امام يارانو ته به پته ولګي چې هغه په مدينې کې دی ټول به مدينې ته روان شي کله چې دوي مدينې ته ورسي نو امام به د دوي سترګو نه پناه بيا مکې ته راشي ملګري به يې بيا مکې ته راستنه شي امام به بيا مدينې ته لاړ شي ياران به بيا ورپسې مدينې ته ځي او دا کار به درې ځلې تکرار شي.

امام خپل ياران دا ډول ازمايي چې امام پوهـ شي دوي څومره فرمانبرداره دي له هغه نه پس د کعبې څنګ ته د صفا او مروه په مينځ کې څرګنديږي او خپلو ملګرو ته په خطاب کې داسې فرمايي: زه تر هغه وخته پورې يو کار ته هم ګوتې نه وړم ترڅو چې تاسو له ماسره بيعت و نه کړئ او په هغه بيعت ټينګ پاتې نه شئ. او د هغه خلاف ورزي ونۀ کړئ نو بيا زه هم تاسو لره د اتو(٨) څيزونو عهد کوم. د امام ياران به ټول په يو ځای ځواب ورکړي چې مونږ ټول تاته تسليم يوو او ستا پيروي کوو او کوم شرطونه چې لري مونږ يې منوو امامه وفرمايه هغه شرطونه څه دي؟

بيا به امام مهدي عليه السلام د صفا غره ته روان شي او ياران به هم ورپسې وي کله چې امام هلته ورسي نو يارانو ته به په خطاب کې ووايي: زه له تاسو سره په دې شرطونو عهد او پيمان تړم: ١. له ميدانه به نه تښتئ. ٢. غلا به نه کوئ. ٣. حرام کاربه نه کوئ. ٤. غير شرعي کارونه به نه کوئ. ٥. بد کارونه به نه کوئ. ٦. په ناحقه به څوک نه وژنئ. ٧. مال او دولت به نه جمع کوئ. ٨. غنم او اوربشې به ګودامونو کې نه پټوئ. ٩. جوماتونه به نه ورانوئ. ١٠. په ناحقه به ګواهي نه ورکوئ. ١١. د مومن سپکاوې به نه کوئ. ١٢. سود به نه خورئ. ١٣. په سختيو او ستونزو کې پياوړي وسئ. ١٤. خدای

[1] . نعماني غيبه مخ ٣١٦؛ بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ١٩٨؛ بشاره الاسلام مخ ١٩٨.

منونکو باندي به لعنت نه کوئ.١٥. شراب به نه څښئ. ١٦. ساده جامې به اغوندئ. ١٧. د ابريشمو او وريښمو جامې به نه اغوندئ. ١٨. له جنګه تښتيدونکي کس پسې به نه کيږئ. ١٩. ناحقه وينه به نه تويوئ. ٢٠. منافقانو او کافرانو ته به خيرات نه ورکوئ. ٢١. خپل بالخت له خاورو جوړ کړئ . (ښايي معنا يې دا وي چې متواضع وسئ او کبر مه کوئ) ٢٢. له بدو کارونو ځانونه وساتئ ٢٣. د نيکۍ حکم وکړئ. ٢٤. له بدو او حرامو خلک منعه کړئ.

که د دې شرطونو پايبندي وکړئ نو زه په خپل ځان فرض ګڼم چې تاسو خپل اصحاب ؤټاکم او هغه جامې واغوستوم چې کومې جامې تاسو اغستي دي او هغه خواړه او غذا وخورم چې کومه تاسو خورئ او هغه سپرلي استعمال کړم چې له کومې تاسو استفاده کوئ چې کوم ځای کې تاسو وای زه به هم هلته ؤم چې چرته ځئ زه به تاسو سره هلته ځم زه تاسو غوندې لږو جنګياليو ته خوشحاليږم او غواړم زمکه له عدل او انصافه داسې ډکه کړم چې لکه څنګه هغه له ظلم او زياتي ډکه شوی وي او لکه څنګه چې د خدای تعالی حق دی هغه شان يې عبادت وکړم ما چې څه وويل زه ژمنه درکوم چې په دې به وفاداره ؤم او تاسو هم په عهدو پيمان وفاداره وسئ.

نو امام ته اصحاب ځواب ورکوي چې مونږ له تا راضي يوو او چې کوم شرطونه دې بيان کړل منوو يې او ستا بيعت کوو. نو بيا امام دې ټولو جنګياليو هر يو کس سره د بيعت په نخښه لاس ورکړي.[١]

البته دې ته په پام سره چې امام دا کار دا شرطونه او ازماينښت په خپل خصوصي ځواک سره کوي ځکه چې هغه کسان به د امام د حکومت چلوونکي وي او په مختلفو منصبونو په دندې تر سره کوي او هغوي به په خپلو ښو اخلاقو سره په نړۍ کې د عدالت د پراختيا کې اغيزمن رول لوبوي.

که څه هم ددې روايت سند ډير معتبر نه دی ځکه چې دا خطبه البيان دی چې ځينې خلکو او عالمانو دا ډير کمزور سند بللې دی ځکه چې شيعه عالمانو سره د حديث دسموالې لپاره يو معيار دی هغه دا چې کوم حديث د قران د ظاهرې معنا سره مخالف وي او سم سپيناوی يې هم نه کيږي هغه د معصؤمو امامانو کلام او خبره نشي کيدای.

و) د امام مهدي د سپاهيانو ځانګړتياوې

١ . الشيعه والرجعه ټوک ١ مخ ١٥٧؛ عقد الدرر مخ ٩٦.

په روایتونو کې د امام مهدي علیه السلام یارانو او جنګیالیو لپاره ډیرې ځانګړتیاوې او خصوصیات بیان شوي دي چې په هغو کې ځینو ته اشاره کوو.

۱- عبادت او پرهیزګاري

حضرت امام صادق علیه السلام د امام مهدي د جنګیالو د صفتونو په اړه داسې فرمایي: هغوی داسې کسان دي چې د شپې به عبادت لپاره ویښ وي اود لمانځه په وخت له خدای‌سره داسې راز او نیاز کوي او داسې اواز به ترې راځي لکه د شاتو د مچیو اواز، او سهار په داسې حال کې چې په اسونو سپاره دي د خپلو دندو د تر سره کولو لپاره ځي هغو د شپې متقیان او د ورځې زمري دي او د خدای له ویرې پکې یو خاص حالت پکښې پیدا کیږي او الله تعالی د هغوی په وسیله د حقو د امام (مهدي) مرسته کوي.[۱]

امام جعفر صادق علیه السلام بیا فرمایي: لکه امام مهدي او د هغه ملګري د کوفې د ښار شا ته وینم چې مرغانو د هغوی په سرونو باندې خپلې وزرې پراخې کړي دي د هغوی خوراک او څښاک ختم شوی دی. د هغوی ډیر ساده لباس دی او د هغوی په تندیو باندې د سجدو له امله نخښې جوړې شوې دي هو هغوی د ورځې زمري او د شپې راز او نیاز او عبادت کوونکي دي د هغوي زړونه د اوسپنې د ټوټو په شان مزبوت او ټینګ دي هر یو د ځلوینښتو کسانو طاقت لري له کافرانو او منافقانو نه علاوه بل څوک هغوی نه وژني، الله پاک په قران کې د هغوی ذکر داسې بیان کړی دی (ان ذالک لایات للمتوسمین[۲] په دې خبرې کې د عقلمنو لپاره ډیر عبرتونه موجود دي.)[۳]

۲- له امام مهدي سره د هغوی مینه او د امام اطاعت

امام باقر علیه السلام فرمایي: امام مهدي به په ځینو درو کې (ذي طوی) غایبیږي او د ظهور نه دوه شپې وړاندې به د امام خصوصي استازې ځینو یارانو ته ورځي او له هغوي به پوښتنه کوي چې تاسو دلته څو کسان یئ. هغوی به وایې چې څلوینښت کسان یوو بیا به ورته وایې چې که خپل امام

---

[۱] . بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۰۸.

[۲] . سوره حجر ایت ۷۵.

[۳] . بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۸٦.

مهدي وګورئ نو څه به کوئ؟ هغوی ورته ځواب ورکوي چې قسم په خداې که هغه په غرونو کې وخت تیروي نو مونږ ورسره هلته وخت تیروو او هلته ورسره اوسیږو.[1]

امام جعفر صادق علیه السلام فرمایي: چې د امام مهدي ملګري به د امام د اس په زین لاسونه راکاږي او په دې وسیله به د برکت غوښتنه کوي له امام مهدي به راچاپیریږي او په جنګونو کې به خپل ځانو د امام لپاره ډهال او سپر جوړوي او امام چې له هغو څه هم وغواړي هغوی به یې مني.[2]

همداراز امام جعفر علیه السلام د امام مهدي د ملګرو او اصحابو د ستاینلو په اړه فرمایي: له هغوی سره داسې ملګري دي چې زړونه یې لکه د اوسپنې دي ..... هغوی د امام مهدي دومره زیات اطاعت کوي چې یو غلام د خپل مالک او اقا نه کوي او د هغه هر حکم ته تسلیم دي.[3]

ګران پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه واله فرمایي: الله تعالی د امام مهدي د مرستې لپاره د ټولې دنیا له کونج کونج د جنګ بدر د مسلمانانود شمیر برابر جنګیالي راټولوي. هغوی د امام مهدي په اطاعت کولو کې ډیره زیاته هڅه کوي.[4]

د امام جنګیالي به د امام په مخ کې داسې منظم، بې حرکته او پوره تسلیم سره ولاړ وي چې لکه مرغان یې په سرونو ناست وي او که لږ شان ؤخوځیږي نو مرغان تښتي.

**۳- د امام طاقتور او ځوانان سپاهیان**

امیر المومنین حضرت علي علیه السلام فرمایي: د امام مهدي ټول ملګري ځوانان دي او بوډاګان به ورکې دومره وي لکه په سترګو کې توري او یا په ډوډۍ کې مالګه.[5]

امام صادق علیه السلام فرمایي: چې د لوط پیغمبر دا خبره چې خپلو دښمنانو ته یې وویل ((چې کاشکې ستاسو په مقابل کې مې یو مزبوط ځواک درلودلې او یوه مزبوط قلعه وې چې هلته مو پناه وړې وې)) له طاقتور ځواک مطلب یې د امام مهدي

---

[1] . عیاشي تفسیر ټوک ۲ مخ ٥٦؛ بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ٣٤١.

[2] . بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ٣٠٨.

[3] . بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ٣٠٨.

[4] . بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ٣١٠.

[5] .طوسي غیبه مخ ٢٨٤؛ نعماني غبیه مخ ٣١٥؛ ابن طاووس ملاحم مخ ١٤٥؛ کنز العمال ټوک ١٤ مخ ٥٩٢؛ بحار الانوار ټوک ٥٢ مخ ٣٣٤؛ اثبات الهدی مخ ٥١٧.

په شان مزبوط او مطيع ځواک ؤ چې په هغوی کې هرکس د څلويښتو کسانو طاقت لري. د هغوی زړونه له اوسپنې زيات محکم دي او که له غرونو سره تير شي نو غټې غټې کاڼې به ولړزوي تر هغه وخته پورې به توري په لاس ګرځوي تر څو چې پکښې د خدای رضا شامله وي.[1]

امام زين العابدين عليه السلام په دې اړه فرمايي: کله چې امام مهدي ظهور وکړي نو الله تعالی له مونږ شيعيانو سستي او کمزورتيا ليرې کوي او دهغوی زړونه لکه د اوسپنې مزبوتوي اوپه هغوی کې هر يو ته د څلويښتو کسانو طاقت ورکوي او هغوی په زمکې کې دحکم ورکوونکي او قوماندانان جوړيږي.[2]

امام صادق عليه السلام فرمايي: د امام مهدي په حکومت کې زمونږ شيعه په زمکې حاکمان او بزرګان وي او هر يو به د څلويښتو کسانو برابر طاقت درلودي.[3]

امام باقر عليه السلام فرمايي: زمونږ د شيعيانو په زړونو کې نن لړه ويره شته خو کله چې زمونږ مهدي پاڅون وکړي نو زمونږ هر يو شيعه به له زمري زيات زړه ور او له تورې زيات تيز وي. هغوی به زمونږ دښمنان تر پښو لاندې کوي او په لاسونو سره به يې راکاږي.[4]

عبدالملک بن اعين وايې: کله چې د امام باقر عليه السلام له خدمته رخصت شوم نو په لاس مې تکيه ولګوله او په دې فکر کې مشغول شوم او ارمان مو کاوۀ چې د امام مهدي د پاڅون په وخت کې ځوان وای (يعني طاقت مې زيات وای ) نو امام راته وويل چې ايا ته په دې خوشحاله نه يې چې ستاسو دښمنان يو بل ووژني او تاسو په خپلو کورونو کې په امن سره ناست وئ؟ بيا يې زياته کړه چې که امام ظهور وکړي نو تاسو هر يو ته به د څلويښتو کسانو برابر طاقت درکولی شي او ستاسو زړونه به د اوسپنې د ټوټو په شان مزبوط شي داسې که چيرې په هغو زړونو سره غرونه ووهئ نو غرونه به دوه نيمه شي او تاسو به په زمکه کې لاربښودان او امانتداران وئ.[5]

امام صادق عليه السلام فرمايي: زمونږ د امام مهدي د ظهور د رارسيدو په مهال، الله تعالی زمونږ له شيعه ؤ زړونو ويره ليرې کوي، او د اهل بيتو د دښمنانو په زړونو

---

[1] . کمال الدن ټوک ۲ مخ ۶۷۳ ؛ بحارالانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۱۷ او ۳۲۷ .

[2] . کمال الدن ټوک ۲ مخ ۶۷۳ ؛ بحارالانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۱۷ او ۳۲۷ او ۳۷۲؛ ينابيع الموده مخ ۴۲۴ ؛ اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ۵۵۷؛ احقاق الحق ټوک ۱۳ مخ ۳۴۶.

[3] . مفيد اختصاص مخ ۲۴ ؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۷۲.

[4] . مفيد اختصاص مخ ۲۴ ؛ بصاير الدرجات ټوک ۱ مخ ۱۲۴؛ ينابيع الموده مخ ۴۴۸ او ۴۸۹؛ اثبات الهدی ټوک ۳ مخ ۵۵۷؛ بحار الانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۱۸ او ۳۷۲.

[5] . کافي ټوک ۸ مخ ۲۸۲؛ بحارالانوار ټوک ۵۲ مخ ۳۳۵.

کې يې اچوي، هغه مهال زمونږ هر يو شيعه له زمري زيات میړانې او له تورې زيات تيزېږي يو شيعه به خپل دښمن په نيزې سره په نخښه کوي په تورې سره به يې وهي او تر پښو يې لاندې کوي.[1]
همدارنګ هغه حضرت فرمايي: د امام مهدي ملګري او ياران داسې کسان دي چې د هغوی زړونه له اوسپنې زيات محکم او ټينګ دي د الله تعالی په اړه د هغوی په زړونوکې هيڅ ډول شبهه يا شک نه راځي دهغوی زړونه پياوړي دي که هغو ته څه دنده وسپارل شي نو وربانديې عمل کوي که څه د غرونو ځای په ځای کول ولی نه وي او که د يو ښار د ختمولو يا ورانولو حکم ورته ورکړی شي نو هغه ورانوي د کار د زر په تر سره کولو کې لکه دعقاب په شان دي چې په اسيانو ناست دي.[2]

۱ . خرايج ټوک ۲ مخ ۸۴۰؛ بحار الانوار ټؤک ۵۲ مخ ۳۳۶.
۲ . بحار الانوار ټؤک ۵۲ مخ ۳۰۸.